د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
مسلم پوهنتـــون
د څېړنې او علمي مجلې معاونيت

# مسلم علمي - څېړنيزه مجله

## په دې ګڼه کې:

- د افغانستان شمال-جنوب د ترانزېټ مسير ننګونې او فرصتونه.
- د دندې څخه د کارکوونکو رضايت او پر سازماني کړنو يې اغېز.
- شرايط و احكام سرمايه گذارى خارجى در پرتو شريعت.
- په غزني ولايت کې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ننګونې او فرصتونه.
- نقش خشنودى شغلى بر عملكرد كارمندان ادارى.

کال: ۱۴۰۵ لمريز
۱۴۴۷ قمري
لومړۍ ګڼه (۱)

مسلم علمي - څېړنيزه مجله
کال: ۱۴۰۵ لمريز ۱۴۴۷ قمري
لومړۍ ګڼه (۱)

Islamic Emirate of Afghanistam
Ministry of Higher Education
Muslim University
Vice Chancellor for Research and Academic Journal

# Muslim Scientific- Research Journal

## In this issue:

- Afghanistan on the North-South transit Route, Challenges and Opportunities.
- The Impact of Employee Satisfaction on Organisational Performance.
- شروط وأحكام الاستثمار الأجنبي في ضوء الشريعة.
- Challenges and Opportunities of Small and Medium Businesses in Ghazni Province.

Year: 2026
Issue (1)

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

مسلم پوهنتون

د څېړنې او علمي مجلې معاونیت

# مسلم علمي ـ څېړنیزه مجله

کال: ۱۴۰۵ لمریز. ۱۴۴۷ قمري

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مسلم پوهنتون د عمومي رئيس پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

د علم، پوهې او څېړنو درنو مينهوالو ته!

په ډېرې خوښۍ سره د *مسلم علمي ـ څېړنيزې مجلې* نوې ګڼه ستاسو درنو لوستونکو او د هيواد علمي ټولنې ته وړاندې کوو. دا مجله د علمي څېړنو د پراختيا، د پوهې د تبادلې او د څېړنيزو فعاليتونو د پياوړتيا په موخه خپرېږي، څو زموږ د هيواد استادان، محصلين او څېړونکي وکولای شي خپلې علمي څېړنې او تجربې له نورو سره شريکې کړي.

موږ باور لرو چې علمي څېړنه د ټولنې د پرمختګ بنسټ جوړوي او د همدې اصل پر بنسټ هڅه کوو چې د لوړ کيفيت، معياري او نوښتګرو څېړنو لپاره مناسب چاپېريال برابر کړو. مسلم علمي ـ څېړنيزه مجله د همدې هڅو يوه څرګنده بېلګه ده چې د ملي او نړيوالو علمي معيارونو په رعايت سره ترتيب او خپرېږي.

زه له ټولو درنو ليکوالانو، څېړونکو او همکارانو څخه مننه کوم چې د خپلو ارزښتناکو مقالو په لېږلو سره يې د دې مجلې د بډاينې په برخه کې درلودلی. همدارنګه د مجلې له تحرير او کتنپلاوي هيئتونو څخه د هغوی د نه ستړې کېدونکو هڅو قدرداني کوم.

هيلمن يم چې دا مجله د علمي ودې، فکري پرمختګ او ټولنيز پوهاوي په برخه کې ګټور ګام ثابت شي.

**د مسلم پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي ـ څېړنیزه مجله**

**د امتیاز خاوند:** مسلم پوهنتون

**سردبیر:** **پوهنمل ضیاءالرحمن مشک عالم زی**

**مسئول مدیر:** **ماستر حفیظ الله حکیمي**

**وراستار:** **استاد محمد گل کوچی**

**د چاپ کال:** **۱۴۰۵ هجري لمریز**

**د چاپ ګڼه:** **لومړی ګڼه**

**د چاپ شمېر:**

**چاپځای**

**ایمیل آدرس:** research@muslimuniversity.edu.af

په دې مجله کې درج شوې نظریې او لیدلوري لازماً د مسلم پوهنتون د علمي ـ تحقیقي مجلې نظریات نه دي. د څېړنو معاونیت او د مسلم پوهنتون علمي مجله د منل شویو معیارونو له مخې د مقالو په حذف، بیاکتنه، اصلاح او سمون کې خپلواکه ده. په دې مجلې کې د مطالبو نقل کول د سرچینې په یادولو سره ازاد دي.

**په دې ګڼه کې د مقالو لیکونکي:**

1) نجیب الله امانزی[۱]، پوهنمل سپین ګل مایار[۲]

2) نصیراحمد مایار

3) صمیم سیرت[۱]، پوهنمل عبدالمالک صدیقی[۲]

4) قیس الله قدیری

5) ماستر حفیظ الله حکیمي

6) نامزد پوهنیار ضیاالحق سادات

7) ماستر عبدالسلام اکسیر

8) سید احمد ګوهر

9) الحاج مفتی محمد رفیق توکلی

10) عالم خان احمدي

11) ماستر فریدالله لعل زی

12) نصیراحمد مایار[۱]، پوهندوی دوکتور همایون غفورزی[۲]

## فهرست

**د مقالو نوملړ** **مخ**

**د افغانستان شمال-جنوب د ترانزېټ مسیر ننګونې او فرصتونه........................................... ۱**

نجیب الله امانزی، پوهنمل سپین ګل مایار

**د دندې څخه د کارکوونکو رضایت او پر سازماني کړنو يې اغېز ............................... ۳۵**

نصیراحمد مایار

**مسئوولیت اخلاقی هوش مصنوعی.................................................................... ۴۹**

صمیم «سیرت»، پوهنمل عبدالمالک «صدیقی»

**مبانی حقوق دفاعی مظنون و متهم از منظر شریعت اسلام، اسناد ملی و بین المللی............. ۶۱**

قیس الله قدیری

**نقش خشنودی شغلی بر عملکرد کارمندان اداری پوهنتون هرات.................................... ۷۳**

نامزد پوهنیار ضیاالحق سادات

**په افغانستان کې د پانګونې پر چاپېريال د سیاسي عواملو اغېزې.............................. ۸۹**

عبدالسلام اکسیر

**د اسیا د مالي څواک ډېرېدل او د نړۍ په مالي نظام يې اغېزې.................................. ۱۰۳**

سید احمد ګوهر

**شرایط و احکام سرمایه گذاری خارجی در پرتو شریعت........................................... ۱۱۷**

الحاج مفتی محمد رفیق توکلی

**په ټولنیز ژوند کې د ماشومانو حقونه.................................................................... ۱۳۷**

عالم خان احمدي

**د آنلاین پېر په اراده او تصمیم باندې د درک شوي ګواښ تاثیر څېړنه.........................۱۵۳**

نصیراحمد مایار ، پوهندوی دوکتور همایون غفورزی

**په غزني ولایت کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ننګونې او فرصتونه........................ ۱۸۱**

فریدالله لعل زی

**۱۹۷............(The Role of Human Resource Management in Economic Development)**

Hafizullah Hakimi

**د مسلم پوهنتون د علمي څېړنيزې مجلې علمي تشکيلات**

- پوهنمل دوکتور ضياءالرحمن مشک عالم زی، سردبير
- ماستر حفيظ الله حکيمي، مسؤل مدير

**تحرير هيئت**

1) پوهندوی عين الله کريمي؛

2) پوهنوال روح الله نجم؛

3) پوهندوی حميدالله نوري؛

4) ماستر عبدالسلام اکسير؛

5) پوهنمل عبدالرحمن درد؛

6) پوهنيار حکمت الله ملکي؛

7) پوهنمل وحيدالله آمين؛

8) پوهنيار شمس الرحمن شمس؛

## سریزه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ.

**اما بعد**

په ډېر ویاړ او خوښۍ سره د *مسلم علمي ـ څېړنیزې مجلې* لومړۍ ګڼه د هیواد ټول علمي کهول په ځانګړې توګه استادانو، څېړونکو او زده کړیالانو ته وړاندې کوو. دا مجله د افغانستان د لوړو زده کړو محترم وزارت د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست سره په (RCTD-PNJR-0074-25) شمېره د ۱۴۰۴/۰۲/۰۹ لمریز کال نېټې له مخې ثبت او راجستر شوې ده، چې له آره د ټولنیزو علومو (اقتصاد، حقوق او سیاسي علومو) په برخه کې خپرونې کوي. د دې ژورنال بنسټیزه موخه د ټولنیزو علومو په ټاکل شوو ځانګو کې د استادانو، څېړونکو او زده کړیالانو د علمي څېړنو د پایلو خپرول، د څېړنیز فکر وده او د علمي تولیداتو پیاوړتیا لپاره د غوره چاپېریال رامنځته کول دي. همدارنګه، هڅه کېږي چې د علمي څېړنو له لارې د ټولنې اساسي ستونزې وپېژندل شي او د هغو لپاره پر علمي بنسټ ولاړې، عملي او اغېزمنې حل لارې وړاندې شي.
په اوسني علمي بهیر کې، څېړنه د پرمختګ، نوښت او پالیسۍ جوړونې اساسي رکن ګڼل کېږي. له همدې امله، *مسلم علمي ـ څېړنیزه مجله* ژمنه ده چې د علمي معیارونو، اکاډمیکو اصولو او منل شوو څېړنیزو میتودولوژیو په رڼا کې باکیفیته مقالې خپرې کړي. په دې ژورنال کې د ټولنیزو علومو ټولې هغه څېړنې په چاپي او آنلاین بڼه خپرېږي چې د علمي څېړنې له اصولو سره سمې، نوښتګرې او معیاري لیکل شوې وي.
د مسلم علمي ـ څېړنیزې مجلې د لومړۍ ګڼې خپرېدل یوازې د یو علمي اثر پیل نه، بلکې د یو اوږدمهاله علمي خوځښت بنسټ ایښودل دي. موږ هڅه کړې چې د مقالو د ارزونې په بهیر کې د ملي او نړیوالو علمي معیارونو په نظر کې نیولو سره د رښوالي، بې‌طرفۍ او علمي دقت اصول په جدي ډول رعایت کړو، څو لوستونکو ته باوري او ارزښتناک علمي مطالب وړاندې شي.
په پای کې، د ټولو هغو درنو لیکوالانو، ارزوونکو او د تحریر د پلاوي له غړو څخه د زړه له کومې مننه کوو چې د خپلو نه ستړې کېدونکو هڅو له لارې یې د مسلم علمي ـ څېړنیزې مجلې د لومړۍ ګڼې په چمتو کولو کې ونډه اخیستې ده. هیله ده چې دا مجله به د علمي څېړنو د ودې، فکري پرمختګ او د ټولنې د ستونزو د علمي حل په برخه کې اغېزمن او دوامدار رول ولوبوي.

**په درنښت**

**عبدالسلام اکسیر**

**د څېړنې او علمي مجلې مرستیال**

د مسلم پوهنتون علمي ـ څېړنیزه مجله
مجلـهٔ علمی-تحقیقی پوهـنتون مسلم
د مقالې ترلاسه کولو نېټه( ۰۵ /۱۴۰۴/۰۷) لمریز
د مقالې د آنلاین نشر نېټه(۲۰/ ۱۲ / ۱۴۰۴) لمریز

# د افغانستان شمال-جنوب د ترانزیټ مسیر ننګونې او فرصتونه

**نجیب الله امانزی[۱]، پوهنمل سپین ګل مایار[۲]**
۱. د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی استاد، کاروان پوهنتون، کابل، افغانستان
۲. مالي او بانکي چارو ډیپارټمنټ، اقتصاد پوهنځی، البیروني پوهنتون استاد، کاپیسا، افغانستان
ایمیل: takall.ps09@gmail.com

## لنډیز

افغانستان چې د آسیا د زړه په توګه پېژندل کیږي، د مرکزي آسیا، د آسیا د جنوب، د لوی منځني ختیځ او د آسیا د ختیځ (چین) د سیستمونو تر منځ یې یو پیچلی متقابل تړاو رامنځته کړی او د اقتصادي-ترانزیتي څلورلاري حیثیت یې ترلاسه کړی دی او د انرژۍ د پلور نړیوالو بازارونو ته د مرکزي آسیا ارزانه مسیر ګڼل کیږي، په همدې دلیل د شمال-جنوب د ترانزیټ طرح رامنځته شوې او افغانستان د دې طرحې په مسیر کې واقع شوی دی. دا څېړنه د دغه ننګونو او فرصتونو د بررسی او موندنې په موخه ترسره شوې ده چې د نوموړې طرحې په رامنځ ته کېدلو او د یادې طرحې په مسیر کې د افغانستان په واقع کېدلو سره، دې هېواد ته کومې ننګونې او کوم فرصتونه رامنځ ته شوي دي. دا څېړنه د توصیفي-تحلیلي تګلارې پر بنسټ ترسره شوې، د څېړنې پایلې او موندنې دا څرګندوي چې د نوموړې طرحې په رامنځته کېدلو سره د سیمې او نړۍ لوی ځواکونه هڅه کوي چې د مرکزي آسیا د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي په پار د افغانستان له جیوپولیټیک او جیواکانومیک موقعیت څخه په ګټې پورته کولو سره؛ نوموړو سرچینو ته لاسرسی و مومي او د سیالو لوبغاړو لاس‌رسي محدود او تر فشار لاندې راولي، د یادو سیالیو په لړ افغانستان له یوې خوا له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ سره مخ شوی او له بلې خوا همدې طرحې د هېواد لپاره اقتصادي او سیاسي-امنیتي فرصتونه هم رامنځ ته کړي دي.

**کلیدي ټکي:** افغانستان؛ ترانزیټ؛ جیواکانومي؛ جیوپولیټیک؛ جیوستراتیژي؛ ننګونې او فرصتونه.

# Afghanistan on the North-South transit Route, Challenges and Opportunities

Najibullah Amanzai[1], Spingul Mayar [2]

1 .Political Science & International Relations Department, Law & Political Science Faculty, Karwan University, Kabul, Afghanistan

2. Finance Department, Economic Faculty, Alberoni University, Kapisa, Afghanistan.

Email: takall.ps09@gmail.com

## Abstract

Afghanistan, which is the Heart of Asia, has achieved a complex interdependence and status as an economic-transit crossroads between four regional systems (Central Asia, South Asia, the Greater Middle East, and East Asia “China”), the countries of Central Asia are landlocked, lack access to free water and international markets for energy sales, which is why the North-South Transit Initiative has been created and Afghanistan is located on the route of this initiative. Thus, this study was conducted to probe and identify the problems and opportunities that the North – with the establishment of the Southern Transit Project and the location of Afghanistan along the route of the project, what problems and opportunities have arisen for this country. This study was conducted based on a descriptive-analytical approach. The results and findings of the study confirm the hypothesis that with the emergence of this plan, major regional and global powers are trying to exploit Afghanistan's unique and sensitive geopolitical, geoeconomical and geostratigical location in order to gain access to the energy resources of Central Asia, by taking advantage of its geoeconomic and geostrategic location, it gains access to these resources and limits and pressures the access, presence, and influence of rival players in this region. As a result of this competition, Afghanistan has faced political and security instability on the one hand and on the other hand, this plan has also created opportunities for the country's political-security stability and economic growth.

**Keywords:** Afghanistan|, geoeconomy, geopolitics, geostrategy, opportunities, Challenges and transit.

## ۱ـ سریزه

افغانستان یو بې ساری او بې بدیله جیوپولیتیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت لري چې د آسیا د زړه په توګه پیژندل کیږي او څلور سیمییز سیتمونه (لوی منځنی ختیځ، مرکزي آسیا، د آسیا ختیځ او د آسیا جنوب) یې یو له بل سره تړلي دي چې خپل ارزښت یې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې له همدې بې ساري او بې بدیله موقعیت څخه ترلاسه کړی دی او د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو جیو پولیټیکي او جیوستراتیژیکي موخو په توګه د نړی د لویو ځواکونو د توجه په مرکز کې واقع شوی دی.

افغانستان د لارې په داسې یوه تقاطع کې واقع شوی دی چې د نړی زړه، د هند له شبه قارې سره نښلوي، دا هیواد خپل اهمیت له موقعیت څخه ترلاسه کوي، داسې موقعیت چې د وچې او سمندر سره مرز لري او په تاریخ کې د نړی د لویو ځواکونو ترمنځ د ټکر نقطه وه، مغول او مقدوني سکندر لدې لارې تېر شوي او په نولسمه میلادي پېړۍ کې د روسانو او انګلیسانو ترمنځ ستره لوبه همدلته ترسره شوې ده، په شلمه میلادي پېړۍ کې هم افغانستان د دوه لویو نړیوالو ځواکونو ترمنځ سرحد ؤ، د منځنۍ آسیا د جمهوریتونو له آزادۍ او خپلواکۍ سره سم چې دا ټول هېوادونه له آزادو اوبو څخه لیرې پراته دي، افغانستان د سیمې، ستراتیژیک محور ګرځېدلی دی.

دا چې افغانستان د انرژۍ د بډایه سیمو سره تر څنګ پروت دی او له سړې جګړې څخه وروسته د لویو ځواکونو ترمنځ اقتصادي سیالۍ زور واخیست، د سپټمبر د یولسمې نېټې له پېښې سره سم، متحده ایالاتو او ناټو په افغانستان یرغل وکړ او دا هېواد یې اشغال کړ، تر څو د نورو موخو ترڅنګ په لوی منځني ختیځ کې د چین، ایران او روسیې د پرمختګ او نفوذ مخنیوی وکړي او په مرکزي آسیا، د آسیا جنوب او د آسیا په ختیځ کې انرژۍ او د هغه په پیر او پلور کې واک او نفوذ ترلاسه او اقتصادي دهلیزونو جوړ کړي، نو په دې توګه د امریکا متحده ایالاتو هڅه کوله ترڅو د افغانستان له جیوپولیټیکي-جیواکانومیکي موقعیت څخه په ګټه پورته کولو سره چې د نوموړو سیمو د فتحې او نفوذ د کلي په توګه پېژندل کیږي، د چین، ایران او روسیې له پرمختګ څخه مخنیوی وکړي او انرژۍ ته د لاسرسي په موخه واک او نفوذ تر لاسه کړي او له خپلو ګټو سره سم اقتصادي دهلیزونه جوړ کړي، چې په پایله کې له ماتې سره مخ شول او اشغال ختم شو، ولې اوس هم هڅه کوي؛ افغانستان د همدې جیوپولیټیکي-جیواکانومیکی موقعیت د ارزښت له مخې تر خپل کنترول او نفوذ لاندې ولري، ترڅو لدې لارې خپلو موخو ته ورسیږي.

افغانستان د خپل بې ساري او بې بدیله جیوپولیټیکي-جیواکانومیکي موقعیت، طبیعی زیرمو او شتمنیو له مخې د اقتصادي څلورلاري او د انرژۍ په بازار د بدلیدلو ظرفیت او وړتیا لري او همدارنګه بې ساري فلزي، منرالي او هایدروکاربني معدنونه لري، چې لدې کبله د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د سیمې او نړۍ د لویو ځواکونو لخوا د یرغل او لاسوهنې موخه ګرځېدلی او د هېواد د سیاسي-امنیتي ثبات،

اقتصادي ودې او پراختیا په وړاندې یې بې شمېره ګواښونه او ننګونې رامنځ ته کړي او له بېلابېلو بحرانونو سره یې لاس او ګرېوان کړی دی، پدې پړاوونو کې افغانستان د کمزورو او لاسپوڅو سیاسي نظامونو له کبله و نشو کولای چې د خپل بې ساري او بې بدیله جیوپولیټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت په وړاندې ننګونې او ګواښونه په فرصتونو بدل او هېواد د سیاسي ثبات، پرمختګ او رفاه په لور سوق کړي.

پدې توګه د افغانستان د جیوپلیټیک او جیو اکانومیک موقعیت، د انرژۍ په بازار د بدلېدلو د ظرفیت او په همدې دلیل په افغانستان کې د سیمې او نړۍ د لویو ځواکونو د سیالۍ او رقابت په اړه یو لړ څېړونکو لکه: پیشګاهي‌فرد او رحیمي (١٣٨٧). په «جایگاه افغانستان در ژئو استراتیژي نظام نوین جهاني» نومې مقاله، حمیدي نیا او صالحي دولت آباد (١٣٩۴). په «انرژي عرصه بازی بزرگ جدید در آسیای مرکزی: مطالعه موردی روسیه، آمریکا و چین» نومې مقاله، ودادي کلانتر، سیف الدین او حاجي نژاد (١٣٩٨). په «بررسي رفتار پاکستان و هند در قبال دو خط لوله تاپی و صلح با رویکرد نظریه ای بازی ها» نومې مقاله، بایی لاشکی او عزتی (١٣٩٣). په «تاپی (خط لوله گاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند؛ زمینه های ایجاد و موانع پیش رو» نومې مقاله او امیراحمدیان (١٣٨٧). په «حمل ونقل و ترانزیت در آسیای مرکزي» نومې مقاله کې څېړنې ترسره کړې دي چې په ټولیزه توګه پورته ذکر شوي موضوعات پکې څېړل شوی او د شمال-جنوب د ترانزیت د طرحې له کبله افغانستان ته وړاندې سیاسي-امنیتي او اقتصادي ننګونې او فرصتونه یې نه دي څېړلي، نو پدې توګه د دې څېړنې موخې په علمي توګه د هغه موضوعاتو او لاملونو را برسیره کول او پېژندل دي چې له امله یې هېواد په (١٩٩٠) میلادي لسیزه کې د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره، د هیواد جیوپولیټیکی-جیواکانومیکي او سیاسي – امنیتی وضعیت ته په کتلو سره، له ننګونو سره لاس او ګرېوال شوی دی، یا په بل عبارت کومې ننګونې او ګواښونه چې د اقتصادي او سیاسي – امنیتی ابعادو له اړخه د نوموړې طرحې په رامنځ ته کېدلو سره د هیواد په وړاندې را ټوکېدلې دي، د بنسټیزه موخې په توګه څېړل شوې دي. همدارنګه د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې له امله هېواد ته د وړاندې ننګونو تر څنګ د یادې طرحې د هغه فرصتونو مطالعه او بررسي چې د اقتصادی او سیاسي-امنیتي ابعادو له اړخه د هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او رفاه په لار کې رامنځ ته شوي دي؛ په دې مقاله کې د دې څېړنې د یوې بلې بنسټیزه موخې په توګه تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي دي.

له دې مخې د څېړنې پوښتنه داده چې د شمال – جنوب د ترانزیټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو او د یادې طرحې په مسیر کې د افغانستان په واقع کېدلو سره، دې هېواد ته کومې ننګونې او فرصتونه رامنځ ته شوي دي؟ چې پدې څېړنه کې د یادې موضوع اهمیت ته په کتلو سره د څېړنې د پوښتنې د ځواب په موخه د شمال-جنوب د طرحې په رامنځ ته کېدلو او د دې طرحې په مسیر کې د افغانستان په واقع کېدلو سره د هېواد په وړاندې یو لړ سیاسی-امنیتی او اقتصادي ننګونې، ګواښونه او فرصتونه تر بحث او څېړنې

لاندې نیول شوي، ترڅو دا ستونزې او فرصتونه په علمي، دقیقه او هر اړخیزه توګه و څېړل شي؛ د ننګونو لپاره د حل لارې او د فرصتونو لپاره زمینه چمتو کړل شي.

## مفاهیم

په دې برخه کې هغه اساسي او بنسټیز مفاهیم چې پدې څېړنه کې کارول شوي دي، د لا ښه وضاحت او پوهاوي په موخه تر بحث لاندې نیول شوي دي.

**A) د جیوپولیټیک مفهوم**

جیوپولیټیک په نړیوال سیاست او نړیوالو اړیکو کې ټاکونکې ونډه لري او د جیوپولیټیک اصطلاح له دوه برخو څخه جوړه شوې؛ چې «جیو» د ځمکې په معنی او «پولیټیک» د سیاست په معنی دی. د آشوري سیاسي دانشنامه؛ جیوپولیټیک د سیاسي جغرافیا او د سیاست د علم ترکیب بولي (آشوري، ۱۳۷۳: ۱۸۲). د محمود طلوعی په باور له دې اصطلاح څخه موخه: « د یو هېواد د جغرافیایي موقعیت او تر ځمکه لاندې سرچینو اړیکه، د دې هېواد له وضعیت او سیاسي موقعیت سره ده (طلوعی، ۱۳۷۲: ۵۱۷). داکتر میرحیدر دره، د جیوپولیټیک یو نوی تعریف داسې وړاندې کوي: «جیوپولیټیک د نړیوال سیاست په اړه د ځواک او فکر د څښتنانو د نظر او لیدلوري تګلاره او په ملي او سیمییزه کچه پر سیاسي پرېکړو د دوی اغېزه ده (دره، ۱۳۷۷: ۲۲).

**B) د جغرافیایي موقعیت مفهوم**

جغرافیایي موقعیت د ځمکې په سطح د یوې نقطې د واقع کېدلو څرنګوالی ته ویل کیږي، موقعیت عمومي یا نسبي او خصوصي یا ریاضکي حالتونه لري. په جیوپولیټیک کې عمدتاً نسبي موقعیت چې په دریو (سیمییزه، لویه وچه او نړیواله) سطحو وېشل کیږي، په نظر کې نیول کیږي. د یو هېواد د ګډون کچه په نړیوالو مسائلو کې له جغرافیایي موقعیت سره تړاو لري. که چېرې یو هېواد د یو مناسب موقعیت څخه برخمن وي، کولای شي خپل ملي امنیت په غوره توګه تأمین کړي. هغه هېواد چې ستراتیژیک موقعیت ولري هېڅکله نشي کولای چې له نړیوالو بدلونونو څخه خپل ځان لیرې وساتي (عزتي، ۱۳۸۲، ۲۲-۱۸). د جغرافیایي موقعیت د ډولونو په اړه د سمندري (ساحلي، حاشیه‌یي یا جزیره‌یي) موقعیت، مرکزي (محوري) یا د وچې موقعیت او د ستراتیژیک موقعیت مواردو ته اشاره کولای شو.

**C) د جیواکونومي مفهوم**

په نړۍ کې ځانګړې جغرافیایي نقطې شتون لري چې د یو هېواد تسلط او واک پدې نقطو باندې په ځانګړې توګه د ځواک او شتمنۍ لامل کیږي. په یوویشتمه پېړۍ کې د نظر خاوندان وایي چې جیواکونومي پر جیوپولیټیک لوړتیا او تفوق لري (عزتی، ۱۳۸۲: ۲۱۵). جیو اکانومي د جیوپولیټیک او د جیوپولیټیکي سیمو د سنتي مفهوم له بدلون سره د یو هېواد د ځواک موندنې او د اقتصادي لامل ونډه او اغېزه یې په نړیوال نظام کې را برسېره کړې ده. د جیواکانومۍ پر بنسټ ستراتیژي جوړونه د دولتونو لپاره د سیاسي وسایلو په توګه ګڼل کیږي، د جیواکانومي اصلي موخه؛ د هېوادونو کنترول او فزیکي

ځواک ته لاسرسی ندی؛ بلکه د فن آورۍ او سوداګرۍ لوړتیا ته لاسرسی دی چې په پایله کې د هژموني ځواک نوی ډول د اقتصادي ځواک په چوکاټ کې، په نړیواله کچه رامنځ ته کوي (عزتي، ۱۳۸۰: ۱۰۶) او پدې بنسټ اقتصادي مسائل پدې برخه کې ډېر اهمیت ترلاسه کوي.

**D) د جیوستراتیژۍ مفهوم**

جیوستراتیژي په جغرافیایي فضا کې د یو سیاسي اقدام تګلاره ده، پېروز مجتهدزاده جیوستراتیژي داسې تعریفوي: «جیوستراتیژي د جغرافیایي، سیمییز او نړیوال چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو د اغېزې مطالعه د حکومتونو پر سیاسي تصمیم ګیرۍ او د هېوادونو متقابلې اغېزې په سیمییزو او نړیوالو ابعادو کې او د قدرت په سیاستونو له اغېزې څخه عبارت ده (مجتهدزاده، ۱۳۷۶: ۱۲۲). عزتی جیوستراتیژي داسې تعریف کړې ده: «جیوستراتیژي په حقیقت کې د یوې ستراتیژۍ او جغرافیایي چاپېریال تر منځ د اړیکو د کشف له علم څخه عبارت ده (عزتي، ۱۳۸۲: ۱۳۷). حافظ نیا جیوستراتیژي د جیوپولیتیک او ستراتیژۍ ترمنځ د اړیکو علم ګڼي (حافظ نیا، ۱۳۸۱: ۴۹). جیوستراتیژي د جغرافیایي عناصرو او ستراتیژۍ تر منځ اړیکې بررسي کوي (رفیع، ۱۳۸۷: ۱۰۶).

**I. د څېړني نظري چوکاټ**

د دې څېړنې موضوع «افغانستان د شمال-جنوب د ترانزیت مسیر؛ ننګونې او فرصتونه» د متقابل تړاو او د جیوپولیټیکي نظریاتو پر بنسټ تحلیل او بررسي شوې ده، د دې نظریاتو پر بنسټ کولای شو دا مسئله په غوره توګه حل او داسې لارې چارې په ګوته کړو چې افغانستان ته لدې مسئلې څخه وړاندې ننګونې او ګواښونه په فرصتونو بدل او هېواد د سیاسي-امنیتي ثبات، ودې، پرمختګ او پراختیا په لور سوق کړو. دا نظریات د نورو نظریاتو په پرتله د افغانستان اوسني او تېر وضعیت او بدلونونو ته په کتلو سره داسې مهم ټکي لري چې پر بنسټ یې د څېړنې مسئله په غوره توګه حل کېدلای شي.

**II. د متقابل تړاو نظریه**

د متقابل تړاو نظریه له (۵۰) مې میلادي لسیزې څخه تر (۹۰) مې میلادي لسیزې پورې د څلورو لسیزو په لړ کې د هارولډ کلي او جان ټیاد په وسیله رامنځ ته او پراخه شوې ده، د دې نظریې لومړنی جوړښت د ټولنیز تبادل له نظریې او د لوبې له نظریې سره یوځای رامنځ ته شوی او ځینې لومړني مفروضات یې یو له بل سره ګډ دي، د دې نظریې په بنسټ د متقابل تړاو جوړښت تحلیل او تجزیه شوی دی، د تعاملاتو، اړیکو او د متقابل تړاو د پروسې مهمې ځانګړتیاوې یې په ګوته کړې دي او د جوړښت اغیزه یې په انګېزو او تګلارو شرح کړی دی.

د متقابل تړاو په اړه د بحثونو پیل له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته پیلیږي چې د فن آورۍ او ټکنالوژۍ د رامنځ ته کېدلو او ودې سره سم د دولتونو تر منځ یې متقابلې اړیکې رامنځ ته کړې او اقتصادي لاملونو حتی د پروني دښمنانو تر منځ متقابل تړاو او اړیکې رامنځ ته کړې دي، که په ساده توګه ووایو؛ هغه څه چې د دې مفهوم تر شا پراته دي؛ دا دي چې دولتونه او ټولنې د هغه پېښو او تګلارو په پرتله چې په نورو هېوادونو کې رامنځ ته کیږي، زیان منونکي دي او د یو هېواد د اقتصادي ودې او

سياسي ثبات، وړاندې شرط ګڼل کيږي چې نور هېوادونه هم لدې ورته شرايطو څخه ګټه واخلي (وحيدی راد، ۱۳۹۲: ۵-۶).

د هېوادونو تر منځ متقابل تړاو دوه اړخونه لري؛ زيان منه او حساسيت؛ حساسيت د دولتونو د حساس والی درجه په نورو دولتونو کې د بدلونونو او پېښو په وړاندې څرګندوي او زيان منه د هغه لګښتونو وېش ته ګوته نيسي چې د هغه په بنسټ دولتونه د دې بدلونونو او پېښو په وړاندې د غبرګون له امله يې زغمي (قوام، ۱۳۹۰: ۳۸). حساس ترين لوبغاړي له تړاو څخه د تېښتې هڅه کوي او ډېر زيان منونکي دولتونه د دې تړاو د پياوړتيا لپاره کار کوي (Remizov, 2013: 4). پدې توګه د متقابل تړاو د نظريې بنسټيز مفاهيم عبارت دي له: «متقابل تړاو، ځواک (قدرت)، لګښت (هزينه)، حساسيت، زيان منه، نيږدې والی (تقارن) او لېرې والی (عدم تقارن).

د انرژۍ د توليدکوونکو، صادرونکو، ترانزيت کوونکو او مصرف کوونکو هېوادونو ټولګه د متقابل تړاو په شبکه کې قرار لري او د نړيوالې انرژۍ جوړښت اصولاً د همدې وضعيت د ملاتړ په پار رامنځ ته شوی دی او هريو لدې ټولګې څخه د هرې پېښې له امله چې هر چېرې او هر وخت په عرضه او تقاضا کې رامنځ ته شي؛ زيان منونکي دي، د انرژۍ په حوزه کې خپلواکي د نورو ناپېيلو سياستونو په توګه د ډېر لګښت ورکړه، د انعطاف نه منل او په پايله کې د انرژۍ د امنيت نه شتون د عرضې د ګډوډېدو پرمهال، رامنځته کوي، له هرې سوداګريزې اړيکې سره چې د انرژۍ د يوې سرچينې د توليد يا سوداګرۍ په وسيله په نړيواله کچه رامنځ ته کيږي، هېوادونه سوداګريزې اړيکې ترلاسه کوي، د نړۍ د ټولو هېوادونو له ټولګې څخه، هېڅ هېواد هم د انرژۍ په حوزه کې خپلواک ندی، البته سره له دې چې د انرژۍ په عرضه کې ذاتي شخړې او ګډوډۍ شتون لري، ولې د انرژۍ سوداګري په نړۍ کې په ښه توګه ترسره کيږي.

په سيمييزه او نړيواله کچه، په ځانګړې توګه د مرکزي آسيا سيمه، د انرژۍ د امنيت د تأمين په پار او د ترکمنستان د تمايل له مخې، چې بېلابېلو بهرنيو بازارونو ته د لاسرسي لپاره يې د طبيعی ګازو او نفتو د لېږد د مسيرونو د پراختيا او له روسيې سره د تړاو د کمولو هوډ لري، افغانستان يې له ترکمنستان او د سيمې او نړۍ له نورو هېوادونو سره د انرژۍ او په ځانګړې توګه د طبيعي ګازو او نفتو په برخه کې د متقابل تړاو په شبکه کې واقع کړی دی، چې له دې امله افغانستان ته يو لړ اقتصادي او سياسي-امنيتي فرصتونه په لاس ورځي او ترڅنګ يې افغانستان له يولړ سياسي-امنيتي، ګواښونو، ننګونو او ستونزو سره هم مخ کړی دی.

### III. جيوپوليټيکي نظريات

جيوپوليټيک چې په سياسي اقداماتو د جغرافيايي عناصرو نفوذ او اغيز تر څېړنې لاندې نيسي، په نړيوالو اړيکو کې د واقع ګرايي د تګلارو يوه برخه ده (قاسمي، ۱۳۹۰: ۲۹) د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمه برخه کې جيوپوليټيک د هېوادونو د بهرني سياست په ټاکلو کې د جغرافيايي لاملونو ونډې ته اشاره کوله،

لدې کبله جیوپولیټیک د دې دورې د جوړښت په لومړي سر کې یعنی د (۱۸۷۵) او (۱۹۴۵) کلونو تر منځ د ځواک د ترلاسه کولو د وسیلې په توګه د استعماري ځواکونو د سیالۍ د موضوع په توګه رامنځ ته شو (صفوي و شیخیانی، ۱۳۸۹: ۳) مګر د وخت په تېرېدو سره د جیوپولیټیک؛ جغرافیا محور مفهوم نوي اړخونه پیدا کړل.
د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې جیوپولیټیک د آلفرد تایر ماهان د نظریې له مخې په ښکاره توګه را څرګند شو، نوموړي د سمندري ځواک نظریې ته په اهمیت ورکولو باور درلود؛ هغه ځمکې چې مناسب سمندري موقعیت لري، ځواکمن هېوادونه دي (ملکوتیان، ۱۳۸۳: ۳۸-۳۵)، نوموړي په سمندرونو واک په ځانګړې توګه په ستراتیژیکو تنګیو واک د لویو ځواکونو د شتون لپاره اړین ګڼلو (صفوي و شیخیانی، ۱۳۸۹: ۳).
ماهان لومړی کس ؤ چې پر سمندري ځواک او د امریکا کنټرول د پانامې په نوي جوړ شوي تنګي د ټینګار له مخې یې د امریکا سیاست جوړونه تر اغیز لاندې راوستله، لدې سره باید د هارټلنډ نظریه د جیوپولیټیک د ټولو بحثونو پیلامه وګڼو چې د سرهلفورډ مکیندر له خوا په (۱۹۰۴) کال کې وړاندې او په (۱۹۴۳) کال کې بشپړه شوه، مکیندر د بریتانیا د زیان مننې لامل د هېوادونو ځواکمن توب ګڼلو، مکیندر درې لویې وچې یعنې آسیا، اروپا او افریقا یې نړیواله جزیره ونوموله او مرکزي برخه یې هارټلنډ ونوماوه (صفوي، شیخیاني، ۱۳۸۹: ۴)، همدارنګه یو ساحلي قوس یې د هارټلنډ چارچاپېره چې تر آزادو سمندرونو اوږدېږي، داخلي هلال و نوماوه (ملکوتیان، ۱۳۸۳: ۴۱)، وروسته یې وویل؛ هرڅوک چې په ختیځه اروپا حکومت وکړي، د ځمکې د زړه او دهغه د محوري سیمو حاکم به وي، څوک چې د ځمکې په زړه حاکم شي، د نړیوالې جزیرې فرمانروا به وي او څوک چې په نړیواله جزیره حاکم شو د نړۍ فرمانروا به وي.
مکیندر په (۱۹۴۳) کال کې د لوېدیځ هارټلنډ لمنه د ختیځې اروپا تر سیمو پراخه کړله چې د ایران، افغانستان او مرکزي آسیا لویې برخې او د روسیې مهمې برخې پکې شاملېږي. نیکولاس جان اسپایکمن په مکیندر د نیوکې په پار د ریملنډ نظریه وړاندې کړله (ملکوتیان، ۱۳۸۳: ۵۰)، اسپایکمن د هارټلنډ چارچاپېره برخې چې د داخلي او بهرني هلال په توګه د مکیندر پام وراوښتی ؤ، ریملنډ و نوماوه او دې سیمې ته یې تر هارټلنډ ډېر ارزښت ورکړ، ځکه چې یادې سیمې د سمندر او وچې د ځواکونو د ترکیب امکان منځ ته راوړی دی (عزتي، ۱۳۸۰: ۱۶).

لدې کبله پداسې حال کې چې مکیندر په ځمکني ځواک باور درلود، اسپایکمن د وچې او سمندر د ځواک ترکیب ته ارزښت ورکړ (ملکوتیان، ۱۳۸۳: ۵۱)، د اسپایکمن له نظره، افغانستان د آسیا په زړه کې واقع دی (حکمت نیا، ۱۳۸۳: ۱۰۰).
د شوروي په راپرځېدلو او د سړې جګړې له پای سره سم د نظامي خوځښتونو ارزښت لږ شو او د جیواکانومیک موقعیت د لاسته راوړلو په سر، سیالي رامنځته شوله، پدې توګه منځنی ختیځ او په ځانګړي توګه د فارس خلیج او د خزر سمندر ددې ځواک د لرلو په دلیل مهمې جیوستراتیژیکې او جیو

اکانومیکې سیمې دي، دغه ځانګړنې د هېوادونو د وچې او سمندري ځانګړتیاوې د ځواک موندنې د لامل په توګه ډېر ارزښت ترلاسه کړ، ځکه چې د هېوادونو له پرمختګ سره د سمندر او وچې ذاتي ارزښت تت او د دې دواړو ترکیب له نویو برخو سره د جیوپولیټیک نوی ډول رامنځ ته کړ.
د جیواکانومیک او د اقتصادي ځواک د ارزښت موندلو له نظره، د انرژۍ د سرچینو په سر سیالۍ او انرژۍ ته ورځ تربلې ډېرېدونکې اړتیا په ځانګړې توګه د ختیځې آسیا او جنوبي آسیا د تازه صنعتي شویو هېوادونو لخوا سیالۍ او د انرژۍ د استخراج، ګټه اخستنې، لېږد او د وړاندیز شویو لارو لپاره هڅې د جیوپولیټیک په بحثونو کې یې نوي مسایل را پرانیستل، دغه لیدلوری د انرژۍ د هارټلنډ د ستراتیژیکې بیضې (هګۍ) نوم ترلاسه کړ چې د جفری کمپ لخوا مطرح شو (صفوي او شیخياني، ۱۳۸۹: ۴)، افغانستان له ستراتیژیکې بیضې سره د ګاونډیتوب په پار ارزښت ترلاسه کړ، همدارنګه افغانستان د امریکا له امنیتي حوزې څخه د بهر هېواد په توګه چې د مهمو ځواکمنو هېوادونو د ګاونډیتوب په وسیله لکه روسیه، چین، پاکستان او ایران او ستراتیژیک موقعیت د دې هېوادونو د نفوذ په حوزه کې، د مرکزي آسیا او د خزر حوزې د انرژۍ سرچینو ته د نیږدې والي له امله، ځانګړی جیوپولیټیک جذابیت یې د امریکا لپاره رامنځ ته کړی دی.
امریکا لږ تر لږه د یوویشتمې پېړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې د جیوپولیټیک په وړاندې لیدلوري کې د فارس خلیج او د خزر سمندرګی یې د انرژۍ د تأمین لپاره دوه اصلي سرچینې ګڼلې، لدې کبله د امریکا له موخو څخه یو هم په افغانستان یرغل، د اوراسیا د دهلیز طرحه ګڼلای شو، پدې اساس د وخت په اوږدو کې بېلابېل مادي او غیر مادي لاملونه په نړیوال سیستم کې د هیوادونو د موقعیت او موقف ټاکونکي دي، پدې منځ کې ځینې هیوادونه له بېلابېلو تګلارو سره یې د جیوپولیټیک په اړه خپل موقعیت او موقف ساتلی دی، پدې مانا، د ماهان او مکیندر د سمندري نظریې له مخې نه یوازې چې له ستراتیژیک موقعیت څخه برخمن دي، بلکه د جفری کمپ د انرژۍ د هارټلنډ په نظریه کې هم ځای لري چې افغانستان له همداسې موقعیت څخه برخمن دی.
د افغانستان ګاونډیتوب د انرژۍ له حیاتي او بډایه سیمې سره، د دې هیواد اهمیت یې لا ډېر کړی دی (صفوي او شیخياني، ۱۳۸۹: ٦). د مکیندر د هارټلنډ د نظریې له مخې افغانستان د آسیا د هارټلنډ په سیمه کې هم ځای لري چې د ستراتیژیکو شرایطو درلودونکی دی (حکمت نیا، ۱۳۸۳: ۱۰۰)، د امریکا راڅرګندېدل د نوي ځواک په توګه په ځانګړې توګه د سړې جګړې په دوران کې د افغانستان اهمیت د مکیندر او سپایکمن د نظریو له مخې ډېر د بررسۍ وړ دی، په هغه وخت کې چې د امریکا او روسیې سیالي اوج ته رسیدلې وه، افغانستان له دې امله چې د هارټلنډ یوه برخه ګڼل کیږي، د دې دوه ځواکونو تر پام لاندې ؤ (صفوي او شیخياني، ۱۳۸۹: ٦).
پدې توګه د افغانستان جیوپولیټیکي موقعیت چې د کورنۍ بې ثباتۍ، نسبي موقعیت او حایلي سیمې، په وچه کې راګیروالی او د انرژۍ له ذخایرو سره ګاونډیتوب دي، دا عناصر د دې لامل شول چې په (۱۹۱۹)

کال کې يې خارجي سياست د انګلستان په اختيار کې واقع شي او په (۱۹۷۹) کال کې د شوروي اتحاد لخوا اشغال شي او له (۲۰۰۱) څخه وروسته د امريکا او ناټو له خوا اشغال شي (خليلي او نور، ۱۳۹۲: ۴۱-۴۴)، د نړۍ نوي بدلونونه او د جيوپوليټيک او ايډيولوژي يوله بل سره ګډيدل، د امريکا سياست يې د افغانستان په اړه د يو مهم ځواک په توګه له دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروسته ترنن ورځې پورې را ټوکولی دی.

پدې بنسټ د متقابل تړاو او د جيو پوليټيکي نظرياتو؛ مفروضاتو ، محتوياتو او بنسټونو ته په کتلو سره د دې څېړنې اجزاوې چې د افغانستان او مرکزي آسيا جيوپوليټيکي، جيواکانوميکي او جيوستراتيژيکي موقعيت او ځانګړتياوې؛ د شمال-جنوب د ترانزيت طرح او افغانستان د دې طرحې په مسير کې او د شمال – جنوب د ترانزيت د طرحې اقتصادي او سياسي-امنيتي ستونزې او فرصتونه؛ تر عنوانونو لاندې طرح شوي؛ يو مناسب عملياتي تړاو لري او ددې نظرياتو پر بنسټ دا موضوعات په غوره توګه د تحليل او تجزيې وړ دي.

## ۲ـ د څېړنې ميتودولوژي او تګلاره

دا څېړنه د توصيفي-تحليلي تګلارې پر بنسټ ترسره شوې ده او د څېړنې د موضوعاتو د بشپړتيا لپاره له کتابونو، مقالاتو او معتبرو انټرنيټي سايټونو څخه ګټه پورته شوې ده، پدې بنسټ د دې څېړنې په اړه د معلوماتو او اطلاعاتو د تحليل، د فرضيې او پوښتنو؛ ځواب او موخو ته د رسېدو په پار له توصيفي-تحليلي تګلارې څخه کار اخيستل شوی دی.

## ۳ـ موندنې

**د افغانستان او منځنۍ آسيا؛ جيوپوليټيک، جيواکانوميک او جيوستراتيژيک موقعيت او ځانګړتياوې:**

په دې برخه کې د موضوع او مسئلې د ښه وضاحت او روښانتيا په موخه د افغانستان او منځۍ آسيا جيو پوليټيکي، جيواکانوميکي او جيوستراتيژيکي موقعيت او ځانګړتياوې په بېله-بېله توګه ترڅېړنې لاندې نيسو.

**الف: د افغانستان جيو پوليټيک، جيواکانوميک او جيوستراتيژيک موقعيت او ځانګړتياوې**

افغانستان چې (۶۵۰۰۰۰) کيلومتر مربع مساحت لري، داسې يو هېواد دی چې د آسيا د زړه په توګه پېژندل کيږي او د څلورو سيمييزو سيستمونو (لوی منځنی ختيځ، مرکزي آسيا، د آسيا جنوب او د آسيا ختيځ) تر منځ يې يو پېچلي متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی او د دې سيستمونو د څلور لاري حيثيت لري (پشګاهي‌فرد او رحيمي، ۱۳۸۷: ۱۰۸ و ۱۰۹).

په جيوپوليټيک کې مهم لاملونه لکه: فضا او د فضا وېش، د خاورې پراختيا، د يو هېواد توپوګرافي (سرحدونه، د اوبو شبکې، نا همواري ساحې) او د يو هېواد شکل د ثابتو لاملونو په توګه؛ جمعيت، طبيعي سرچينې، سياسي او ټولنيز بنسټونه د متغييرو لاملونو په توګه پېژندل کيږي (حافظ نيا، ۱۳۸۱: ۷۶).

۱- موقعیت: موقعیت د جغرافیایي ځواک له لاملونو څخه دی چې د ځمکې د طبیعي وضعیت او ملي قدرت تر منځ اړیکې جوړوي او د ځمکې په کره باندې د هېواد واقع کېدل مونږ را په ګوته کوي چې د لویې وچې، نړۍ او یا سیمې په مقیاسونو کې د وچې، سمندري او ګذرګاهي موقعیتونو د ویش وړ دی (اطاعت، ۱۳۷٦: ۳۵). چې افغانستان د وچې او ګذرګاهي موقعیت یوه غوره بېلګه ده.

۲- پراختیا: افغانستان د پراختیا له اړخه د «پاندز» د وېش له مخې چې د نړۍ هېوادونه یې د پراختیا په بنسټ په (۸) ډلو وېشلي د نړۍ څلوېښتم او د آسیا د لویې وچې پنځه لسم هېواد ګڼل کیږي او د لویو هېوادونو په ډله کې راځي او د مرکزي آسیا د هېوادونو او ګاونډیانو په منځ کې پنځمه رتبه لري (حسینی، ۱۳۹۷: ۴۲).

۳- د هېواد شکل: هېوادونه د شکل له مخې په پنځو ډلو وېشل کیږي: دایروې یا مستطیلي، اوږد شکل لرونکي، لکۍ لرونکي، ټوټه-ټوټه او چاپېریالي هېوادونه (اطاعت، ۱۳۸٦: ۴۹). چې افغانستان د لکۍ لرونکو هېوادونو په په ډله کې راځۍ او دا ډول شکل له یو اړخه د یو مزیت او له بله اړخه د یو ګواښ په توګه ثابتېدلای شي.

افغانستان آزادو اوبو ته لاره نلري او په وچه کې راګیر دی، خو د افغانستان په اړه باید پدې ټکي ډېر ټینګار ونشي، د بېلګې په توګه سویس یو په وچه کې راګیر هېواد دی اما نن ورځ د نړۍ یو صنعتي هېواد دی (شاران، ۱۳۹۰: ۱۴۰). د افغانستان په وچه کې راګیروالی له نورو امکاناتو څخه د ګټې اخستنې په صورت کې چې د افغانستان جیوپولیتیک، جیوستراتیژیک او جیواکانومیک موقعیت، سیاسي تصمیم نیوونکو ته په اختیار کې ورکړي دي، د رفع کېدلو وړ دی، د افغانستان څلورلاریز موقعیت او له ګاونډیانو سره د ګډو اقتصادي ګټو پیوند، دغه ګواښ له منځه وړلای شي (رحیمی، ۱۳۹۰: ۱۲٦).

۴- پولې (سرحدونه): سرحدونه د دولتونو د هویت د ټاکلو او بېلوالي اغېزناکې وسیلې دي، د مرزونو بنسټ، مبنا او د مسیر تګ‌لوری یې په ټولیزه توګه امنیت ته له پاملرنې، تاریخي میراث، موافقتنامو او له نظامي اخ و ډب څخه سرچینه اخلي، ولې په نهایي ډول د سرحدونو هندسي شکل له جیوستراتیژیک تفکراتو څخه زږېدلی دی (حسینی، ۱۳۹۷: ۴۳).

افغانستان له ټولو خواؤ څخه سمندري پوله نلري، مګر د دې هېواد د شمالي پولې ستره برخه د آمو له سیند څخه جوړه شوې؛ چې دې پولې ته یې یو پېچلی شکل ورکړی دی او ډېری پولې یې د استعمار په وسیله جوړې شوي او تپل شوې پولې دي چې فرهنګي او ټولنیزې څېرې ته په نه پاملرنې او د استعمار د ګټو په بنسټ منځ ته راغلي دي، افغانستان په ټولیزه توګه له ګاونډیانو سره (۵۸۰۰) کیلو متره ګډه پوله لري. دا هېواد له شمالي ګاونډیانو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره (۲۳۸۴) کیلو متره، د چین له سین کیانګ ایالت سره له (۷۳) څخه تر (۹۳) کیلومتره،، له ایران سره له (۸۵۵) څخه تر (۹۳٦) کیلو متره او له پاکستان او جموکشمیر سره (۲۲۴۰) کیلو متره ګډه پوله لري (حسیني، ۱۳۹۷: ۴۳).

۵- د اوبو شبکې: د اوبو شبکې د جیوستراتیژۍ، اړیکو او د سوداګرۍ د پراختیا، د ملي یوالي د پراختیا- بشپړتیا، اقتصادي ودې او همدارنګه د نظامي او امنیتي ابعادو په برخو کې، په ټولیزه توګه د یو هېواد د ملي ځواک د کچې په برخه کې د ډېرو اغېزو درلودونکې دي. افغانستان د غرني موقعیت له امله د داسې سیندونو سرچینه ده چې د شمال او جنوب ټیټو سیمو ته چې د یو بهرني لوري پر خوا په خوځښت کې دي. د افغانستان د اوبو اصلي شبکې د آمو (جیحون) سیند، د هلمند-ارغنداب سیند، د هریرود، کابل او له داسې نورو سیندونو څخه جوړه شوېده چې دا ټول سیندونه د ګاونډیو هېوادونو خواته بهیږي، د بهرني سیاست او له ګاونډیانو سره د اړیکو په برخه کې، افغانستان د دې سیندونو د سرچینې په توګه کولای شي لدې سیندونو څخه د دیپلماتیکو وسایلو او ابزارو په توګه کار واخلي، (کریمي پور، ۱۳۷۹: ۱۴۲). د افغانستان دولتونه د دې سیندونو د شتون له مخې کولای شي له ګاونډیو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو د پراختیا او اقتصادي ودې په برخه کې په غوره توګه ګټه واخلي.




شکل ۱:

https://harta.infoturism.ro/Asia/Pakistan/harta-)




شکل ۲:

https://www.facebook.com/100025790404185/posts/

۶- طبیعي سرچینې: د هر هېواد حقیقي او واقعي ارزښت د سرچینو په ډېروالي، کیفیت او څرنګوالي پورې اړه لري، د یو هېواد شتمني له سرچینو او تولیداتو څخه د ګټې اخستنې په ډول پورې تړلې ده. کېدای شي یو هېواد ډېرې شتمنۍ ولري ولې نشي کولای چې له دې شتمنیو څخه ګټه پورته کړي لکه ډېری افریقایي هېوادونه (عزتي، ۱۳۸۲: ۹۳). طبیعي سرچینې لدې اړخه چې اقتصادي ځواک ګڼل کیږي په غیرمستقیمه توګه په نظامي ځواک کې هم دخالت لري، لدې کبله د یو هېواد د سیاسي قدرت په ټاکلو کې رغنده ونډه لري (اطاعت، ۱۳۷۶: ۵۳). اوبه هم د طبیعي سرچینو له ټولګې څخه ګڼل کیږي چې د اقتصادي ځواک په برخه کې او له نورو هېوادونو سره په اړیکو کې اغېزناکه ونډه لري.
افغانستان د معدني ذخایرو له مخې یو شتمن هېواد ګڼل کیږي اما ډېری معدني سرچینې استخراج شوې ندي او ځینې یې لا کشف او پېژندل شوې هم ندي او لا تراوسه د دې ذخایرو دقیق او کوټلي آمار او اطلاعات ندي خپاره شوي. اما د افغانستان مهمترین پېژندل شوي معدني ذخایر عبارت دي له: طبیعي

گاز، د ډېرو سکاره، د اوسپنې تيږي، نفت، مس، يورانيم، ليتيوم، ياقوت، زمرود، لاجورد، بيروج، آلمونيم، سرپ، نه سوزېدونکي پنبه او نور (علی آبادي۱۳۷۳: ۸۰، و رحيمی، ۱۳۹۱: ۹۰).
د امريکايي اشغال په دوره کې د امريکا لخوا د ځينو معدني ذخايرو د چپاول خبرونه خپاره شول. د المونيم، طلا،سپينو زرو، روی او جيوه د سترو معدنونو تر څنگ، د غزني ولايت د لومړنی تجزيې او تحليل له مخې ليدل کيږي چې په دې سيمه کې د بوليويا د هېواد د ليتيومو د سترو ذخايرو په اندازه (۲۱) ميليون ټنه ليتيوم لري، د يو راپور له مخې، په يوه نظرسنجونه کې چې په (۲۰۱۰) ميلادي کال کې تر سره شوه، هغه ځمکپوهانو او څېړنکو چې د متحده ايالاتو نظامي برخې ته يې کار ترسره کولو، د افغانستان د ليتيومو ارزښت چې په غزني، هرات او نيمروز ولايتونو کې شتون لري؛ درې تريليونه ډالر اټکل کړی دی.




شکل ۳: (USGS)

**ب: د مرکزي آسيا جيوپوليتيک، جيواکانوميک او جيوستراتيژيک موقعيت او ځانگړتياوې**

مرکزي آسيا د نړۍ په اوسنۍ جغرافيه کې د دوه لويو وچو (آسيا او اروپا) د پيوستون په نقطه کې قرار لري او له ډېر مهم جغرافيايي موقعيت څخه برخمنه ده. د مرکزي آسيا هېوادونه د شمال او لوېديځ لخوا له روسيې او د خزر له سمندر سره، د جنوب لخوا له ايران او افغانستان سره او د ختيځ لخوا له چين سره په گاونډ کې پراته دي. روسانو د غير روسي قومونو د بېلولو د سياست له مخې له تېرو تاريخي دورو څخه را پدې خوا له پراخه محدودې سره د ماورالنهر د تاريخي نوم پرځای دې سيمې ته د مرکزي آسيا اصطلاح کارولې ده. مرکزي آسيا د جيوپوليټيکي موقعيت له مخې په لوېديځ کې د اروپا، په ختيځ کې د آسيا، په شمال کې د روسيې او په جنوب کې د اسلامي نړۍ تر منځ واقع شوېده. د دې سيمې هېوادونه په وچه کې راگير دي او يوازې د گاونډيو هېوادونو له خاورې څخه آزادو اوبو ته لاسرسی درلودلای شي. د مرکزي آسيا سيمه د انرژۍ د زېرمو (نفت او گازو) د درلودلو له مخې د نړۍ دوهمه سيمه ده.

سربېره پردې د کمیابو فلزي معدنونو لکه طلا، مس، یورانیم او نورو فلزاتو ډېر معدنونه لري، دا سیمه د ختیځ او لوېدیځ د فرهنګونو (ترکی او اسلامي) د تقاطع په سیمه کې پرته ده او له تاریخي اړخه د وربښمو د لارې په مسیر کې واقع ده. مرکزي آسیا یوازینی سیمه ده چې د نړۍ څلور هستهای ځواکونه (روسیه، چین، هند او پاکستان)، یو له بل سره نښلوي، دا سیمه د (۱۱) میلیون نفري مصرفي بازار درلودونکې ده او د قومي ډلو او متعددو مرزي اختلافاتو شتون دا سیمه په یوه بې ثباته سیمه بدله کړېده (ابوالحسن شیرازی، ۱۳۸۲: ۲۴ تا ۲۸). لدې سره شاید د مرکزی آسیا مهمترینه جیوپولیتیکي ځانګړتیا د شوروي له پاشل کېدلو او په ځانګړې توګه د سپتمبر د (۱۱) نېټې له پېښې څخه وروسته د دې سیمې بدلېدل د سیمییزو او نړیوالو ځواکونو د رقابت او سیالۍ په ډګر باندې وي.




شکل ۴: (https://en.wikipedia.org/wiki/Central_Asia)

پدې سیمییز سیستم کې د پنځو هېوادونو (ازبکستان، تاجکستان، قرغیزستان، قزاقستان او ترکمنستان) سربېره، پنځه سیمییز ځواکونه (روسیه، ایران، ترکیه، هند او پاکستان) او درې نړیوال ځواکونه (امریکا، اروپایي ټولنه او چین) د خپلو ګټو په پار په سیالۍ او رقابت لګیا دي (حافظ نیا، ۱۳۸۶: ۹۱). چې د دوی تر منځ د سیالۍ له امله پدې سیمه کې بحران رامنځ ته شوی دی (واعظي، ۱۳۸۶: ۷۲).

**۱-۴ د شمال - جنوب د ترانزېټ طرحه او افغانستان د دې طرحې په مسیر کې**

د افغانستان جیواکانومیک او جیوپولیتیک موقعیت د وربښمو د لرغونې لارې د مسیر په توګه، د جنوبي آسیا په سیمه کې د واقع کېدلو په دلیل او د دې هېواد موقعیت د مهمو ګاونډیو هېوادونو تر منځ هغه لاملونه دي چې د مرکزي آسیا او د آسیا د جنوب د هېوادونو لخوا له افغانستان څخه د ترانزېټ او ترانسپورټ د کانون په توګه ګټه اخیستنه، د دې هېوادونو له بنسټیزه موخو څخه ګڼل کیږي (Shoaib, Ahmad, 2015:).

د مرکزي آسیا هېوادونه آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، د دې سیمې د ګازو او نفتو لیږد د نورو هېوادونو مصرفي بازارونو ته د بېلابېلو نل لیکو غزلو ته اړتیا لري، لدې مخې د افغانستان جیوپولیتیک او جیواکانومیک موقعیت دا پتانسیل او وړتیا لري چې د مرکزي آسیا د انرژۍ لېږد؛ د آسیا جنوبي سیمې او د آزادو اوبو له لارې نړیوالو بازارونو ته آسانه او چمتو کړي او د انرژۍ د ترانزېټ د تبادلاتو د یو

محور په توګه وپېژندل شي (علیرضایی، ۱۳۹۰: ۱۲۰). افغانستان د مرکزي او جنوبي آسيا ترمنځ د ترانزېټ د لنډ او آرزانه مسير په توګه د دې سيمو تر منځ د بشپړ سوداګريز پټانسيل او ظرفيت د پرانيستلو او په پايله کې په ټوله سيمه کې د يوې نوې سوداګرۍ په برخه کې کليدي ونډه لري. د بديلو مسيرونو په پرتله افغانستان کولای شی ډېر لنډ او د سپما وړ جاده يی، د اوسپنې د پټليو، د ګازو، نفتو او برېښنا د کرښو مسيرونه د مرکزي آسيا او جنوبي آسيا تر منځ چمتو کړي، دې مسائلو د متقابل تړاو د نظريې له مخې د افغانستان او مرکزي آسيا او د آسيا د جنوب تر منځ يو پېچلی متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی او دا سيمې يې يو له بل سره په اقتصادي، سياسي-امنيتي مسائلو کې په پېچلې توګه تړلې دي. په دې بنسټ په (۱۹۹۰) ميلادي لسيزه کې د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه رامنځ ته شوې او د دې طرحې له اجزاؤ څخه د تاپي او کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا پروژو ته اشاره کولای شو چې د بېلابېلو مباحثو په لړ کې په لاندې توګه تر څېړنې لاندې نيول کيږي.

**الف: د تاپي د ګازو نل ليکه (TAPI)**

د ترکمنستان د ګازو د لېږد يو مسير چې د افغانستان له خاورې څخه پاکستان او له پاکستان څخه هندوستان ته غزيږي، د تاپي (TAPI) د ګازو نل ليکه نوميږي، تاپي د ترکمنستان (Turkmanstan)، افغانستان (Afghanistan)، پاکستان (Pakistan) او هندونستان (India) د هېوادونو له لومړي توري څخه اخستل شوې. له اقتصادي اړخه د تاپي پروژه د افغانستان لپاره يوه لويه پروژه ده، دغه سياسي لويه پروژه چې د ترکمنستان د ختيځ د دولت آباد-دومز له نفتي سيمو څخه سرچينه اخلي، دا نل ليکه د افغانستان د هرات او کندهار له ولايتونو څخه تېريږي او د پنجاب ملتان سيمې ته رسيږي، د ترکمنستان، افغانستان او پاکستان دا نل ليکه يوه (۱۷۰۰) کيلومتري او د (۵۶) انچه قطر درلودونکې طرح ده چې په کال کې پنځه ميليارډ مترمکعب ګاز، افغانستان، پاکستان او احتمالاً د هندوستان مصرف کوونکو ته؛ تر (۳۰) ميليارډ مترمکعب طبيعي ګاز لېږدولای شي او د دې نل ليکې لګښت (۷.۶) ميليارډ ډالره برآورد شوی دی. د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه، يوه ډېره مستقيمه، لنډه او کم لګښته لاره ده چې د افغانستان له مسير څخه پاکستان ته غزيږي. د پاکستان سوداګريزه لاره چې د افغانستان له مسير څخه مرکزي آسيا ته غزيږي، نيږدې (۱۰۰۰) کيلو متره له هغه جادې څخه چې د ايران له لارې مرکزي آسيا ته غزيږي؛ لنډه ده (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۲).

د دې نل ليکې د غزېدو مسئله په (۱۹۹۰) لسيزه کې مطرح شوه او دوه شرکتونه؛ يونيکال (امريکايي شرکت) او برايډس (ارژنټايني شرکت) هغه دوه شرکتونه ؤ چې د افغانستان له مسير څخه پاکستان او هندوستان ته د ترکمنستان د ګازو د لېږد په برخه کې يې يو له بل سره سيالي کوله، امريکا هڅه کوله چې دا پروژه به د يونيکال شرکت جوړوي ولې طالبانو دې ته ترجيح ورکوله چې دا پروژه بايد د برايډس ارژنټايني شرکت لخوا جوړه شي، په همدې دليل دا پروژه پدې پړاو کې و نه رغېدله او همدارنګه په (۱۹۹۰) لسيزه کې د امنيت د نه شتون له کبله دا پروژه پلې نشوه، ځکه چې د دې پروژې (۷۳۵) کيلومتره

نل لیکه د افغانستان د هرات او کندهار له نا امنو ولایاتو څخه تېرېدله، د طالبانو له دورې څخه وروسته په (۲۰۰۴) کال کې د ټاپي د نل لیکې مذاکرات د آسیایي پراختیا بانک په همغږۍ او د حامد کرزي او خلیلزاد په ابتکار سره پیل شول او لدې څخه وروسته دا مسئله یوځل بیا مطرح شوله او په (۲۰۰۸) کال کې د څلورو هېوادونو «ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان» ترمنځ لومړنۍ هوکړې تر سره شوې، مگر د انرژۍ د امنیت نه شتون یوازینی دلیل ؤ چې دا پروژه پلې نشوه (قادري، ۱۳۹۴: ). همدارنګه نورو خنډونو هم شتون درلود چې د دې پروژې په نه پلي کېدلو یې اغېز درلود، لکه؛ مرزي او ارضي اختلافات او پدې سیمو کې د سیمیزو او نړیوالو لویو ځواکونو نفوذ (ترابی او صانعي، ۱۳۹۶: ۳۱).

د دې نل لیکې طرحه درې پړاوونه لري؛ په لومړي پړاو کې د ګازو نل لیکه د پاکستان، ملتان ایالت ته رسیږي، په دوهم پړاو کې؛ د بلوچستان ختیځ ته، تر ګوادر بندر پورې اوږدیږي ترڅو مایع ګاز جاپان او د منځني ختیځ هېوادونو ته صادر کړي. دریم پړاو؛ د دې نل لیکې غزېدل دي د هندوستان لوري ته. داسې اټکل کیږي چې د ترکمنستان هېواد (۲۰۰) تریلیون متر مکعب د ګازو ذخایر لري، که څه هم د دې ارقامو آمار تر (۹۸) او (۱۱۵) تریلیون متر مکعب پورې را ښکته شوېدي، ځینې ناظران پدې باور دي چې ترکمنستان د طبیعي ګازو د بالقوه صادراتو د امکان له مخې ممکن د لومړي ځل لپاره پدې هېواد کې یوه د ډاډ وړ او ګټوره خروجي لاره، د مرکزي آسیا پر هېوادونو سربېره؛ نړیوالو بازارونو ته عرضه کړي (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۳).




شکل ۵: (https://medium.com/@chai2kul/the-indian-capitalist-tapi-gas-pipeline-and-india-s-future-in-eurasia-b8cb8b6f177)

افغانستان د دې وړاندیز شوې نل لیکې له مخې (۱۲) سلنه ګټه ترلاسه کولای شي او یا په کال کې (۵۰۰) میلیون ډالره د مالکیت د حق (حق العبور) له مخې اخستلای شي. سربېره پر دې کولای شي له (۱۲۰۰۰) څخه تر (۱۴۰۰۰) پورې اشتغالات او دندې رامنځ ته کړي. پاکستان هم (۵۰۰) میلیون ډالره د مالکیت حق ترلاسه کولای شي. دغه پروژه چې تړون یې په (۲۰۱۰) میلادي کال کې د څلورو هېوادونو

(ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان) لخوا په اسلام آباد کې لاسلیک شوی دی؛ د دې پروژې عملي کار د (۲۰۱۵) میلادي کال د ډسامبر په (۱۳) نېټه د افغانستان او ترکمنستان د جمهورو رئیسانو، دپاکستان د لومړي وزیر او د هندوستان د جمهور رئیس د مرستیال په حضور کې د ترکمنستان د «ماری» په ښار کې پیل شو. د نوموړې پروژې په ترون کې د ترکمنستان هېواد د طبیعي ګازو د چمتو کوونکي یا پلورونکي هېواد په توګه، پاکستان او هندوستان له ګازو څخه د ګټه اخستونکو او پېرونکو هېوادونو په توګه او افغانستان د دې نل لیکې د عبوري او کوچني ګټه اخستونکي هېواد په توګه ګڼل کیږي. د افغانستان لپاره د دې پروژې مستقیمې ګټې پورتنیو څرګندونو ته په کتلو سره؛ لدې ګازو څخه د (۱٦) سلنې ګټه اخستنې د پیسو د ورکړې په بدل کې او په کال کې د (۵۰۰) میلیون ډالرو ترلاسه کول د ترانزېټ او مالکیت د حق له مخې دي(وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۳). په (۲۰۲۴) میلادي کال کې یو ځل بیا د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د دې نل لیکي د غزیدلو د چارو د پیل هوکړه تر سره شوله چې د ځینو مسائلو له کبله یې کارونه ټکني روان دي.

**ب: د کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا پروژه (KASA-1000)**

کاسا (۱۰۰۰) یوه بله اقتصادي-تجاري پروژه ده چې له تېرو څو کلونو راهیسې د اجرایي کېدلو په لړ کې ده او د افغانستان د اقتصادي او جیواکانومیکي ونډې د ترسره کولو لپاره یې شرایط چمتو کړیدي. کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا د سیمییزې انرژۍ د یوې مهمې زیربنا په توګه؛ د قرغیزستان او تاجیکستان له هېوادونو څخه د پاکستان هېواد ته د (۱۳۰۰۰) میګاواټه برېښنا د لېږد په وړتیا سره کولای شي چې په سیمه کې د برېښنا د انرژۍ د پیر او پلور د معاملاتو لپاره یو غوره بازار را منځ ته کړي (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۳). د مرکزي آسیا له هېوادونو څخه د جنوبي آسیا هېوادونو ته؛ د افغانستان له مسیر څخه د برېښنا د انرژۍ لېږد د مرکزي آسیا او د جنوبي آسیا د هېوادونو ګډې اقتصادي ګټې په یوه سیمییزه سوداګرۍ کې تر لاسه کېدلای شي. د افغانستان ونډه په سیمه کې د برېښنا د انرژۍ د لېږد په برخه کې د یو اغېزمن هېواد په توګه تثبیت شوېده او په عین حال کې لدې پروژې څخه د برېښنا د انرژۍ د ترانزېټ له لارې د عوایدو ترلاسه کول د افغانستان د اقتصادي ودې او ثبات د پیاوړتیا لپاره یو مهم لامل ګڼل کېدلای شي (mew.gov.af) او (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۴).




شکل ٦: (Amu Tv)

د دې پروژې د اجرایي کېدلو په صورت کې، افغانستان د (۱۵) کلونو په لړ کې په کال کې له (۴۵) څخه تر (٦۵) میلیونو ډالرو په کچه د هېواد د ترانزېټ په توګه عواید ترلاسه کولای شي. افغانستان په ساعت کې د یو کیلوواټ برېښنا د ترانزېټ له مخې (۱.۲۵۵) سنته حق العبور ترلاسه کوي. له بله اړخه د کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا لېږد کولای شي؛ افغانستان د برېښنا د وارداتو له مخې له مالي فشار څخه وژغوري او همدارنګه د خداماتو په چټکتیا او غوره‌والي کې مرسته وکړي. افغانستان له دې پروژې څخه کولای شي (۳۰۰) میګاواټه برېښنا په ټیټه بیه ترلاسه کړي (avapress.com). په دې بنسټ؛ افغانستان د مرکزي آسیا او د آسیا د جنوب د سیمو تر منځ په واقع کېدلو سره؛ په سیمه کې د انرژۍ د پیر او پلور په یو مهم بازار د بدلېدلو بالقوه ظرفیت او وړتیا لري. د افغانستان دا جیواکونومیکي ونډه له یو اړخه کولای شي د نوموړو دوه سیمو د اقتصادي ودې او د همکاریو په پراختیا کې مرسته وکړي او له بله اړخه کولای شي د افغانستان لپاره سترې اقتصادي او سیاسي ګټې رامنځ ته کړي (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۲).

**۴-۲ د شمال – جنوب د ترانزېټ د طرحې؛ اقتصادي او سیاسي-امنیتي ننګونې او فرصتونه**

په دې برخه کې لومړی د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې اقتصادي او سیاسي-امنیتي ننګونې او وروسته د نوموړې طرحې فرصتونه تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

**۴-۲-۱ : د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې ننګونې**

د شمال جنوب د ترانزېټ د طرحې ننګونې په دوه برخوکې تر څېړنې لاندې نیسو، په لومړۍ برخه کې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې ننګونې د افغانستان په وړاندې او په دوهمه برخه کې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې د پلي کېدو په وړاندې ننګونې تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

**۴-۲-۱-۱ د افغانستان په وړاندې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې ننګونې**

د ګاونډیتوب لامل د دولتونو تر منځ د تعاملاتو پر ماهیت او څرنګوالي ژوره اغېزه لري، ډېری وخت ګاونډیان یو له بل سره په جګړه اخته کیږي، ځکه چې ګاونډیان د لیرې هېوادونو په پرتله له یو بل سره ډېرې اړیکې لري؛ د ګاونډیتوب د لامل د اهمیت په اړه همدومره بسنه کوي چې د بیروني ګواښ په لړۍ

کې، ګاونډی هېواد یا هېوادونه په بالقوه ډول د بحران د صدور، د ګواښ او اختلاف د تراکم له امله ممکن تر اغېز لاندې واقع شي (Karimipoor, 2001: 16-17). لدې مخې له یو هېواد سره ګاونډیتوب د خطرناک چلند په رامنځ ته کېدلو کې مهمه ونډه لري. او همدارنګه د ګاونډیانو شمېر هم د شخړو او لانجو په رامنځ ته کېدلو کې ونډه درلودلای شي (Hagget, 1972: 378).

کله چې د یو حکومت-ملت خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا، یوالی، ملي امنیت او بنسټیز ارزښتونه د نورو ملتونو له جغرافیایي فضا او سیاستونو سره پیوند شي، د جیوپولیټیکي سرچینو مشاجره را منځ ته کیږي (Karimipoor, 2001: 16-17). دا موارد له یوې خوا کولای شي د سولې او امنیتي اقداماتو په وړاندې جدي ګواښ را منځته کړي او له بلې خوا کولای شي د امنیتي مسائلو د مدیریت په برخه کې د پېچلو ستونزو د رامنځ ته کېدلو لامل شي (حسین پور پویان، ۱۳۹۲: ۱۶۱-۲۰۳).

امنیت د هېوادونو لپاره پدې دلیل چې پر ملي پراختیا، د ملي موخو او ګټو د تأمین لپاره او له ټولو مهم د یو هېواد د ملي پایښت او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په برخه کې ژوره اغېزه لري، دومره مهم او ارزښتناک ګڼل کیږي چې هېوادونه خپل شتون په نړیوال سیستم او نړیوال نظام کې، په هر قیمت او هر ډول شرایطو کې د امنیت د تأمین او ساتنې په ګرو کې بولي (حسین پور پویان، ۱۳۹۲: ۱۱۵).

لکه څرنګه مو چې په تېرو مباحثو کې اشاره کړېده، افغانستان داسې یو جیوپولیټیک، جیوستراتیژیک او جیواکونومیک موقعیت لري چې د سیمې څلور سیستمونه (مرکزي آسیا، د آسیا جنوب، لوی منځنی خاور «د فارس خلیج» او چین) یې یو له بل سره تړلي دي او د دې سیستمونو ترمنځ یې یو پېچلي متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی، دا موقعیت که له یوې خوا د افغانستان لپاره یو ستر مزیت ګڼل کیږي خو له بلې خوا د همدې حساس موقعیت له امله افغانستان ته یو لړ جدي ستونزې او ننګونې را ټوکېدلې دي او دا هېواد یې له پرلپسې بې ثباتۍ سره مخ کړی دی، په ځانګړې توګه د مرکزي آسیا د انرژۍ د ترانزېټ مسئله هغه لامل دی چې د افغانستان امنیت او ثبات یې ننګولی دی.

د مرکزي آسیا سیمه د جیوستراتیژیک او جیواکانومیک موقعیت او د انرژۍ د سترو ذخایرو درلودلو له کبله د امریکا، روسیې او چین لپاره ځانګړی اهمیت او ارزښت لري، د شوروي له پاشل کېدلو سره سم، دا سیمه د دې لویو ځواکونو د سیالۍ ډګر ګرځېدلې ده، پدې توګه د تېرو لسیزو په لړ کې روسیې، چین، لویدیځو ځواکونو او ځینو سیمییزو ځواکونو د دې سیمې د بدلونونو د لوبغاړو په توګه هڅه کړېده چې د خپلو ځانګړو موخو او ګټو لپاره، اتحادونه، ائتلافونه او نوي سازمانونه رامنځ ته کړي او یا داچې همغږي هېوادونه له خپلو ځانګړو جوړښتونو سره یوځای کړي. امریکا د سپټمبر د یولسمې نېټې له پېښې څخه وروسته د بېلابېلو دلایلو پر بنسټ، قصد نلري چې د مرکزي آسیا ستراتیژیکه سیمه پرېږدي. د قفقاز په سیمه کې بحرانونه او د روسیې له کنترول څخه د دې سیمې بهر کېدل او د روسیې له لاس څخه د شمالي قفقاز وتل، د روسیې لپاره اندېښنه رامنځ ته کړېده، لدې مخې له چین سره د روسیې ائتلاف د شانګهای د همکارۍ په سازمان کې د روسیې له هغه تګلارو څخه ده چې غواړي امریکا تر فشار لاندې

راولي، نفوذ او حضور را کم کړي او ختیځ ته د ناټو د پراخېدلو له تګلارې څخه مخنیوی وکړي، په همدې توګه روسیه په سیمه کې د چین له ځواک موندلو څخه وېره لري. چین هم په مرکزي آسیا کې د حضور د قوي انګېزې په لرلو او د امریکا د هژمونیکو سیاستونو او ختیځ ته د ناټو د پراختیا د مخنیوي له ګواښ سره په مخامخ کولو، غواړي چې د مرکزي آسیا په سیمه کې نفوذ ترلاسه کړي، چې د دې رقابتونو او سیالیو لړۍ په مرکزي آسیا کې د نوې سترې لوبې په نامه شهرت موندلی دی (شفیعي، ١٣٨٨).

مرکزي آسیا په نولسمه میلادي پېړۍ کې د پراخه سیالیو ډګر ؤ چې د دې پېړۍ په نیمایي کې روسیه او انګلستان د دې سیالیو دوه اصلي لوبغاړي ؤ، تزاري روسیې د خپل ځواکمن اروپایي سیال سره د مقابلې په پار، د دې ځواک د ارزښتمنې مستعمرې (هندوستان) په لور حرکت وکړ چې افغانستان او مرکزي آسیا پدې مسیر کې واقع ؤ. په (١٩٩١) کال کې د شوروي اتحاد له پاشل کېدلو سره؛ پدې سیمه (مرکزي آسیا) کې یوځل بیا ستره لوبه رامنځ ته شوله، اما دا ځل نه یوازې دوه لوبغاړي بلکه څو سیمییزو او نړیوالو لوبغاړو په مرکزي آسیا او د خزر د سمندر په شاوخوا کې«نوې ستره لوبه» رامنځ ته کړله (کولایی، ١٣٨۴: ١١). د مرکزي آسیا په جیوپولیټیکي سیمه کې کولای شو روسیې، امریکا او اروپایي ټولنې، چین، ترکیې، اسرائیل، ایران او په دوهمه درجه کې هند او پاکستان ته د اصلي لوبغاړو په توګه اشاره وکړو، چې په دې ټولګه کې روسیه په لومړۍ سطحه کې حضور او قرار لري او مرکزي آسیا د خپل نفوذ سیمه ګڼي، لدې مخې په شدت سره د نورو ځواکونو له حضور او نفوذ سره حساسیت لري او د روسیې موخې پدې سیمه کې د لوېدیځ له حضور څخه مخنیوی په ځانګړې توګه د ناټو له پراختیا څخه مخنیوی (واعظی، ١٣٨٨: ١١٢). د مذهبی او قومي پاڅونونو کنترول (شیخ عطار: ١٣٧١: ۵٨). د ګډو ګټو هېوادونو ساتنه او تداوم. او د انرژۍ د ترانزېټ او لېږد د مسیرونو کنترول؛ ګڼلای شو. په دوهمه سطحه کې امریکا، اروپایي ټولنه او چین د مرکزي آسیا په سیمه کې حضور او نفوذ لري او د امریکا موخې پدې سیمه کې؛ جیوپولیټیکي او اقتصادي دي، چې دا موخې د انرژۍ کنټرول او پدې برخه کې د روسیې د نفوذ کمول دي (فیاضي، ١٣٨٦: ١٦٣-١٦٢). د اوراسیا په زړه کې حضور او نفوذ او پدې سیمه کې د چین، روسیې او ایران د حضور او نفوذ د پراختیا په وړاندې مقابله او همدارنګه د اسلام په وړاندې مقابله ګڼلای شو. اما اروپایي ټولنه د امریکا پر خلاف د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي په لټه کې ده، ترڅو له روسیې څخه د وارداتو پر ځای، له دې سیمې څخه واردات ترسره کړي. د چین موخې په دې سیمه کې د انرژۍ سرچینو ته لاسرسی، د قومي بحرانونو حل، د بېلتون غوښتنې او اسلامي خوځښتونو مهار کول، ملي امنیت او د نړیوالو ځواکونو له حضور څخه مخنیوی ګڼلای شو. په دې ترتیب د مرکزي آسیا په سیمه کې د حضور او نفوذ له مخې؛ په درېیمه سطحه کې ایران، ترکیه او اسرائیل قرار لري او په څلورمه سطحه کې هند او پاکستان قرار لري.

په دې بنسټ افغانستان د حساس جیوپولیټیکي-جیوستراتیژیکي او جیواکانومیکی موقعیت له مخې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو جیوپولیټیکي او جیوسترایتژیکي موخو په توګه د نړۍ د سترو ځواکونو د توجه په مرکز کې واقع شوی دی (پیشګاهی‌فرد او رحیمي، ١٣٨٧). چې د شمال-جنوب د

ترانزېټ د طرحې، مطرح کېدل، د افغانستان واقع کېدل د دې طرحې په مسیرکې او په مرکزي آسیا کې د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي او نفوذ په پار د سیمییزو او نړیوالو ځواکونو ترمنځ سیالۍ او رقابتونه هغه دلایل او لاملونه دي چې لدې امله افغانستان د دې ځواکونو تر منځ د سیالۍ په ډگر بدل شوی او دې هېواد ته یې پراخه گواښونه او ننگونې را ټوکولې دي او هېواد یې له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ او اخ و ډب سره مخ کړی دی.

**۴ـ۲ـ۲: د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې د پلي کېدو په وړاندې ننگونې**

د شمال –جنوب د ترانزېټ د طرحې د پلي کېدلو په وړاندې یو لړ کورنیو او بهرنیو لاملونو ننگونې را ولاړې کړې دي چې هر یو یې د بېلابېلو برخو په لړ کې تر څېړنې لاندې نیسو.

**۴ـ۲ـ۲ـ۱ : کورني لاملونه**

د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې پروړاندې یو شمېر کورني لاملونه شتون لري چې د دې طرحې تطبیق او تعمیل یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دی او دا لاملونه له (۲۰۰۱ م کال څخه تر ۲۰۲۱ م) کال پورې د لاسپوځو، کمزورو او ناکارآمد دولتونو او پراخه فساد شتون، مخدره توکي او سیاسي- امنیتي بې ثباتي ده چې په لاندې توگه په لنډه توگه تر بحث او څېړنې لاندې نیول کیږي:

**الف:** لاسپوځي، کمزوري او ناکارآمد دولتونه او پراخه فساد: له (۲۰۰۱) کال څخه تر (۲۰۲۱) کال پورې چې کوم دولتونه د بن د توافقاتو له مخې په افغانستان کې رامنځ ته شوي دي، لاسپوځي، کمزوري او ناکارآمد دولتونه ؤ، سره له دې چې په ډېره لوړه کچه نړیوالې مرستې له افغانستان سره تر سره شولې، ولې د دولتونو د خپلواکۍ او وړتیا د نه شتون، کمزورۍ او پراخه فساد له امله دا مرستې د هېواد په زېربنايي-بنسټیزه چارو او د افغانستان په سیاسي-امنیتي او اقتصادي ثبات او ودې، د صنعت-تولید او اشتغال جوړنې په برخو کې و نه لگول شوې، دا مرستې د مفسدو چارواکو لخوا حیف ومیل شوې، افغانستان ونشو کولای چې د فساد په وړاندې په مبارزه کې بریالی شي، خلک له دولت څخه نا هیلي او زړتوري شول، تر دې چې دا دولتونه ورځ تربلې کمزروي کېدل او په پایله له سقوط سره مخامخ شول (فرجی راد، ۱۴۰۰: ۹). د دې دولتونو له سقوط څخه وروسته د افغانستان اسلامي امارت حاکمیت ترلاسه کړ، د افغانستان اسلامي امارت سره له دې چې د نړۍ د هېوادونو له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی او له گڼ شمېر کورنیو او بهرنیو ستونزو او ننگونو سره مخ دی؛ هڅه کوي ترڅو د سیمې نړۍ له هېوادونو سره د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست پرمټ، مثبت تعاملات ولري او لدې لارې د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحې ته لار هواره او پلې یې کړي، چې پدې برخه کې یې د کتنې وړ پرمختگونه هم کړي دي.

**ب: نشه‌يي توکي:** په افغانستان کې د مخدره توکو کښت او قاچاق محلي، سیمیز او نړیوال امنیت ته یو جدي گواښ گڼل کیږي، د اروپایي ټولنې شورا له افغانستان څخه د نشه‌یي توکو قاچاق د نړیوال امنیت، سولې او ثبات په وړاندې د یو جدي گواښ په توگه پېژندلی دی (سجادپور او جهانبخش، ۱۳۹۳:

۸۶-۵۹). په افغانستان کې په پراخه توګه د نشه‌يي توکو کښت او قاچاق هغه لامل دی چې د سيمې او نړۍ د هېوادونو باور يې د افغانستان په وړاندې کمزوری کړی دی، په افغانستان کې د نشه‌يي توکو توليد او قاچاق د تېرو لسيزو په لړ کې يوه جيوپوليټيکي ونډه ترلاسه کړېده (فرجی راد، ۱۴۰۰: ٦). په ځانګړې توګه روسيې او اروپايي هېوادونو ته د مرکزي آسيا د هېوادونو له لارې د نشه‌يي توکو پراخه قاچاق، هغه لامل دی چې د مرکزې آسيا له هېوادونو سره يې د افغانستان په اقتصادي، سياسي-امنيتي اړيکو، ژوره بده اغېزه درلودلې؛ د افغانستان سياسی-امنيتي ثبات يې له ننګونو سره مخ کړی او د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې پلي کېدل يې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي؛ چې اوس مهال د افغانستان د اسلامي امارت له حاکميت سره سم دا ستونزه هواره شوې او پدې برخه کې سيمييز او نړيوال باور ترلاسه شوی دی.

**ج: سياسي-امنيتي بې ثباتي:** سياسي-امنيتي بې ثباتي د يو مهم کورني لامل په توګه د اقتصاد د امنيت له مفهوم سره نيږدې او معنی لرونکې اړيکه لري (يوسف زهی، فرزانه پور او بخشی، ۱۳۹۷). په افغانستان کې د بې ثباتۍ يوه لويه او عيني نښه، په حکومت داري کې پراخه فساد دی (رحمانی او همکاران، ۱۳۹۴: ۱۴). اداري فساد چې په افغانستان کې يې سياسي ثبات، امنيت، توسعه او اقتصاد ګواښلي او ننګولي دی يوه نړيواله پديده ګڼل کيږي چې ډېرې ټولنې او اقتصادي نظامونه، په ځانګړې توګه ګاونډي هېوادونه يې اغېزمن کړيدي (د افغانستان د عدليې وزارت، ۱۳۸٦: ۲). د يو اټکل له مخې (٦۰) سلنه شرکتونه وايي، اداري فساد يو له هغه لاملونو څخه دی چې په افغانستان کې يې د پانګونې مخه ډب کړېده (قاسمی، ۱۳۹۳: ٦۹).

له (۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱) ميلادي کال پورې په افغانستان کې دوامداره سياسي-امنيتي بې ثباتي د دې لامل ګرځېدلې ده چې د سيمې او نړۍ د هېوادونو د پانګوالو باور او اعتماد ترلاسه او بهرنۍ پانګونه ترسره نشي. په دې بنسټ د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه چې يوه لويه اقتصادي طرحه ګڼل کيږي او پدې طرحه ستره پانګونه کيږي، دې ته اړتيا ده چې په افغانستان کې بشپړ سياسي-امنيتي ثبات تأمين شي، پدې بنسټ د شمال-جنوب د طرحې نه پلي کېدلو يو دليل هم په افغانستان کې د سياسي ثبات او امنيت نه شتون دی چې دا طرحه تر اوسه نده پلې شوې.

په ټوليزه توګه ويلای شو چې د شمال-جنوب د طرحې د پلي کېدلو په وړاندې ستر خنډونه په افغانستان کې د سوداګرۍ او اقتصاد په برخه کې د پراختيايي برنامو نواقص، د اقتصاد د ستراتيژيکو سرچينو نا متوازنه توسعه او پراختيا، د يرغلګرو او لاسوهنې د خوځښتونو په دليل په افغانستان کې د دولت-ملت د جوړښت ترمنځ ژور درځ، ارضي او سرحدي اختلافات او لدې مخې امنيتي مسائل، د افراطي سياستونو له مخې د امنيتي تشې رامنځ ته کېدل او د مرکزي اقتدار نه شتون، ګڼلای شو (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۱). چې د افغانستان د اسلامي امارت په حاکميت سره دا ستونزې تر ډېره بريده کابو شوې دي، د اشغال په پای ته رسولو او د ټوليز امنيت په تأمين، د فساد په له منځه وړلو او د مرکزي اقتدار په رامنځ ته

کولو سره هڅه روانه ده چې د اقتصادي او سیاسي-امنیتي بنسټونو په وړاندې ټولې ستونزې پای ته ورسول شي.

**۴ـ۲ـ۲ـ۲: بهرني لاملونه**

افغانستان د حساس جیوپولیټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت د درلودلو له مخې د سپټمبر د یولسمې نېټې له پېښې څخه وروسته د نړۍ په نوي جیوستراتیژیک نظام کې ځانګړی ځای ترلاسه کړی دی (پیشگاهی فرد او رحیمی، ۱۳۸۷: ۱۰۷ و ۱۰۸). له همدې کبله افغانستان د سیمییزو او نړیوالو ځواکونو د پام وړ ګرځېدلی او دا ځواکونه هڅه کوي، په افغانستان کې نفوذ، واک او حضور ترلاسه کړي.

په افغانستان کې د سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ په رامنځ ته کولو کې بهرني لاملونه، ژوره او پراخه ونډه لري چې لدې امله د افغانستان اقتصادي، سیاسي-امنیتي وضعیت په جدي توګه له ګواښ او ننګونې سره مخ شوی دی او دا لاملونه د دې لامل ګرځېدلي دي چې د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه تر نن ورځې پورې پلې نشي، هغه هېوادونه چې د افغانستان په مسائلو کې په ژوره توګه ښکېل دي او افغانستان يې له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ، ګواښ او ننګونو سره مخ کړی دی، د هغوی له ډلې څخه ډېر مهم او ژور اغیز لرونکي هېوادونه؛ امریکا، اروپایي ټولنه، روسیه، چین، ایران، پاکستان او د هندوستان هېوادونه دي، چې هریو يې په بېلابېله توګه تر بحث لاندې نیسو.

**الف: امریکا او اروپایي ټولنه:** افغانستان د بې ساري او ارزښتمن موقعیت له امله چې د انرژۍ د بډایه سیمو تر څنګ پروت دی؛ د سپټمبر د یولسمې نېټې له پېښې سره سم د امریکا او لوېدیځو ځواکونو (ناټو) «اروپایي ټولنې» لخوا اشغال شو، ترڅو د اسلام پر ضد د جګړې ترڅنګ په لوی منځني ختیځ کې د چین، ایران او روسیې د پرمختګ او نفوذ مخنیوی او په مرکزي آسیا، د آسیا جنوب او د آسیا په ختیځ کې واک، حضور او نفوذ ترلاسه کړي او پدې سیمه کې هایدروکاربني او بریښنایي انرژي او د هغه د پېر او پلور بازارونه تر ولکه او د روسیې انحصار، واک او نفوذ په دې سیمه کې ترفشار لاندې راولي او له خپلو ګټو سره سم اقتصادي دهلیزونه رامنځ ته کړي، چې په پایله کې د افغانستان د اسلامي امارت لخوا، له ماتې سره مخ شول او اشغال پای ته ورسید (جوادی ارجمند، کریمی قهرودی و اخباری، ۱۳۹۴: ۵۲-۳۳). او اوس هم هڅه کوي چې پدې سیمو کې نفوذ او واک ولري.

**ب: روسیه:** روسیه د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د افغانستان په سیاسي-امنیتي او اقتصادي مسائلو کې په پراخه کچه لاس لري (فرجی راد، ۱۴۰۰، ۴). په (۱۹۷۹) کال کې روسیې په افغانستان باندې یرغل وکړ او د دې یرغل له کبله په افغانستان کې سیاسي-امنیتي بې ثباتي رامنځ ته شوله، چې دا بې ثباتي او اغیز يې تر نن ورځې دوام لري او په افغانستان کې لا تر اوسه هم د افغانستان پر سیاسي-امنیتي او اقتصادي مسائلو د دې یرغل بدې پایلې ادامه لري (احمدي، ۱۳۸۷: ۹۴-۹۵). روسیه هڅه کوي تر څو د مرکزي آسیا په سیمه کې؛ چې دا سیمه د خپل نفوذ سیمه ګڼي، د امریکا او لوېدیځ د نفوذ او حضور

مخه ونيسي او پدې سيمه کې پر انرژۍ خپل انحصار او واک وساتي، په ټوليزه توګه د روسيې موخې په دې سيمه کې؛ آزادو اوبو ته د لاسرسي په پار د ځمکني پل جوړول او د آسيا په جنوب کې د هايدروکاربني او ټکنالوژيکي محصولاتو د خرڅلاو لپاره بازار ته لاسرسی، ګڼلای شو (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲).

**ج: چين:** چين هم د سيمې هغه لوبغاړی دی چې د افغانستان او منځنۍ آسيا پر مسائلو ژوره اغېزه لري، چين د خپل مخ پر ودې صنعت او د اقتصاد د لاپياوړتيا په موخه انرژۍ ته ډېره اړتيا لري او همدارنګه د خپلو سوداګريزو توکو د پلور لپاره په سيمه او نړۍ کې د بازار موندلو په لټه کې دی، لدې مخې چين د مرکزي آسيا په سيمه کې هڅه کوي، خپل نفوذ او حضور پياوړی کړي ترڅو د انرژۍ سرچينو او د توکو د پلور لپاره بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي، په مقابل کې امريکا او روسيه د مرکزي آسيا په سيمه کې د چين د نفوذ او حضور په وړاندې حساسيت او وېره لري، له دې امله په ياده سيمه کې د نوموړو ځواکونو ترمنځ کلکه سيالي روانه ده او دا سيالي د لامل ګرځېدلې چې د منځنۍ آسيا او افغانستان امنيت او سياسي ثبات له ګواښ سره مخ شي، په پايله دا مسائل د دې لامل ګرځېدلي چې د شمال-جنوب د ترانزيټ د طرحې د پلي کېدلو په وړاندې ستر خنډونه رامنځ ته کړي (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲).

**د: ايران:** ايران هم د يو بهرني لامل په توګه د افغانستان په سياسي-امنيتي او اقتصادي مسائلو کې ښکېل دی، ايران له افغانستان سره له يوې خوا د اوبو پر سر شخړې او لانجې لري او له بلې خوا د ايران او افغانستان ګډ فرهنګی، تاريخي، قومي او مذهبي مشترکات د دې لامل ګرځېدلي دي چې ايران هم د افغانستان په سياسي-امنيتي بې ثباتۍ کې ځرګنده ونډه ولري.

په ټوليزه توګه د ايران موخې؛ د مرزي، قومي، مذهبي او اقتصادي امنيت تأمين په ځانګړې توګه په ختيځو سرحدونو کې او په سيمه کې د امنيتي مناسباتو د رامنځ ته کولو لپاره د اقتصادي پايګاه جوړول، ګڼلای شو (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲). همدارنګه ايران هڅه کوي چې د شمال-جنوب کريډور د ايران له خاورې څخه تېر شي، دا ټول هغه لاملونه دي چې ايران يې دې ته هڅولی دی ترڅو په افغانستان کې بې ثباتۍ او نا امنۍ ته لمنه ووهي او دا مسائل د دې لامل ګرځېدلي دي چې تر اوسه د شمال-جنوب د ترانزيټ طرحه پلې نشي.

**و: پاکستان:** پاکستان د افغانستان د سياسي-امنيتي بې ثباتۍ په لړ کې يو مهم لامل ګڼل کيږي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړيکې ډېرې پېچلې او ماتېدونکې دي، پاکستان د افغانستان امنيت او ثبات د خپل ملي امنيت په وړاندې ګواښ ګڼي او له پاکستان سره د افغانستان په سياسي، اقتصادي او نظامي تړاو ډېر ټينګار کوي (پيشګاهی فرد او رحيمی، ۱۳۸۷: ۱۱۲). پاکستان له هندوستان څخه د وېرې له امله، د ډيورنډ په مسئله کې د افغانستان له وېرې چې د دې ادعا له مخې له پاکستان څخه يوه لويه برخه بېلېدلای شي او پاکستان له تجزيې سره مخ کيږي. اقتصادي کمزوري او له هندوستان سره د کشمير پر سر د شخړو ورانوونکې پايلې، پاکستان دې ته اړباسي چې د افغانستان په وړاندې له تهاجمي تګلارې څخه کار

واخلي او افغانستان ته د خپل ستراتیژیک عمق په سترگه وگوري (فرجی راد، ۱۴۰۰: ۳). چې پدې وروستیو کې په سرحدې کرښو کې د افغانستان د اسلامي امارت او د پاکستان د فوځ ترمنځ له نښتو وروسته؛ د پاکستان د حکومت د رسنیزو څرگندونو په لړ کې افغانستان د پاکستان له ستراتیژیک عمق څخه په لومړۍ درجه دښمن بدل شوی دی. لدې کبله د پاکستان هېواد د افغانستان د سیاسي-امنیتي وضعیت د بې‌ثباتۍ مهم لامل گڼل گیري او په پرلپسې توگه هڅه کوي چې په افغانستان کې یو ځواکمن مرکزي دولت، سیاسي ثبات، اقتصادي وده او امنیت را منځ ته نشي، په ټولیزه توگه د پاکستان موخې؛ د ایډیولوژیک هژمون د پراختیا لپاره د عملیاتي صحنې جوړول او له هندوستان سره د شخړهایزې فضا د جوړولو له لارې سیاسي گټه اخیستنه، گڼلای شو (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲). د پاکستان دا چلند او سیاست د دې لامل گرځېدلی چې په افغانستان کې سیاسي-امنیتي ثبات له گواښ سره مخ او د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې پلي کېدل له خنډ او ځنډ سره مخ شي.

**هـ : هندوستان:** هندوستان هم د بهرني لامل په توگه له پاکستان سره د کشمیر په مسائلو کې د سیالۍ او رقابت په پار، چې افغانستان د خپل نفوذ حوزه گڼي، د افغانستان په بې‌ثباتۍ کې ژوره ونډه لري، په افغانستان کې د دې هېوادونو اطلاعاتي او استخباراتي سیالي، د هند نظامي او د زده کړو مرستې، د هندي فرهنگ پراختیا او سوداگریزې اړیکې، په افغانستان کې د هند له فعالیتونو څخه دي، حتی د پاکستان او هند ترمنځ په افغانستان کې انفجاري فعالیتونه هم تر سره کیږي چې پاکستان د هند له دې فعالیتونو څخه په وېره کې دی او دا له هند سره د کشمیر د مسئلې له امله د خپل ملي امنیت په وړاندې گواښ گڼي، نو دا طبیعي ده چې د دې دوه هېوادونو رقابت او سیالي په افغانستان کې د بې‌ثباتۍ او ناامنۍ لامل گرځي، همدې بې‌ثباتۍ او ناامنۍ افغانستان له هر اړخیزو ننگونو او گواښونو سره مخ کړیدی (فرجی راد، ۱۴۰۰: ۴). په ټولیزه توگه د هندوستان موخې؛ د پاکستان د نفوذ د مخنیوي په پار د کورنۍ سوداگرۍ د وړتیا جوړونه او د پراختیایي او عمراني برنامو له لارې د پاکستان د ځان‌غوښتنې کنترول گڼلای شو (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲). که څه هم اوس مهال د افغانستان د اسلامي امارت په حاکمیت سره په هېواد کې بې‌ثباتي او امنیتي ستونزې کابو شوې دي، ولې د افغانستان، پاکستان او هندوستان ترمنځ د شخړهایزو مسائلو د شتون له امله د سیمې په کچه د بې ثباتي او ناامني شتون د دې لامل گرځېدلی دی چې د افغانستان له مسیر څخه د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه لا تراوسه پلې نشي.

### ۴-۲-۳: د شمال – جنوب د ترانزېټ د طرحې اقتصادي او سیاسي-امنیتي فرصتونه

افغانستان د حساس جیوپولیتیکي او جیواکانومیکي موقعیت له امله د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو جیوپولیتیکي موخو په توگه د نړۍ د سترو ځواکونو د توجه په مرکز کې واقع شوی دی (پیشگاهی فرد او رحیمي، ۱۳۸۷).

افغانستان د لارې په داسې یوه تقاطع کې واقع شوی دی چې د نړۍ زړه د هند له شبه قارې سره نښلوي، دا هیواد خپل اهمیت له موقعیت څخه ترلاسه کوي، داسې موقعیت چې د وچې او سمندر سره کرښه لري او په تاریخ کې د نړۍ دلویو ځواکونو ترمنځ د ټکر نقطه وه.
د مرکزي آسیا د هېوادونو له خپلواکۍ سره سم چې دا هېوادونه په وچه کې راګیر دي او آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، افغانستان د سیمې ستراتیژیک محور وګرځېد، او د منځنۍ آسیا د هېوادونو لپاره یوازینۍ او آرزانه لاره ده چې دا هېوادونه لدې لارې څخه د آسیا جنوب د هېوادونو بازارونو او آزادو اوبو ته لاسرسی ترلاسه کولای شي (تمنا، ۱۳۸۷: ۱۱۳).
افغانستان د مرکزي آسیا، د آسیا د جنوب، د آسیا د ختیځ او د لوی منځني ختیځ د ثقل د مرکز او د اقتصادي څلورلارې حیثیت لري او د انرژۍ د بډایه سیمو تر څنګ پروت دی، چې له یو غوره او بې‌ساري جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیت څخه برخمن دی (جوادی ارجمند، کریمی قهرودی و اخباری، ۱۳۹۴: ۳۳-۵۲). پدې توګه افغانستان د منځنۍ آسیا د برخلیک جوړونکي لامل په توګه اهمیت او ارزښت لري (احمدي، ۱۳۸۷: ۹۴-۹۵).
د افغانستان جیواکانومیک او جیوپولیټیک موقعیت د وریښمو د لرغوني لارې د مسیر په توګه، او د دې هېواد موقعیت د مهمو ګاونډیو هېوادونو او سیمییزو سیستمونو تر منځ هغه لاملونه دي چې د دې هېوادونو لخوا له افغانستان څخه د ترانزیټ او ترانسپورټ د کانون په توګه ګټه اخیستنه، د هېواد له مزیتونو او فرصتونو څخه ګټل کیږي (Shoaib, Ahmad, 2015: ). افغانستان د مرکزي آسیا له هېوادونو سره د ګاونډیتوب له مخې په سیمه او نړۍ کې د انرژۍ د یوې مهم ترانزیټي مسیر او بازار په توګه کولای شي د سیمې د اقتصاد په پراختیا کې بنسټیزه ونډه ولري. داچې د مرکزي آسیا هېوادونه په وچه کې راګیر دي او آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، د دې سیمې د ګازو او نفتو لیږد د نورو هېوادونو مصرفي بازارونو ته د بېلابېلو نل لیکو غزلو ته اړتیا لري، لدې مخې د افغانستان جیوپولیټیک او جیواکانومیک موقعیت دا پټانسیل او وړتیا لري ترڅو د مرکزي آسیا د انرژۍ لېږد؛ د آسیا جنوب ته آسانه او چمتو کړي او د انرژۍ د ترانزیټ د تبادلاتو د یو محور په توګه وپېژندل شي (علیرضایی، ۱۳۹۰: ۱۲۰). افغانستان د مرکزي او جنوبي آسیا ترمنځ د ترانزیټ د لنډ او آرزانه مسیر په توګه د دې سیمو تر منځ د بشپړ سوداګریز پټانسیل او ظرفیت د پرانیستلو او په پایله کې په ټوله سیمه کې د یوې نوې سوداګرۍ په برخه کې د کلیدي ونډې ظرفیت او وړتیا لري. د نورو مسیرونو په پرتله افغانستان کولای شي ډېر لنډ او د سپما وړ جاده یی، د اوسپنې د پټلیو، د ګازو، نفتو او بریښنا د کرښو مسیرونه د مرکزي آسیا او جنوبي آسیا تر منځ چمتو کړي، دې مسائلو د متقابل تړاو د نظریې له مخې د افغانستان، مرکزي آسیا او د جنوبي آسیا تر منځ یو پېچلی متقابل تړاو رامنځته کړی دی او دا سیمې یې یو له بل سره په اقتصادي، سیاسي-امنیتي مسائلو کې تړلې دي. د مرکزي آسیا هېوادونه؛ د سیمې له هېوادونو سره د هایدروکاربني او د بریښنایي انرژۍ سوداګري او د روسیې له نظارت پرته د اقتصادي ګټو د تأمین لپاره هڅې تر سره کوي او د دې هڅو د تعمیل لپاره

د افغانستان له جيوپوليټيک موقعيت څخه ګټه اخيستنه د دې هېوادونو لپاره يوازينۍ او آرزانه لاره ده (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲).
له بلې خوا هندوستان د خپل مخ پر ودې صنعت لپاره انرژۍ ته ډېره اړتيا لري او همدا ډول پاکستان د ګازو او برېښنا له کمښت سره مخ دی، د دې هېواد اقتصاد له بېلابېلو ستونزو؛ لکه بېکاري، ټکنۍ اقتصادي وده او لوړ تورم، د دې مسائلو د رامنځته کېدلو او دوام يوازينی دليل د انرژۍ په برخه کې د کورنيو غوښتنو په وړاندې د پاکستان ناتواني ده، دا مسئله دومره اهميت لري چې د پاکستان لپاره په يوه کليدي سياسي، اقتصادي او ټولنيزه مسئله بدله شوېده. دا هېوادونه دې ته اړ دي چې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې له لارې د افغانستان له مسير څخه خپلې دا اړتياوې پوره کړي، امريکا هم له ايران او روسيې سره د اختلافاتو له مخې د افغانستان له مسير څخه د شمال-جنوب د کريډور د تېرېدلو ملاتړ کوي، چين هم اړتيا لري چې د افغانستان له مسير څخه د يوې جادې او يو کمربند د طرحې د تعميل لپاره ګټه واخلي.
دا ټول هغه فرصتونه دي چې د شمال جنوب د طرحې د پلي کېدلو چانس رامنځ ته کوي او د دې طرحې د تعميل په صورت کې د افغانستان او سيمې د هېوادنو تر منځ سياسي-امنيتي او اقتصادي همګرايي رامنځته کېدلای شي، چې په پايله کې افغانستان له يوې خوا تلپاتې سياسي-امنيتي ثبات ته رسيږي او له بلې خوا د دې طرحې د تعميل په صورت کې افغانستان په ميليونونو ډالر د انرژۍ د ترانزېټ د حق العبور له مخې ګټه او عايدات ترلاسه کوي او په هېواد کې په زرګونو کسانو ته د کار زمينه چمتو کيږي او په دې توګه به افغانستان د ښېرازۍ، سياسي-امنيتي ثبات، اقتصادي ودې، پرمختګ او پراختيا په لور سوق شي.

**۵ـ مناقشه**

په دې څېړنه کې چې د توصيفي-تحليلي تګلارې څخه په ګټه اخيستنې سره کومې پايلې ترلاسه شوې دي، دا څرګندوي چې دا پايلې د پيشګاهيفرد او رحيمي له څېړنې سره چې د «جايګاه افغانستان در جيو استراتيژي نظام نوين جهاني» تر عنوان لاندې ترسره شوې وه، د افغانستان د جيوپوليټيک او جيوستراتيژيک د موقعيت د اهميت او ارزښت په برخه کې همغږې لري، اما د افغانستان د حساس او ارزښت لرونکي جيوپوليټيکي او جيواکانوميکی موقعيت له مخې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې په مسير کې د واقع کېدلو او له دې امله له يو لړ ستونزو او ننګونو سره د مخ کېدلو او همدارنګه د همدې طرحې په بنسټ دې هېواد ته د اقتصادي فرصتونو د چمتو کېدلو په برخه کې توپير لري.
همدارنګه د حميدي نيا او صالحي دولت آباد له څېړنې سره چې د «انرژي عرصه بازی بزرګ جديد در آسيای مرکزی: مطالعه موردی روسيه، آمريکا و چين» تر عنوان لاندې ترسره شوې وه، په افغانستان کې د نړۍ د لويو ځواکونو (چين، روسيې، اروپا او امريکا) د سيالۍ او رقابت په برخه کې چې دا سيالي او رقابت، مرکزي آسيا (د انرژۍ بډايه سيمې) ته د لاسرسي په پار د نوې سترې لوبې تر عنوان لاندې رامنځ

ته شوې؛ همغږي لري، ولې دا چې د دې سیالۍ او رقابت په لړ کې په ځانگړې توگه د شمال-جنوب د ترانزیت د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره افغانستان په سیاسي-امنیتي او اقتصادي ابعادو کې له کومو ستونزو او ننگونو سره مخ شوی دی او د دې طرحې په رامنځ ته کېدلو سره افغانستان ته کوم اقتصادي، سیاسي-امنیتي فرصتونه په لاس ورځي؛ توپیر لري.

په همدې ترتیب د ودادي کلانتر، سیف الدین او حاجي نژاد له څېړنې سره چې د «بررسي رفتار پاکستان و هند در قبال دو خط لوله تاپی و صلح با رویکرد نظریه ای بازی ها» تر سرلیک لاندې، د بایی لاشکی او عزتی له څېړنې سره چې د «تاپی (خط لوله گاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند؛ زمینه‌های ایجاد و موانع پیش‌رو» تر سرلیک لاندې او د امیراحمدیان له څېړنې سره چې د «حمل و نقل و ترانزیت در آسیای مرکزي» تر سرلیک لاندې تر سره شوې دي، افغانستان ته د تاپي د گازو د نل لیکې د اقتصادي فرصتونو او د دې طرحې د تعمیل په وړاندې د آسیا د جنوب د هېوادونو ترمنځ د کړکېچونو د څرنگوالي او لاملونو له امله د خنډونو د رامنځ ته کېدلو په برخه کې همغږي لري، ولې داچې افغانستان د شمال-جنوب د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره د سیمې او نړۍ د لویو ځواکونو د سیالۍ او رقابت په ډگر بدل شوی او له دې امله افغانستان ته د سیاسي-امنیتي ابعادو له اړخه کوم گواښونه او ننگونې وړاندې شوي دي؛ له دې اړخه دا څېړنه له نوموړو څېړنو سره توپیر لري.

په دې بنسټ د دې څېړنې پایلې د فرضیو په تائید سره دا څرگندوي چې د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره د سیمې او نړۍ لوی ځواکونه هڅه کوي چې د مرکزي آسیا د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي په پار د افغانستان له جیوپولیټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت څخه په گټې پورته کولو سره؛ نوموړو سرچینو ته لاسرسی و مومي او د سیالو لوبغاړو لاس‌رسي، واک، حضور او نفوذ پدې سیمه کې محدود او تر فشار لاندې راولي، چې د دې سیالیو په لړ کې افغانستان له یوې خوا له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ سره مخ شوی دی او له بلې خوا همدې طرحې د هېواد د سیاسي-امنیتي ثبات او اقتصادي ودې په پار فرصتونه هم رامنځ ته کړي دي، چې په همدې توگه د څېړنې ټاکلې موخې او اهداف ترلاسه شوي دي.

**٦ـ پایله اخیستنه**

د څېړنې پایلې دا څرگندوي چې افغانستان د یو حساس، بې بدیله، بې ساري او مهم جیوپولیټیک، جیوستراتیژیک او جیواکانومیک موقعیت درلودونکی دی، داسې موقعیت چې د آسیا د څلورو سیمییزو سیستمونو «مرکزي آسیا، د آسیا جنوب، لوی منځنی ختیځ او د آسیا ختیځ» تر منځ یې یو پېچلی متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی، افغانستان د هارټلنډ او ریملنډ په سیمو کې موقعیت لري او د انرژۍ د بیضې هارټلنډ (د انررژۍ بډایه سیمو) ته نیږدي پروت دی.

د مرکزي آسیا هېوادونه چې د طبیعي انرژۍ سترې زېرمې لري او د جیوپولیټیک موقعیت له مخې په وچه کې راگیر او آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، نو پدې بنسټ د افغانستان جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیت او مسیر ته چې د دې هېوادونو لپاره یو لنډ او آرزانه مسیر دی، ډېره اړتیا لري، همدارنگه د آسیا

د جنوب هېوادونه د خپل مخ پر ودې صنعت او توسعې لپاره انرژۍ ته اړتیا لري، دا هېوادونه هم د انرژۍ د تأمین لپاره د افغانستان جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیت او مسیر ته ډېره اړتیا لري او اړ دي چې د افغانستان له لارې د مرکزي آسیا انرژۍ ته لاسرسی ومومي.
د افغانستان او د مرکزي آسیا ځانګړې جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیتونه د دې لامل ګرځېدلي دي چې د سیمې او نړۍ ځواکونه لکه امریکا، اروپایي ټولنه، روسیه، چین، ایران، پاکستان او هند؛ د افغانستان له حساس، بې بدیله او بې ساري جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیت څخه په ګټې اخیستنې سره د مرکزي آسیا د انرژۍ بډایه سرچینو ته لاسرسی او نفوذ تر لاسه او پدې سیمه کې یو له بل سره کلکه سیالۍ او رقابتونه ترسره کوي چې دا سیمه د دې ځواکونو تر منځ د سیالۍ او رقابت په ډګر بدله شوېده، په دې بنسټ د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره؛ له یوې خوا د افغانستان د سیاسي-امنیتی ثبات او اقتصاد په وړاندې یو شمېر ګواښونه او ننګونې را منځ ته شوې دي او دا هېواد؛ چې د مرکزي آسیا د فتحې د کلۍ په توګه پېژندل کیږي، د مرکزي آسیا د انرژۍ د طبیعي سرچینو سرشاره زېرمو ته د لاسرسي په پار د سیمې او نړۍ د ځواکونو د رقابت او سیالۍ ډګر ګرځېدلی دی، کله چې له سړې جګړې څخه وروسته د لویو ځواکونو ترمنځ اقتصادي سیالۍ زور واخیست، افغانستان د انرژۍ بډایه زېرمو ته د نېږدې موقعیت له مخې د سپټمبر د یولسمې نېټې له پېښې سره سم د امریکا په سرمشریزه د ناټو تر یرغل لاندې واقع او اشغال شو، امریکا د افغانستان د جیوپولیټیک او جیواکانومیک موقعیت څخه په ګټه پورته کولو سره هڅه کوله چې په لوی منځنې ختیځ او مرکزي آسیا کې د چین، ایران او روسیې د پرمختګ او نفوذ مخنیوی وکړي او په مرکزي آسیا، د آسیا جنوب او د آسیا په ختیځ کې واک او نفوذ ترلاسه کړي او له خپلو ګټو سره سم اقتصادي دهلیزونو جوړ او د انرژۍ بډایه زیرمو ته د لاسرسي او نفوذ تر څنګ د روسیې انحصار، واک او نفوذ په دې سیمه کې ترفشار لاندې راولي، چې په پایله کې افغانستان له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ او ننګونو سره مخ شو چې د یاد اشغال ناوړه اغیز تر نن ورځې پورې دوام لري. پدې اساس د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې؛ رامنځ ته کېدل، د افغانستان واقع کېدل د دې طرحې په مسیر کې او په مرکزي آسیا کې د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي او نفوذ په پار د سیمییزو او نړیوالو ځواکونو ترمنځ سیالۍ او رقابتونه هغه دلایل او لاملونه دي چې لدې امله له یوې خوا افغانستان ته د کورنیو او بهرنیو لاملونو له امله یولړ جدي، سیاسي-امنیتي او اقتصادي ستونزې را ولاړې شوې دي او له بلې خوا د افغانستان دې حساس او بې بدیله جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي موقعیت او په ځانګړې توګه د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې، د هېواد د سیاسي-امنیتي ثبات او اقتصادي ودې لپاره یو مزیت او فرصت هم رامنځ ته کړی دی، د مرکزي آسیا د هېوادونو لپاره؛ آزادو اوبو او د انرژۍ د پلور بازارونو ته یوازینۍ، آسانه، آرزانه او لنډه لاره ده، د آسیا د جنوب هېوادونو لپاره د مرکزي آسیا انرژۍ ته د لاسرسي یوازینی او بې بدیله ترانزیټي مسیر دی، دې مسئلې د افغانستان او د دې سیمییزو سیستمونو ترمنځ یو پېچلی متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی، چې واکمن نظام

د یو متوازن او اقتصاد محوره سیاست په تعمیل، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره په مثبت تعامل سره کولای شي چې د هېواد او د دې سیمییزو سیستمونو ترمنځ همګرایی او همغږي رامنځ ته کړي، ګواښونه او ستونزې په فرصتونو بدلې، په هېواد کې بشپړ پایښت لرونکی امنیت او ثبات تأمین او هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او پراختیا په لور سوق کړي.

### ۱ـ٦ وړاندیزونه:

۱- د افغانستان اسلامي امارت باید هڅه وکړي چې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست پر مټ، مثبت تعاملات پیاوړي کړي.

۲- د هېواد په کچه ترانزیتي لارې باید په معیاري توګه ورغول شي

۳- افغانستان باید له بېلابېلو لارو څخه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره وصل شي ترڅو د هېواد د بې ساري موقعیت له مزیت څخه په غوره توګه ګټه پورته کړل شي.

۴- داچې افغانستان د سیمې د څلورلارې حیثیت لري او ترانزېټ د هېواد د اقتصاد یوه مهمه برخه جوړوي، نو پدې برخه کې باید لا ډېرې څېړنې ترسره شي.

### ۷ـ سرچینې

ابوالحسن شیرازی، ح (۱۳۸۲). روند جهانی شدن در آسیای مرکزی و بازتاب آن بر منافع ملی ایران، فصلنامه مطالعات خاورمیانه، ۱۰ (۴). ۲۳-۵۰. https://cmess.sinaweb.net/article_151806.html

احمدي، ح (۱۳۸۷) تحولات منطقه اي افغانستان (به مناسبت همایش بین المللي میراث مشترك مکتوب ایران و افغانستان)، تهران: نشر مؤسسه مطالعات تاریخ معاصر ایران. www.google.com/search?q

اطاعت، ج (۱۳۷٦). ژئو پلیتیک و سیاست خارجی ایران، تهران: نشر سفیر.

امیراحمدیان، ب (۱۳۸۷). حمل ونقل و ترانزیت در آسیای مرکزی،فصلنامه مطالعات اوراسیای مرکزی، ۱ (۱)، ۲۹-۴۸. https://journals.ut.ac.ir/article_27437.html

امیراحمدیان، ب (۱۳۹۴). کریدور شمال-جنوب و اهمیت آن در همگرایی منطقه‌ای، فصلنامه مطالعات آسیای مرکزی و قفقاز، ۱ (٦۱)، ۷-۲۲. https://elmnet.ir/article/2055817-20354/

آشوری، د (۱۳۷۳). دانشنامه‌ی سیاسی، تهران: نشر مروارید.

بابی لاشکی، م و عزتی، ع (۱۳۹۳). تاپی «خط لوله گاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند؛ زمینه‌های ایجاد و موانع پیش رو، فصلنامه جغرافیای سرزمینی، ۱۱ (۴۲)، ۱-۱٦. https://www.noormags.ir/view/fa/articlepage/1089783/

پیشگاهیفرد، ز و رحیمی، س (۱۳۸۷). جایگاه افغانستان در ژئو استراتیژی نظام نوین جهانی، فصلنامه علوم جغرافیایی، ۸ (۱۱)، ۱۰۰-۱۳۱. https://www.sid.ir/paper/102405/fa

ترابی، ق و صانعی، ر (۱۳۹۶). موانع تحقق خط لوله تاپی بر اساس نظریه همگرایی، فصلنامه تخصصی علوم سیاسی، ۱۳ (۴۱)، ۲۵-۴۰. https://civilica.com/doc/1279746/

تمنا، ف (۱۳۸۷) سیاست خارجي آمریکا در افغانستان، تهران، نشر پژوهشکده مطالعات استراتیژیک.

جوادي ارجمند، م، کریمی قهروری، م او اخباری، م (۱۳۹۴). سیر تحول سیاست خارجی آمریکا نسبت به افغانستان بر اساس نظریات جیوپلیتیک، فصلنامه تخصصی علوم سیاسی، ۱۱ (۳۲)، ۳۳-۵۲. https://www.sid.ir/fileserver/jf/469-275427-fa-1117023.pdf

حافظ نیا، م (۱۳۸۱). جغرافیای سیاسی ایران، تهران: نشر سمت.

حافظ نیا، م، شمس دولتآبادی، م و افشردی، م.ح (۱۳۸٦). علائق ژئوپلیتیکي ایران در آسیای مرکزی و فرصتهای پیش رو، فصلنامهی ژئوپلیتیک، ۳ (۳)، ۷۹-۴٦. https://journal.iag.ir/article_57113.html

حسین پور پویان، رضا (۱۳۹۲). تبیین مؤلفه های جغرافیايي و ژئو پلیتیکی روابط در مناطق ژئو پلیتیکی، فصلنامه جیو پلیتیک، ۹ (۲)، ۱٦۱-۲۰۳. https://www.sid.ir/paper/465724/fa

حسینی، م (۱۳۹۷). بررسی ژئو پلیتیک و تحولات اخیر افغانستان «با اثرگذاری بر امنیت جمهوری اسلامی ایران»، فصلنامه تحقیقات جغرافیايي، ۱۳ (۴)، ۳۵-۷٦. https://www.sqts.ir/article_154814_73c655596c8f0ba9f92497c1e44d09ca.pdf

حکمت نیا، ح (۱۳۸۳). افغانستان هارتلند آسیا، فصلنامه پیک نور، ۲ (۱)، ۷۴-۸۳.

حمیدی نیا، ح و صالحی دولت آبادی، ر (۱۳۹۴). انرژی «عرصه بازی جدید» در آسیای مرکزی (مطالعه موردی روسیه، آمریکا و چین، فصلنامه آسیای مرکزی و قفقاز، ۳ (۹۰)، ٦۷-۹٦. https://sid.ir/paper/94492/fa

خلیلي، م، حیدري، ج و صیادی، هـ (۱۳۹۲) پیوند کد و ژنوم جیوپلتیك در سیاست خارجي (مطالعه موردي: افغانستان و ایران)، د نړیوالو اړیکو د څېړني فصلنامه، ۱ (۹)، ۷۲-۳۷. https://www.iisajournals.ir/article_41933.html

دره، م (۱۳۷۷). ژئو پلیتیك؛ ارائه تعریفي جدید، فصلنامه تحقیقات جغرافیایي، ۱۳ (۴)، ۷٦-۹۸.
https://www.iisajournals.ir/article_41933.html

رحمانی، م و میری، ا (۱۳۹۴) تأثیر مؤلفه‌های موازنه نرم چین و روسیه بر هژمونی ایالات متحده آمریکا، فصلنامه آسیای مرکزی و قفقاز، ۱ (۹۲)، ٦۵-۹۵. https://ca.ipisjournals.ir/article_22199.html

رفیع، ح (۱۳۸۷). دانشواژه جیو پلیتیک و جیو استراتیژی در دنیای اطلاعات (با تأکید بر مورد ایران)، فصلنامه سیاست، ۳۸ (۳)، ۹۵-۱۱٦. https://www.sid.ir/paper/110042/fa

سجادپور، س و جهانبخش، م(۱۳۹۳). تاثیر عنصر مخدر افغان بر امنیت ملی فدراسیون روسیه، فصلنامه مطالعات آسیای مرکزی وقفقاز، ۲۰ (۸۸)، ۵۹-۸۵. https://ca.ipisjournals.ir/article_17892.html

شاران، ت (۱۳۹۰). نگاهی به پس منظر توسعه اقتصادی در کشورهای توسعه‌یافته، فصلنامه مطالعات استراتژیک، ۱ (۲۵-۲٦)، ۱۳۲- ۱٦۳.

شفیعی، ن (۱۳۸۸). بازتولید قدرت در افغانستان: تبیین قدرت یابی طالبان، مطالعات اوراسیای مرکزی، ۲ (۴). ۹۹-۷۸. https://sid.ir/paper/151207/fa

شیخ عطار، ع (۱۳۷۱). ریشه های رفتار سیاسي در آسیای مرکزی و قفقاز، مرکز مطالعات آسیای مرکزی و قفقاز، تهران: نشر وزارت امور خارجه. https://www.noormags.ir/view/fa/articlepage/859988/

صفوی، س و شیخیاني، ع (۱۳۸۹). اهداف کوتاه‌مدت و بلندمدت ایالات متحده امریکا در تهاجم نظامي به افغانستان، فصلنامه جغرافیاي انساني، ۲ (۳) ، ۲۴-۱. https://www.ensani.ir/fa/article/231052/

طلوعی، م (۱۳۷۲)، فرهنگ جامع سیاسی، ترجمه: بی‌جا، نشر سخن.

عزتي، ع (۱۳۸۲). ژئو پولتیک در قرن بیست و یکم، تهران: نشر سمت.

عزتی، ع (۱۳۸۰). ژئو پولتیک در قرن بیست و یکم، تهران: نشر سمت.

علی آبادی، ع (۱۳۷۳). افغانستان، تهران: نشر مؤسسه چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه.

علیرضایی، م (۱۳۹۰). افغانستان و اهمیت انرژی، فصلنامه مطالعات استراتژیک، ۱ (۲۵- ۲٦)، ۱۱۲-۱۳۸. https://faolex.fao.org/docs/pdf/AFG184368.pdf

فرجی راد، ع (۱۴۰۰). عوامل ژئو پلیتیکی بحران زا در افغانستان و آینده پژوهشی این بهرانها، فصلنامه گروه جیو پلیتیک و دیپلماسی، ۲ (۱)، ۱-۱۰. https://iag.ir/wp-content/uploads/2021/08/

فرجی راد، ع، درخور، م و ساداتی، س (۱۳۹۰). ژئو پلیتیک جدید افغانستان پس از حمله یازدهم سپتامبر، فصلنامه علمی-پژوهشی جغرافیای انسانی، ۳ (۲)، ۱۹۳-۲۰۵. https://sid.ir/paper/470326/fa

فیاضی، م (۱۳۸٦). رقابت پیرامون انرژي آسیای مرکزی و قفقاز، فصلنامه مطالعات آسیای مرکزی و قفقاز، ۱ (٦۰)، ۱۵۴-۱۷۷. https://www.sid.ir/paper/174035/fa

قاسمي، ف (۱۳۹۰) نظريه هاي روابط بين الملل و مطالعات منطقه اي، تهران، نشر ميزان.

قاسمی، ع (۱۳۹۳). راهبردهای گسترش روابط اقتصادی ایران و افغانستان، پایان نامه کارشناسی ارشد، دانشکده مدیریت و اقتصاد، دانشگاه تهران.

قوام، س (۱۳۹۰). روابط بین الملل؛ نظریه ها و رویکردها، تهران: نشر سمت.

کریمی پور، ی (۱۳۷۹). مقدمه ای بر ایران و همسایگان، تهران: نشرـ جهاد دانشگاهی، نشرـ تربیت معلم.

کولایی، ا و مرادی، آ (۱۳۹۰). سیاست انرژی روسیه در آسیای مرکزی، فصلنامه راهبرد، ۲۰ (٦۱)، ۵٦-۳۱. https://www.sid.ir/paper/89128/fa

مجتهد زاده، پ (۱۳۷٦). جغرافيا و سياست در دنياي واقعيت‌ها نگاهي كوتاه به پاره‌ای از مفاهيم جغرافياي سياسي و ژئو پليتيك، ماهنامه اطلاعات سياسي – اقتصادي، ۱ (۱۱۹-۱۲۰)، ۳۴-۴۵.

ملکوتیان، م (۱۳۸۳) جغرافیا و سیاست، قم: نشر حق یاوران.

واعظی، م و اسماعیل، ب (۱۳۸۸) «جايگاه افغانستان در سياست خارجي آمريكا (با استفاده از نظريه ثبات هژمونيك)»، فصلنامه مطالعات راهبردي جهان اسلام، ويژه افغانستان، ۱ (۱)، ۱-۱٦. https://journal.iag.ir/article_57036_59fa227af2f15ab2c13cdd9537d536fe.pdf

وحیدی راد، م (۱۳۹۲). نظریه وابستگی متقابل و کاربست آن در تاریخ معاصر ایران، فصلنامه خردنامه، ۱ (۱۰)، ۱۱۴-۹۹. https://www.noormags.ir/view/fa/articlepage/922182/

ودادی کلانتر، س، سیف الدین، ا و حاجی نژاد، ا (۱۳۹۷) «بررسی رفتار پاکستان و هند در قبال دو خط لوله تاپی و صلح با رویکرد نظریه «بازی‌ها» و ارائه پیشنهادهای راهبردی برای ایران»، فصلنامه راهبرد اقتصادی، ۷ (۲۷)، ٦۵-۹۴. https://econrahbord.csr.ir/article_103346.html

وریج کاظمی، م (۱۴۰۰). امکان سنجی بحران ژئو اکونومیک در افغانستان و تأثیر آن بر فضای پیرامون، فصلنامه جغرافیا و روابط انسانی، ۴ (۲)، ۳۹۹-۴۱۴. https://www.noormags.ir/view/en/articlepage/1836654/

ویسی، هادی (۱۴۰۰). بررسی رقابت های ژئو پلیتیکی و ژئو اکونومیک چین و هند در اوراسیا؛ کریډورهای ارتباطی و جیو پلیتیک چابهار و گوادر، فصلنامه پژوهش های جغرافیای انسانی، ۵۳ (۱)، ۲۱۳-۲۲٦. https://journal.ut.ac.ir/article_74503.html

یوسف زهي، ن، فرزانه پور، ح و بخشی، ا (۱۳۹۷). آسیب شناسی روابط بازرگانی ایران و افغانستان از منظر رهیاف اقتصاد سیاسی «۲۰۰۱-۲۰۱۸»، پژوهشنامه علوم سیاسی، ۱۳ (۲)، ۱۸۷-۲۲۴. http://www.ipsajournal.ir/article_349.html

Hagget, P (1972). Geography: A Modern Synthesis, New York, Evanston, Son Francisco and London: Harper and Row Publishers.

Karimipoor, Y (2001). Introduction to Iran and its neighbors (sources of Struggle and threat), Tehran: acecr Publications of Training Teacher University. Available at: https://www.sid.ir/en/VEWSSID/J_pdf/51011120181105.pdf

Remizov, O (2013), "The Concept of Energy Security in the Eu-Russia Relations: New Interdependencies", Institute of Government and Politics, Available at:

https://dspace.ut.ee/server/api/core/bitstreams/8867a79f-08db-4425-94c0-a890b8df2b16/content

http://dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=13400

2. Shoaib, A (2015). How can Afghanistan retake its position as a transit and transport hub between Central Asia and South Asia, The Silk Road through Afghanistan, 6th Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan, Kabul, 3-4 September 2015. Available at: https://www.researchgate.net/publication/283443417_How_can_Afghanistan_Retake_Its_Position_as_a_Transit_and_Transport_Hub_between_Central_Asia_and_South_Asia

# د دندې څخه د کارکوونکو رضایت او پر سازماني کړنو يې اغېز

**نصيراحمد مايار**

د تشبثاتو اداره، اقتصاد پوهنځی، کاروان پوهنتون، کابل افغانستان

ايميل: nasirmayar.2018@gmail.com

**لنډيز**

دا څېړنه د کارکوونکو له دندې څخه د رضایت تاثيرات د سازمان د کړنو په موخه ترسره شوي ده. د څېړنې نمونه ۴۳ تنه د کاروان پوهنتون کارکوونکي د ساده تصادفي نمونه گيری له میتود څخه په استفادي انتخاب شوي دي. ډېټا د راټولوني په موخه د طيف ليکرت پوښتنليک څخه چې پخوا ډيزاين او دې ته ورته څېړنه کې ورڅخه استفاده شوې ده. د راټولې شوې ډېټا د دقت په موخه له الفاء کرونباخ څخه گټه اخيستل شوې ده چې د کارکوونکو له دندې څخه رضایت او د سازمان د کړنو اعتبار ارزښتونه په ترتيب سره ( ۰.۹۴ ، ۰.۹۲ ) دي. ډېټا د SPSS په مرسته د مختلفو احصائيوي روشونو لکه واريانس تحليل، ريگريسيون او د واريانس د ضريب څخه په استفادي تحليل شوي ده. د گام په گام ريگريسيون پايلو څرگنده کړه چې د کارکوونکو رضایت له دندې څخه د سازمان په کړنو مثبت تاثير لري. د کارکونکو رضايت له دندې څخه او د سازمان کړنې تر منځ اړيکې مثبتې دي. يعني د کارکونکو په رضايت کې ښهوالی د ۱٪يوسلنې په اندازه تقريبا يونيم ۱.۵ ٪سلنه د سازمان د کړنو د ښهوالي سبب کيږي. د څېړنې پايله اصلي فرضيه تائيد کوي، يعنی د کارکونکو د دندې څخه رضايت د سازمان په کړنو مثبت تاثير لرو باندي منتج کيږي.

**کليدي اصطلاحات:** ارتقاء، حق الزحمه، د کارکوونکو رضايت، د کارکيفيت، سازماني کړنې.

# The Impact of Employee Satisfaction on Organisational Performance

**Nasir Ahmad Mayar**

Karwan University, Kabul, Afghanistan
Email: nasirmayar.2018@gmail.com

**Abstract**

This study rigorously examines the influence of organizational justice on employee's turnover intention. A simple random sampling procedure was employed to select the study participants. Data was collected through a structured questionnaire, and the analysis ware performed using SPSS statistical software. The reliability and internal consistency of the measurement instruments ware assessed using Cronbach's Alpha coefficient, which yielded values of 0.92 and 0.94, indicating excellent reliability. Both descriptive and inferential statistical techniques ware applied to analyze the data. Furthermore, stepwise regression analysis was conducted to evaluate the predictive relationships among the study variable. The empirical findings demonstrate that organizational justice exerts a positive and statistically significant effect on employee's jobs satisfaction and organizational commitment. Moreover, higher perceptions of organizational justice ware found to significantly mitigate employees' turnover intention. These results provide strong empirical support for the primary research hypothesis, underscoring the critical role of organizational justice in reducing employee turnover intentions within organizational contexts.

**Keywords**: Advancement, Remuneration, Employee satisfaction, Quality of Work and Organizational performance.

## ۱ـ سریزه

بشري سرچینې د یوه سازمان د منابعو له جملې څخه تر ټولو د ډېر اهمیت درلودونکې او پاتې کېدونکې سرچینه ده نو ددې اهمیت له اړخه باید سازمان هڅه وکړي تر څو د ځانګړې مهارت او پوهې درلودونکي کارکوونکي ولري او د کارکوونکو د رضایت حاصلولو مهم فکتورونه وپېژنئ ترڅوسازمان وکولای شي خپل اهداف په ښه ډول او رقابتي ګټه تر لاسه کړي (Yusnita, Melyiatama, & Totok Irawan, 2023). نو له همدې مخې مهمه وګڼل شوه چې پر دې موضوع څېړنه ترسره شي ددې تحقیق موخه دا ده چې وښيي آیا د کارکوونکو رضایت په یو سازمان یا کاراوبار کې څومره با اهمیت دی او د کاراوبار په کړنو څومره اغیز درلودلای شي او څرنګه یې اغیزې ترلاسه شي. سازمان یو ټولنیز نظام دی چې یوه ډله وګړي په مختلفو سطحو سره د ځانګړو او معینو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره کار په‌کې کوي (رحمانی, ۱۳۹۸). همدارنګه اداره خپلو ټاکل شوو موخو ته د رسیدو په پار سازمان او مدیریت ته اړتیا لري (محمدی, ۱۳۹۵). سازماني کړنې هغه څه دي چې څرنګه یو سازمان خپلې کړنې داسې ډول برابرې کړي ترڅو اهداف په اسانی سره ترلاسته او یا هم د موخو په ترلاسه‌کولو کې ګټورې واقع شي (Mwagona & Kinyua, 2023). ریچارد او د ملګرو د دید له مخې یې سازمانی کړنې د سازمان حقیقی لاسته راوړنې نسبت تخمین شوو موخو ته او همدارنګه د ګټې سلنه، سود، د پانګې د راګرځیدو سلنه، د دندې څخه رضایت او د خدماتو او محصولاتو کیفیت. دا ټول هغه فکتورونه دي چې په سازماني کړنو په پراخه کچه اثر اچوي (صانع بخش حقدوست & ګودرزوند چګینی, ۱۳۹۵) همدارنګه سازماني کړنې یعنې یو سازمان څرنګه خپلې موخې او اهداف په ښه ډول ترلاسه کولای شي او دا ددې څرګندونه کوي چې سازمان خپلې سرچینې ( بشری او غیر بشری ) څرنګه موثره او مثمره توګه استفاده کړې او د سازمان سهم لرونکو ته یې ارزښت انتقال کړي(Bozic & Poola, 2023) . که چیرته د مازلو د ضرورتونو هرم ته وکتل شي نو هغه رضایت په پنځو مختلفو سطحو سره ویشي.لکه فزیولوژیکي، یعنې لومړني ضرورتونه د یو شخص رفع شي رضایت یې حاصل وي، امنیتي یعنې کاري ساحه یې د ډاډ وړ وي، ټولنیز ضرورتونه، یعنې یو کارکوونکی غواړي له ملګرو او همکارانو سره یوځای و اوسي، قدرمن اوسیدل، یعنې کارکوونکي هغه وخت راضی کیږي چې په پراخه کچه اړیکې ولري او خلک ورته په احترام قائل وي او بالاخره د یوه کارکوونکي هغه وخت رضایت حاصلیږي چې خپل ځان تر نورو ډیر ځلیدونکی او کامیابه وګڼي (Kotler, Aramstrong, & Balasubramanian, 2023).

د سازمانی کړنې د اندازه کولو لپاره مهم دلیلونه دا دي چې سازمان باید هغه ساحه و پیژني چې اړتیا د پرمختګ پکې لیدل کیږي، همدارنګه د خپلو موخو د ترلاسه کولو په پار د ځانګړو ستراتیژیو د موثریت ارزونه وکړي چې دا د موخو په ترلاسه کولو کې تر څومره حده موثره او سازمان د خپلو ټول رقیبانو په وړاندې یو ښه معیار وټاکي(Bozic &Poola, 2023). ډیری د سازماني سلوکو پوهان،

کارکوونکي او مدیران په دې سره موافق دي چې له وظیفې څخه رضایت لرل د سازمان لپاره مهم دی او دغه له دندې څخه رضـایت د مولدیت، هڅونې، په سـازمان کې غیر حاضر، د کړنو ځنډلو، واقعاتو، فکري روغتیا او په ټوله کې د ژوند څخه د رضـایت سره اړیکه لري(Alemnew, 2014) د سـازمان د عدالت بررسـی د دندې په کړنو د دندې څخه د رضـایت د منځګړي متحول په نظر کې نیولو سره چې دا څېړنه څرګندوي چې ددې متحولینو ترمنځ اړیکه شـتون لري او دا اړیکه مثبته اوقوي ده (غلامی, میثم, & هدایت, ۱۴۰۲). همدارنګه دې دندې په بریالیتوب کې یو مهم عامل له دندې څخه رضـایت دی چې په سـازمان کې د کړنو د ښـه والي سـبب ګرځي (غلامی ا. , تاثیر رضـایت شـغلی بر عملکرد سازمانی, ۱۳۹۹). ددې اړوند یوه بله برخه د کړنو د سازمان چې ډیر اهمیت درلودنکې ده هغه د سازمان مالي کړنې دي او دا یو معیار دی چې په مټ یې یو سـازمان کولای شي مقایسـه کړي چې څومره په موثره ډول سازمان خپلې منابع استفاده کړې او هغه اساسي کرښې ته چې د عواید لاسته راوړل دي تر څومره اندازې رسیدلي دي. (Mercy nikatsu & Muigai Kinyua, 2023) او همدارنګه په اوږدمهاله کې د سازمان د مالي کړنو د ټیکاو د اندازه کولو لپاره هم ځانګړي شاخصونه شتون لري لکه په شتمنی ګټه ROA، په سرمایه ګټه ROE ، په پلورلو ګټه ROS او پر عواید شامل دي (Mishra & Mohanty, 2014). د سـتراتیژیک مدیریت له مخې، که چیرته سـازمان خپلې کړنې د خپل سـتراتیژیک پلان سره سـم مخته بوځي نو په منځ مهاله او اوږدمهاله کې به د کړنو د پرمختګ او غوره مالي کړنو انعکاس کوونکی وي(Venkatraman, 1986) . څرنګه چې دسازمان د موخو ترلاسه کولو په پار د کارکوونکو رضـایت سـاتل ډیر اړین دي تر څو په سـازمان کې کړنې په پوره کمال او ایمانداری سره ترسره او د سـازمان موخې په خورا ښـه ډول لاسـته راوړي او تر دې عنوان لاندې چې مخکې کومې څېړنې ترسره شـوې وې د افغانسـتان په جغرافیه کې نه وو نو له دې اړخه دا څېړنه هم د کاروان خصـوصي پوهنتون د مشـخصـې مطالعې په توګه نیول شـوی دی. څرنګه چې د هر سـازمان یا کاراوبار رامنځته کول د یو ځانګړي هدف سره مل وي نو ددې هدف ترلاسـه کولو په پار سـازمان لوړ مدیریت باید هغه ټګي په ګوته او منابع داسې مدیریت کړي چې د سازمان د ودې او ګټورتیا سبب کیږي. نو د سازمان له منابعو څخه یوه مهمه سرچینه بشـري قوه ده چې سـازمان کې د موخو د ترلاسـه کولو په پار د لوړ اهمیت درلودونکې ده نو له دې اړخه دا به دا تحقیق څرګند کړي چې کوم فکتورنه د کارکوونکو په رضـایت داسـې اغیز کوي چې په پایله کې یې د سـازمان کړنې مثبتي شي او د پورته دواړو متحولینو ترمنځ د اړیکې شتون او کچه وښیي. د کاراوبار یا سازمان کارکوونکي چې بشري قوه یا ځواک هم یادیږي. د کارکوونکو رضایت د تولید په کیفیت، سازمان په شهرت او بریا کې مهم رول لوبوي چې پورته ټول د نورو بالقوه کارکوونکو د ګمارنې فرصت خپلوي چې دا ټول سرچینو څخه د موثره ګټې اخیستنې او لګښـتونو د کنترول په برخه کې خاصـه برخه لري. نو له همدې امله، د کارکوونکو له دندې څخه رضایت د سازمان په کړنو کې مهم ګڼل کیږي او له دې اهمیت سره باید پرې څېړنه ترسره شي.

### ۲ـ د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې د کاروان پوهنتون له کارکوونکو څخه د غیر احتمالی نمونې له ډلې څخه د آسانه نمونې په استفادې سره معلومات راټول شوي. ټول نفوس چې ۵۱ تنه کارکوونکو څخه د ۴۳ کارکوونکو چې بیلا بیلې علمي سویې لري، د پوښتنلیک په مټ یې اندونه را ټول شوي دي. نوموړې څېړنه د ترسره کولو له اړخه کمي او د موخې له اړخه تطبیقي دی چې ډېټا یې د ډیزاین شوي پوښتنلیک په مرسته چې د کارکوونکو رضایت افادې د (Md. Murad Miah, 2020) او د سازمان په کړنو تاثیر افادې د (Paul E, Spector, 1994) لخوا ډیزاین شوي دي او اعتماد او اعتبار درلودونکي دي. یاد پوښتنلیک د گوگل فارم کې ځای پر ځای او پر مټ یې لومړی لاس ډېټا د کاروان پوهنتون له کارکوونکو څخه د ساده تصادفي نمونې په ډول راټوله شوې. او د کارکوونکو له دندې څخه رضایت د کرونباخ الفاه ارزښت ۰.۹۴۳ او د سازمان کړنو ارزښت یې ۰.۹۲۵ دی چې دا هم د راټولې شوې ډېټا خپلمنځي اړیکې ټیکاو بیانوي چې ددې راټولې شوې ډېټا ډېر ښه دی. ددې تحقیق د ډېټا د تحلیل په پار د IBM SPSS 28 څخه استفاده شوې. نوموړې ډېټا د بشپړ اعتماد وړ (Reliable) ده.

### ۳ـ موندنې

د دندې څخه رضایت یو له مهمو عواملو څخه دی چې د سازمان په کړنو باندې مثبت او معنا لرونکی تاثیر لري (غلامی ا. , تاثیر رضایت شغلی بر عملکردسازمانی, ۱۳۹۹). د دندې څخه رضایت او سازمان کړنو ترمنځ رابطه په کاناډایي اعتباری ټولنه کې شتون لري (Ouedraogo & Leclerc, 2013). همدارنگه د دندې څخه رضایت د سازمان په کړنو په غیر دولتی سازمانونو کې قوی اړیکه لري (Sharma, Arora, & Bagga, 2019). له دندې څخه رضایت د سازمان په کړنو د پاکستان په بانکی سکتور کې څرگندوي چې اړیکه د ذکر شوو متحولینو ترمنځ قوی او معنا لرونکې ده (Mohammad Imran, Fadillah, & Hussain, 2021). د کارکوونکي رضایت له دندې څخه په سازماني کړنو باندې مثبت اثر لري (Onyebuchi, Lucky, & Okechukwu, 2019). د کارکوونکي رضایت له دندې څخه د سازمان په کړنو باندې معنا لرونکی اثر لري (Latif, et al., 2013). همدارنگه له دندې څخه رضایت په سازماني تعهد باندې په مستقیم ډول اثر لري (Tatar, 2020). په کوم سازمان کې چې لوړ معاش، غوره کاری چاپیریال، ظرفیت لوړونه او داسې نور خدمات وي رضایت د کارکوونکي په لوړې سطحه وي او ددې په وړاندې کارکوونکي کړنې هم په غوره ډول ترسره کوي (A. fadlallh, 2015). مشتاق احمد او ملگرو(۲۰۱۳) کال کې د کارکوونکو له دندې څخه رضایت تاثیر په سازماني کړنو تر څېړنې لاندې نیولې وه چې د څېړنې په نتیجه کې یې د دواړو متحولینو ترمنځ اړیکه مثبت او معنالرونکې پیدا کړه. همدارنگه د دندې څخه رضایت اوسازمانی کړنو ترمنځ اړیکه څېړلې او د دندې څخه رضایت رابطه له سازماني کړنو څخه قوې اومحکمه ده نسبت د سازماني کړنو او دندې له رضایت څخه (Bakotic, 2016). همدارنگه د کارکوونکو له دندې رضایت پر سازماني کړنو باندې قوی او مثبت تاثیر

لري (Murad Maih, 2018). له دندې څخه د کارکوونکو رضايت د کارکوونکو په کړنو په شخصی شرکتونه کې مثبت اثر لري او هغه کارکوونکي چې په لوړ مديريت کې دي د هغه رضايت تر هغه کارکوونکو چې په ټيټ يا منځني مديريت کې ډير دی په سرلانکا کې (Akumari, 2008). سازماني عدالت، د دندې مصونيت او له دندې رضايت د سازمان پر مولديت تاثير کې ترلاسه کړي که چيرته په سازمان کې عدالت، د دندې مصونيت او له دندې څخه رضايت کچه کمه شي نو د سازمان پر مولديت باندې منفي تاثير کوي او که چيرته په سازمان کې عدالت، له دندې مصونيت او له دندې څخه رضايت کچه لوړه شي نو مستقيما د سازمان مولديت ورسره ښه کيږي (Imran, Majeed, & Ayub, 2015). د دندې څخه رضايت تاثير پردې دندې کړنو يعنې که چيرته کارکوونکي له دندې څخه رضايت ولري نو دا څرګنده او مثبت تاثير لري چې د کارکوونکي کړنې هم موثره او ښې شي (Andika & Alfiyana, 2021). د کارکوونکو هڅونې او له دندې څخه رضايت اهميت د سازماني کړنو په پار چې دا څرګندوي که چيرته سازمان خپل کارکوونکي وهڅوي کارکوونکي به نوښتونه رامنځته کړي او دا مستقيما د سازمان په ګټه تاثير واردوي او همدارنګه کله چې کارکوونکي تشويق شي له دندې څخه رضايت هم حاصلوي چې رضايت هم مستقيم تاثير د سازمان په کړنو لري(Varma, 2017) .سازماني هڅونه، د کارکوونکو له دندې څخه رضايت او سازماني کړنو تاثيرات دا ډول څرګندوي چې حق الزحمه او د دندې کړنې د مالي کړنو په برخو لکه په شتمني ګټه، د تغير او تبديل د ودې نرخ او د ګټې باندې مثبت تاثير کوي همدارنګه د کار چاپيريال او خپلواکي په غير مالی کړنو لکه د مشتری خدماتو، د کارمندانو مولديت او خدماتو په کيفيت باندې تاثير کوي (pang & Shan lu, 2018).

لومړی شکل: د تحقيق ماډل



دغه څېړنه چې کاروان خصوصي پوهنتون کې دکارکوونکو له دندې څخه رضایت تاثیر د پوهنتون په کړنو هغه که مالي کړنې دي او که اداري د تاثیر اندازه بیانوي. ددې څېړنې ډېټا د ډیزاین شوي پوښتنلیک پرمټ راټوله شوي او ټول کارکوونکي یې نارینه دي چې دې ته لومړی لاس ډېټا ویل کیږي. دا چې پوښتنلیک د خورا اعتبار او اعتماد درلودونکی دی نو زمونږ افادو ترمنځ د ټيکاو لپاره د کرونباخ الفا ارزښت هم څرګند شو چې په لوړه سطحه کې یې قرار درلود او ددې څېړنه فرضیه د معنالرونکی عدد د ارزښت له مخې د تایید وړ ده یعنې د کارکوونکو له دندې څخه رضایت د کاروان پوهنتون په کړنو باندې تاثیر شتون لري او دا تاثیر مثبت دی.

شکل۲ : سکری پلاټ




وروستي راپورونه ښيي چې افغانستان په ۲۰۲۴ کال کې شاوخوا ۲.۵٪ اقتصادي وده کړې، خو عمومي وضعیت لا هم د پآنگونې په برخه کمه لیوالتیا، مالي محدودیتونو او کمزوري اقتصاد وضعیت حاکم دی (World Bank, 2024)له سیاسي اړخه، د اسلامي امارت نسبي کمي نړیوالي اړیکي، د مالي اړیکو، لویو پانگو او د نړیوالو بنسټونو له لوري د مستقیم ملاتړ په کمېدو کې مهم رول لري ,UN News) (2024دا وضعیت د پانگوالو باور زیانمنوي او د اوږدمهالو پانگونو په جلبولو کې خنډونه رامنځته کوي. په اداري برخه کې د شفافو اداري اصولو کمزورتیا د پانگونې پر چاپېریال دروند اغېز لري. د شفافیت نړیوال سازمان د ۲۰۲۴ راپور پر بنسټ افغانستان لا هم په ځینو برخو شفافو اداري اصولو د نشتون له املهچې لري یې د پانگوالو لپاره د قانوني او اداري خطرونو د زیاتېدو ښکارندویي کوي .(Transparency International, 2024)همدارنگه، د حساب ورکونې او د پالیسي د ثبات کمبود د خصوصي سکتور د ودې لپاره یو مهم خنډ گڼل کېږي(SIGAR, 2024) .

سیاسي ثبات د پانگونې یو بنسټیز شرط دی. څېړنې څرگندوي چې په هغو هېوادونو کې چې سیاسي بدلونونه ډېر وي او د واک لېږد غیر منظم ترسره کېږي، پانگوال د اوږدمهالو پروژو په تمویل کې احتیاط کوي .(Keane, 2023) په افغانستان کې د ۲۰۲۱ وروسته سیاسي بدلونونو د پانگونې اقلیم اغېزمن کړی، ځکه چې د نړیوالې ټولنې له لوري د حکومت رسمي نه پېژندل کېدل د مالي بازارونو او نړیوالو مالي ادارو پر همکارۍ منفي اغېز لري(UN Security Council, 2023; IMF, 2023) .

اقتصادي وضعیت د پانگونې پر تصمیم نیولو مستقیم اغېز لري. د IMF د ۲۰۲۳ تحلیل ښيي چې افغانستان د نقدو پیسو محدودیتونه، د صادراتو کمښت، کمزوری بانکداري سکتور او د نړیوالو مرستو کمېدل تجربه کوي، چې دې ټولو د پانگونې د خطر کچه لوړه کړې ده (IMF, 2023) د Asian Development Bankد ۲۰۲۳ راپور زیاتوي چې د زیربناوو کمښت، د انرژۍ محدودې سرچینې او لوړه بې‌کاري د خصوصي سکتور د پراختیا لپاره لوی خنډونه دي(ADB, 2023) .

نړیوال څېړنیز بنسټونه لکه International Crisis Group ، CSISاو European Institute of Peace ټینگار کوي چې د افغانستان سیاسي او اداري برخه نسبي ستونزې یوازې داخلي اغېزې نه لري، بلکې نړیوال اقتصادي اړیکې، بانکي نظام، د سوداگرۍ تړونونه او بهرني پانگوال هم تر اغېز لاندې راولي

(ICG, 2023; CSIS, 2023; EIP, 2023)د دوی په اند، تر هغه چې اسلامي امارت په نړیواله کچه ونه پېژندل شي، نړیوال تعامل عادي نشي، د پانگونې شرایط به لا هم کمزوري پاتې شي.
ټولنیز او بشري عوامل هم د پانگونې پر چاپېریال اغېز لري. پراخه بېکاري، د مهاجرت لوړه کچه او طبیعي پېښې د بېثباته ټولنیز جوړښت هغه نښې دي چې د اقتصادي فعالیتونو دوام ته زیان رسوي (UNDP, 2023; UNHCR, 2023)نړیوال څارونکي باور لري چې د کمروزي اقتصادي فعالیتونه، د اداري اصلاحاتو په برخه کې کمرزوي فعالیت او د پراختیایي مرستو کمزوری مدیریت د پانگونې لپاره د خطر عواملونه لا پیاوړي کوي(ICG, 2023) .
دغه موضوع د څېړنې لپاره ځکه غوره شوې چې تر اوسه په افغانستان کې د پانگونې پر چاپېریال د سیاسي عواملو اغېز په جامع او سیستماتیک ډول نه دی څېړل شوی. موجودې څېړنې زیاتره د سیاسي یا اقتصادي محور یوې برخې ته محدودې دي، خو د ټولو سیاسي عواملو گډ او تحلیلي اغېز یې نه دی روښانه کړی. د موضوع د انتخاب دلیل دا دی چې د سیاسي ثبات او د حکومتولۍ ښهوالی د اقتصادي پرمختگ لپاره حیاتي ارزښت لري، او د دغو عواملو دقیقه پېژندنه د دولت، پالیسي جوړونکو، پانگهوالو او علمي مرکزونو لپاره ستر اهمیت لري.
د څېړنې کار ساحه د هغو سیاسي عواملو پېژندنه، تحلیل او ارزونه ده چې د پانگونې پر چاپېریال مستقیم یا غیرمستقیم اغېز کوي. څېړنه په ځانگړي ډول د سیاسي ثبات، قانوني وضاحت، د پالیسیو یووالي، د حکومتولۍ کیفیت، فساد ضد میکانیزمونو، د امنیت وضعیت او د نړیوالو اړیکو سیاسي اړخ څېړي. همدارنگه، څېړنه دا ارزوي چې څنگه دغه عواملونه په گډه د پانگونې فضا محدودوي یا پیاوړې کوي.
له بلې خوا، د موجودو څېړنو تر ټولو لویه تشه دا ده چې ډېری یې پر محلي مشاهداتو او تجربوي معلوماتو متکي دي، او د سیاسي عواملو ترمنځ د اړیکو او متقابل اغېزو تحلیلي درک نه وړاندې کوي. په همدې اساس، دغه څېړنه هڅه کوي چې د علمي میتودونو په مرسته د یادو عواملو ترمنځ واقعي اړیکې وڅېړي، تشې ډکې کړي او یوه روښانه، علمي او کارېدونکې پایله وړاندې کړي. دا پایله به د افغانستان لپاره د پانگونې د جذب او د اقتصادي ودې په برخه کې د پالیسي جوړونې عملي لارې چارې رامنځته کړي.
په پایله کې، پانگونه په افغانستان کې یوازې اقتصادي پرېکړه نه ده؛ بلکې ژوره سیاسي، ټولنیزه او اداري معنا لري. د پانگونې د چاپېریال ښهوالی د سیاسي ثبات، پراخې نړیوالې اړیکې او ټولنیز شمولیت پورې تړلی دی. تر هغو چې دغه عواملونه اصلاح نه شي، د بهرني او کورني پانگوالو باور بیا رامنځته کول ستونزمن دي(BTI, 2024; UNOCHA, 2024) .

## ۱ـ۱ تیوریکي چوکاټ)

د دې څېړنې تیوریکي چوکاټ د هغو علمي نظریو پر بنسټ جوړ شوی چې د سیاسي عواملو او پانگونې ترمنځ اړیکه تشریح کوي. د څېړنې منطق دا دی چې په افغانستان کې د پانگونې چاپېریال په بنسټیز ډول د سیاسي شرایطو تابع دی، ځکه چې سیاسي ثبات، د حکومتدارۍ کیفیت، قانونمندي، نهادونه او

امنیت د اقتصادي فعالیتونو بنسټیز محرک عناصر ګڼل کېږي. د همدې لپاره، دا چوکاټ په هغو نظریو ولاړ دی چې اقتصادي پرمختګ د سیاسي سیستم، نهادونو او حکومتدارۍ له کیفیت سره تړي.
لومړنۍ نظریه چې دا څېړنه پرې ولاړه ده د سیاسي ثبات نظریه ده. د دې نظریې له مخې، اقتصادي ودې او پانګونې ته تر ټولو مهم شرط د سیاسي نظم ثبات شتون دی. هر ډول سیاسي بحران، د حکومت پرله‌پسې بدلون، داخلي شخړې او ناپایداره پالیسي جوړونه د پانګوالو پر ذهنیت مستقیم منفي اغېز کوي او د پانګې جریان محدودوي. په افغانستان کې د تېرو څلورو لسیزو راهسې سیاسي بې‌ثباتي د پانګونې د کمښت یو اصلي لامل ګڼل کېږي، ځکه چې پانګه‌وال هغه هېواد غوره کوي چې خطر یې کم، راتلونکې یې وړاندوینې کېدونکې او پالیسۍ یې ثابتې وي.
دویمه مهمه نظریه د نهادونو نظریه ده چې د D. North د نظریې پر بنسټ اقتصادي پرمختګ د سیاسي، حقوقي او تنظیمي نهادونو له کیفیت سره مستقیم تړاو لري. قوي نهادونه د پانګې خوندیتوب تضمینوي، حقوقي وضاحت رامنځته کوي، قراردادونه محافظت کوي او د سوداګرۍ لګښتونه کموي. په مقابل کې، کمزوري نهادونه، د صلاحیتونو ناڅرګنتیا، د قانون په برخه کې خلا د پانګونې مخه نیسي. افغانستان د دې نظریې څرګند مثال دی، ځکه د نهادونو کمزورتیا د پانګوالو د باور د ټیټوالي یو مهم لامل بلل کېږي.
درېیمه نظریه چې د دې څېړنې په تیوریکي چوکاټ کې ځای لري د خطر او عاید نظریه ده. د دې نظریې له مخې، پانګه‌وال هغه ځای ته پانګه انتقالوي چې خطر یې ټیټ او د عاید کچه یې لوړه وي. کله چې سیاسي خطر ډېر شي، پانګه‌وال یا له بازار څخه وزي، یا پانګونه ځنډوي، یا یې کموي. په افغانستان کې د امنیت په برخه کې د پانګوالو اندېښنې، د شتمنیو د خوندیتوب کمزوري میکانیزمونه، د پانګونې د تضمین په برخه کې کمزوري مکانیزمونو او د بهرنۍ پالیسۍ عدم څرګنتیا هغه عوامل دي چې د پانګوالو په ذهنیت منفي اغېزمنوي او د پانګې کچه راکمولی شي.
په دې تیوریکي چوکاټ کې سیاسي عواملونه د خپلواکو متغیرونو (Independent Variables) په توګه اخیستل شوي دي، چې پکې سیاسي ثبات، د قانون حاکمیت، امنیتي وضعیت، دولتي پالیسۍ، د نهادونو ځواکمنتیا او نړیوال سیاسي تعامل شامل دي. په مقابل کې، د پانګونې چاپېریال د تابع متغیر (Dependent Variable)په توګه ځای لري چې کیفیت یې د پانګوالو د باور، د پانګونې کچې، اقتصادي فعالیتونو او د خطر د مدیریت په شاخصونو سنجول کېږي. د دې متغیرونو ترمنځ اړیکه داسې تشریح کېږي چې هر وخت سیاسي ثبات، قوي نهادونه، روڼ حکومتداري او امنیت لوړېږي، په هماغه اندازه د پانګونې چاپېریال هم ښه کېږي او پانګه‌وال د فعالیت لپاره هڅېږي.
په پایله کې، دا تیوریکي چوکاټ د درېو بنسټیزو نظریو پر مټ تشریح کوي چې څنګه سیاسي عواملونه د پانګونې پر چاپېریال اغېزه کوي. دغه چوکاټ د څېړنې د تحلیل، میتودلوژۍ او پایلو لپاره علمي نقشه برابروي او دا څرګندوي چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د سیاسي ثبات، قوي نهادونو او شفاف حکومتدارۍ پرته ناممکن دی.

## ۲ـ د څېړنې میتودلوژي

دغه څېړنه د کمي او کیفي او توصیفي–تحلیلي Descriptive–Analytical) Case Study) په توګه طرحه شوې، ځکه چې موخه د افغانستان د پانګونې چاپېریال کې د سیاسي عواملو ژور او تفسیري تحلیل دی. لومړني معلومات د پوښتنپاڼې له لارې راټول‌ې شوې او ۱۰۳ پوښتپاڼې له پانګوالو، اقتصادي کارپوهانو، اداري چارواکو او پالیسي جوړونکو څخه ځواب شوې تر څو ریښتیني لیدلوري ترلاسه شي همدارنګه د نړیوالو بنسټونو World Bank, IMF, UNDP, ADB, SIGAR) ، حکومتي اسنادو، علمي مقالو او حقوقي پالیسیو څخه اخیستل کېږي.

د نمونې ټاکنه د Purposive Sampling میتود کارول کېږي، ځکه چې موضوع تخصصي ده او یوازې هغه ګډونوال انتخابیږي چې د پانګونې، سیاست او اقتصاد په برخو کې مسلکي تجربه لري او د معلوماتو تحلیل د SPSS پروګرام پر مټ ترسره کیږي همدارنګه د ګډونوالو رضایت، د شخصي معلوماتو محرمیت او د سیاسي حساسیتونو رعایت په پام کې نیول کېږي، ترڅو څېړنه د اخلاقي معیارونو سره برابره وي.

### ۳ـ موندنې

د افغانستان د پانګونې سیاسي وضعیت له ۲۰۲۱ تر ۲۰۲٦ پورې د ژور بدلونونو شاهد دی. د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته نړیوال بندیزونه، د ترسره کیدونکو مرستو کمښت، د مالي زیرمو کنګل کیدل او امنیت په برخه کې د پانګوالو اندیښنو دوام د پانګونې چاپېریال ته جدي ننګونه جوړ کړل، خو په ځینو برخو لکه کرنه او صادراتو کې د کورنیو پانګونو هڅې د اقتصاد د بقا لپاره مهمې پاتې شوې.

په ۲۰۲۱ کال کې د اسلامي امارت بیا واک ته رسېدل د افغانستان د اقتصاد او پانګونې په وضعیت کې ژور بدلونونه راوستل. د اګست په میاشت کې د امارت د واکمنېدو سره سم، نړیوالې ټولنې د افغانستان د مرکزي بانک شاوخوا ۹.۱ میلیارده ډالر زېرمې کنګل کړې، چې د هېواد د مالي نظام لپاره یې ستره ضربه وه .(World Bank, 2021) د دې اقدام له امله بانکونه د نغدو پیسو له سخت کمښت سره مخ شول او د افغانی ارزښت په بې ساري ډول راټیټ شو.

د نړیوالو بندیزونو او د مرستو د ناڅاپي کمېدو له امله د افغانستان اقتصاد په چټکۍ سره سقوط وکړ. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، د ۲۰۲۱ په پای کې د افغانستان GDP شاوخوا ٪۲۰ راکم شو، چې دا د نړۍ په کچه د اقتصادي سقوط له تر ټولو ستر مواردو څخه ګڼل کېږي .(UNDP, 2022) د دې وضعیت له امله د پانګونې چاپېریال په بشپړ ډول د بهرنیو پانګوالو لپاره نامناسب شو، ځکه چې د سیاسي بې ثباتۍ، د قانوني چوکاټ نشتوالي، او د ناامنۍ دوام د پانګوالو باور له منځه یووړ.

په همدې وخت کې ځینو محدودیتونو د نړیوالو پانګوالو د زړه ورتیا مخه ونیوله. د نړیوال بانک د راپور له مخې، د خصوصي سکتور فعالیتونه په پراخه کچه فلج شول او د کوچنیو کاروبارونو ډېری برخې وتړل شوې (World Bank, 2021)

په ۲۰۲۲ کال کې د افغانستان اقتصاد د ۲۰۲۱ د سقوط وروسته لا هم له ژور بحران کې ښکیل پاتې شو. د اسلامي امارت د واکمنېدو له امله د نړیوالې ټولنې د مرستو کچه په بې ساري ډول راټیټه شوه، چې د

هېواد د مالي سرچينو لپاره يې ستره ضربه وه. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د افغانستان GDP په ۲۰۲۲ کې نږدې ٪۲۰ نور هم راکم شو، او د افراطیت کچه د ٪۵۰ څخه پورته وخته .(World Bank, 2022) دا حالت د پانګونې چاپېريال ته د پام وړ زيانونه ورسول، ځکه چې د نغدو پیسو کمښت او د بانکدارۍ سکتور فلج پاتې شو.
د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP) د ۲۰۲۲ د اقتصادي ارزونې له مخې، د افغانستان د نفوس شاوخوا ٪۹۷ د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کاوه، چې دا د پانګونې لپاره د بازار د وړتيا کچه په شديده توګه راټيټه کړه .(UNDP, 2022) د بشري حقونو اندېښنې د نړيوالو پانګوالو د زړه ورتيا مخه ونيوله.
په همدې وخت کې، د اسلامي امارت هڅه وکړه چې د کورنيو عوايدو له لارې د اقتصاد د بقا لپاره ګامونه واخلي. د مالياتو او ګمرکي محصولاتو زياتوالی د حکومت لپاره د ځينو مالي سرچينو برابرولو کې مرسته وکړه، خو د نړيوالې ټولنې د بې باوري له امله د بهرنيو پانګونو جذب ناممکن پاتې شو .(Asian Development Bank, 2022)
په ټوله کې، د ۲۰۲۲ کال اقتصادي وضعيت د بحران دوام ښيي، چې د نړيوالو بنديزونو، د بشري مرستو ترل کيدل په سياست پوري او د پانګې د امنيت په اړه د پانګوالو اندیښنو له امله د پانګونې چاپېريال په بشپړ ډول زيانمن شوی و.
په ۲۰۲۳ کال کې د افغانستان اقتصاد د سخت بحران له دوام سره سره د کورنيو عوايدو په برخه کې د پام وړ زياتوالی تجربه کړ. د نړيوالو بنديزونو او د بهرنيو مرستو د کمېدو له امله، د اسلامي امارت هڅه وکړه چې د مالياتو او ګمرکي محصولاتو له لارې د عوايدو سرچينې پراخې کړي. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د ۲۰۲۳ په اوږدو کې د کورنيو عوايدو کچه د ۲۰۲۲ په پرتله نږدې ٪۳۰ زياته شوه، چې دا د حکومت لپاره د مالي ثبات په برخه کې مهم پرمختګ ګڼل کېږي.(World Bank, 2023)
د مالياتو او ګمرکي محصولاتو زياتوالی د حکومت لپاره د بودیجې د تمويل يوه مهمه وسيله وه. د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP) د ارزونې له مخې، د کورنيو عوايدو زياتوالی د عامه خدماتو د تمويل لپاره تر ډيره کارول کېده(UNDP, 2023) . په همدې وخت کې، د صادراتو هڅې هم د کورنيو عوايدو په زياتوالي کې مرسته وکړه. د زعفرانو، وچو مېوو، او ځينو کانونو صادرات د افغانستان د اقتصاد د بقا لپاره حياتي ارزښت درلود. د آسيايي پرمختيايي بانک (ADB) د راپور له مخې، د ۲۰۲۳ په پای کې د صادراتو کچه د ۲۰۲۲ په پرتله نږدې ٪۱۵ زياته شوه، چې دا د کورنيو عوايدو د پراختيا لپاره يو مثبت ګام و.(Asian Development Bank, 2023) بناءً په ټوله کې، د ۲۰۲۳ کال د داخلي عوايدو زياتوالی د افغانستان د اقتصاد د بقا لپاره مهم و، خو د پانګونې چاپېريال لا هم له جدي خنډونو سره مخ پاتې شو.
په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان اقتصاد د صادراتو په برخه کې د پام وړ خوځښتونه تجربه کړل، سره له دې چې د سياسي بې ثباتۍ او نړيوالې انزوا ستونزې لا هم پر ځای وې. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د

افغانستان صادرات د ۲۰۲۴ په اوږدو کې نږدې ۱۲٪ زیات شول، چې په ځانګړي ډول د زعفرانو، وچو مېوو، او د کانونو محصولاتو له لارې ترلاسه شول .(World Bank, 2024) دا زیاتوالی د کورنیو عوایدو په پراختیا کې مهم رول ولوباوه او د حکومت لپاره د مالي سرچینو د پراخېدو سبب شو.
په همدې وخت کې، د سیمه ییزو هېوادونو سره د سوداګرۍ اړیکې د افغانستان لپاره حیاتي وې. د آسیايي پرمختیايي بانک (ADB) د ارزونې له مخې، د افغانستان د صادراتو زیاتوالی په ځانګړي ډول د پاکستان، ایران، او چین له لارې د ترانزیټي لارو د کارونې پایله وه ,Asian Development Bank) .(2024سره له دې، د ترانزیټ ستونزې او د سیاسي اختلافاتو دوام د صادراتو د لا پراختیا مخه نیوله.
د سیاسي خوځښتونو له اړخه، په ۲۰۲۴ کې د ځینو نوو سیاسي ډلو ظهور د پانګونې چاپېریال ته د امید ځرکونه وړاندې کړل. د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام (UNDP) د راپور له مخې، د ځوانو فعالانو او ځینو سیمه ییزو خوځښتونو هڅې د اقتصادي اصلاحاتو او د شفافیت د زیاتوالي غوښتنه کوله .(UNDP, 2024).
په ۲۰۲۵ کال کې د افغانستان اقتصاد د څو کلونو د پرله‌پسې بحران وروسته د ودې لومړۍ نښې وښودلې. د نړیوال بانک د راپور له مخې، د افغانستان ناخالص کورني تولید (GDP) د ۲۰۲۵ په اوږدو کې شاوخوا ۲.۳٪ وده وکړه، چې دا د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو وروسته د لومړي ځل لپاره د مثبت اقتصادي ودې نښه وه .(World Bank, 2025) دا وده تر ډېره د خصوصي مصرف، د افغان مهاجرینو له خوا رالیږل شویو پیسو (remittances) ، او د کرنې سکتور د نسبي ثبات پایله وه.
سره له دې، د اقتصادي ودې نښې د ټولنیز وضعیت له سختو ننګونو سره مل وې. د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام (UNDP) د ارزونې له مخې، د افغانستان د نفوس شاوخوا ۹۷٪ لا هم د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کاوه، کډوالو او بې ځایه شویو خلکو وضعیت خراب پاتې شو (UNDP, 2025) د بشري حقونو اندېښنې، د نړیوالو پانګوالو د زړه ورتیا مخه ونیوله او د بهرنیو پانګونو جذب یې ناممکن کړ.
د کورنیو عوایدو زیاتوالی د حکومت لپاره د مالي سرچینو د پراخېدو سبب شو. د مالیاتو او ګمرکي محصولاتو له لارې د عوایدو زیاتوالی د بودیجې د تمویل یوه مهمه وسیله وه، خو د شفافیت نشتوالی او عدم حساب دهي د دې عوایدو اغېز محدود کړ (Asian Development Bank, 2025) د صادراتو برخه هم د اقتصاد د بقا لپاره مهمه وه. د زعفرانو، وچو مېوو، او ځینو کانونو صادرات د افغانستان د عوایدو په زیاتوالي کې مرسته وکړه، خو د ترانزیټ ستونزې او د سیمه ییزو هېوادونو سره سیاسي اختلافات د دې سکتور د پراختیا مخه نیوله.
په سیاسي ډګر کې، دې اسلامي امارت هڅه وکړې چې د کورنیو پانګونو له لارې د اقتصاد د بقا لپاره ګامونه واخلي. د ځینو کوچنیو صنعتونو او کرنیزو پروژو پراختیا د کورنیو پانګوالو له خوا ترسره شوه، چې د اقتصادي فعالیتونو د دوام لپاره مهم رول لوبوي. سره له دې، د نړیوالې ټولنې د رسمي پېژندنې نشتوالی او د بندیزونو دوام د بهرنیو پانګونو د جذب لپاره جدي خنډونه جوړ کړل.

په تړوله کې، د ۲۰۲۵ کال اقتصادي وضعیت د ودې لومړی نښې وړاندې کړې، خو دا وده تر ډېره د داخلي سرچینو او مصرف پر بنسټ ولاړه وه. د نړیوالې ټولنې تعامل، د قانوني چوکاټ جوړېدل، او د امنیت ټینګښت لا هم د پانګونې چاپېریال د ښه کېدو لپاره حیاتي ګڼل کېږي.

**د کلونو پرتله (۲۰۲۱–۲۰۲۵)**

| ګڼه | کال | مهمې ځانګړتیاوې | وضعیت | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲۰۲۱ | د امارت واک ته رسیدل، بندیزونه، اقتصادي ځوړ | وضعیت | |
| ۲ | ۲۰۲۲ | مرستو کمښت، کورني پانګوال، بې باوري | سقوط | |
| ۳ | ۲۰۲۳ | مالیات، صادرات، اقتصادي بقا | بحران | |
| ۴ | ۲۰۲۴ | نوې سیاسي ډلې، سوداګري، محدودیتونه | عواید | |
| ۵ | ۲۰۲۵ | ۲.۷٪ اقتصادي وده، بې وزلي، کورني صنعتونه | خوځښت | |

**هغه عوامل چې د پانګونې چاپېریال اغېزمنوي په لاندې ډول یې اغېزو څېړل شوي دي**

په تړوله کې د سیاسي ثبات او امنیت اغېز په پانګونه، د حکومت جوړښت او نړیوالې اړیکو محدودیت، د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول او همدارنګه د حکومت د پالیسۍ دوام او تصمیم‌نیونې ثبات هغه لاملونه دي چې د پانګونې پر چاپېریال ژور تاثیر لري.

| متغیر | Low (1–2) % | Neutral (3) % | High (4–5) % | Mean | SD | لنډ تحلیل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| *د سیاسي ثبات او امنیت اغېز* | 6 | 12 | 82 | 4.05 | 0.84 | خورا لوړ منفي اغېز |
| *د حکومت جوړښت او نړیوالې اړیکې* | 10 | 16 | 74 | 4.11 | 0.77 | په لوړه کچه نړیوال نه رسمیت مهم خنډ |
| *د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول* | 16.2 | 14.0 | 69.8 | 3.95 | 0.74 | د پانګونې فضا اغېزمنوي |
| *د پالیسۍ دوام او تصمیم‌نیونې ثبات* | 14.5 | 13.0 | 72.5 | 4.00 | 0.76 | د پانګونې د دوام لپاره اړین |

دا جدول د جمبندي تحلیل (Aggregated Analysis) پر اساس ترتیب شوی او د ۱۵ سوالونو Mean د هر Construct په اساس محاسبه شوی.

**A. د سیاسي ثبات او امنیت اغېز**

د پوښتنپاڼې د پایلو له مخې، د ۱۰۰ ګډونوالو له ډلې څخه شاوخوا ۸۲٪ ځواب ورکوونکو باور څرګند کړی چې سیاسي بې‌ثباتي په اړه اندېښنه او امنیتي ننګونې د پانګونې پر چاپېریال ډېر اغېزناک عوامل دي. نږدې ۱۲٪ ګډونوالو دا اغېز منځنی بللی، په داسې حال کې چې یوازې ۶٪ یې کم یا بې‌اغېزه ګڼلی دی. دا پایله ښیي چې سیاسي ثبات او امنیت د پانګونې لپاره د ګډونوالو له نظره تر ټولو مهم بنسټیز شرط ګڼل کېږي.

**B. د حکومت جوړښت او نړیوالي اړیکي**

د پوښتنپاڼې پایلې څرګندوي چې شاوخوا ۷۴٪ ځواب ورکوونکو د حکومت جوړښت او نړیوالو اړیکو د پانګونې پر چاپېریال مهم او اغېزناک عوامل بللي دي. نږدې ۱۶٪ ګډونوالو دا عوامل منځني اغېزناک ګڼلي، او یوازې ۱۰٪ یې کم اغېز لرونکي یاد کړي دي. د دې موندنې پر بنسټ، د نړیوال رسمیت، حقوقي اعتبار او نړیوالو تعاملاتو نشتوالی د پانګه‌والو د باور پر کچه مستقیم اغېز لري.

**C. د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول**

د راټولو شوو معلوماتو له مخې، شاوخوا ۶۹.۸٪ ګډونوالو باور څرګند کړی چې د بهرني سیاست نوعیت او د نړیوالو اړیکو وضعیت د پانګونې پر بهیر اغېزناک رول لري. شاوخوا ۱۴٪ دا رول منځنی بللی، په داسې حال کې چې ۱۶.۲٪ ګډونوالو دا عوامل کم اغېزناک ارزولي دي. دا پایله څرګندوي چې نړیوال انزوا، بندیزونه او محدودې ډیپلوماتیکې اړیکې د پانګونې چاپېریال کمزوری کوي، خو مثبت تعامل د باور د زیاتوالي سبب کېدای شي.

**D. د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات**

د پوښتنپاڼې د تحلیل له مخې، نږدې ۷۲.۵٪ ځواب ورکوونکو د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات د پانګونې لپاره ډېر مهم عوامل ګڼلي دي. شاوخوا ۱۳٪ ګډونوالو دا اغېز منځنی بللی، او یوازې ۱۴.۵٪ یې کم اغېزناک یاد کړي دي. دا پایله ښیي چې د قوانینو، مقرراتو او اقتصادي پالیسیو ثبات د اوږدمهاله پانګونې د جذب لپاره اساسي رول لري.

**د جدول تشریحي تحلیل(SPSS-style Interpretation)**

د جدول پایلې ښیي چې د ګډونوالو له نظره سیاسي ثبات او امنیت تر ټولو لوړ اغېز لرونکي عوامل دي، ځکه چې ۸۲٪ ځواب ورکوونکو دا عوامل «ډېر اغېزناک» یا «اغېزناک» ارزولي دي. وروسته د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات )۷۲.۵٪ (او د حکومت اړیکي او نړیوال اعتبار )۷۴٪ (د پام وړ عواملونه بلل شوي دي. په ورته وخت کې، که څه هم د بهرني سیاست او نړیوالو اړیکو رول د نورو عواملو په پرتله لږ ټیټ ارزول شوی، خو بیا هم د ګډونوالو له ډلې څخه ۶۹.۸٪ دا عوامل اغېزناک یا ډېر اغېزناک ګڼلي دي.

**د موندنو لنډ تحلیلي جمع‌بندي**

د پوښتنپاڼې د پایلو پر بنسټ د پانګوالو اندېښنې، د سیاسي ثبات او امنیت اړه تر ټولو اغېزناک عوامل دي، ورپسې د پالیسۍ دوام، د حکومت نړیوال رسمیت پېژندل، او د بهرنۍ سیاست رول ځای لري. دا ترتیب د نړیوالو راپورونو او موجودو علمي مطالعاتو له موندنو سره همغږي ښيي.

**جدول (۱): د سیاسي عواملو اغېز د پانګونې پر چاپېریال**

*د SPSS د توصیفي تحلیل پر بنسټ(n = 103)*

| سیاسي عوامل | ډېر اغېزناک (%) | اغېزناک (%) | منځنی اغېز (%) | کم اغېز (%) | بې‌اغېزه (%) |
|---|---|---|---|---|---|
| سیاسي ثبات او امنیت | 48 | 34 | 12 | 4 | **2** |
| د حکومت جوړښت او نړیوالې اړیکې | 42 | 32 | 16 | 7 | **3** |
| د بهرنۍ سیاست او نړیوالو اړیکو رول | 36 | 32 | 20 | 8 | **4** |
| د پالیسۍ دوام او د تصمیم‌نیونې ثبات | 44 | 34 | 14 | 5 | **3** |

**۴ـ مناقشه**

د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې د افغانستان پانګونې چاپېریال د ۲۰۲۱–۲۰۲۶ په موده کې د سیاسي عواملو له امله ژور اغېزمن شوی دی. په دې موده کې د واک بدلون، نړیوال بندیزونه، د مرستو کمښت، د حکومتدارۍ په برخه ډېر ښه نه ځلېدل، او د نړیوالو اړیکو کموالی د پانګوالو باور کم کړی او د پانګونې جریان یې محدود کړی دی. د څېړنې پایلې ښيي چې سیاسي ثبات د پانګونې لپاره حیاتي ارزښت لري. د ۲۰۲۱ وروسته د سیاسي بې‌ثباتۍ په اړه د پانګوالو اندېښنې او د اسلامي امارت سره د کم شمېر هیوادونو اړیکې د افغانستان اقتصاد د ګمزورۍ په برخه کې مهم لامل ده، چې د GDP په کچه کې د ٪۲۰ کمښت څرګندونه کوي. (World Bank, 2021; UNDP, 2022) دا پایله د سیاسي ثبات نظریې سره سمون لري، چې ټینګار کوي اقتصادي پرمختګ هغه وخت امکان لري چې سیاسي نظم ثابت وي. د افغانستان د تیرو څلورو لسیزو  بې‌ثباتي د پانګوالو ذهنیت منفي اغېزمن کړی او د پانګې جریان یې محدود کړی همدارنګه د څېړنې پایلې د نهادونو نظریه تاییدوي. د Transparency International (2024)راپور ښيي چې افغانستان د نړۍ د فساد لرونکو هېوادونو په کتار کې راغلی، چې دا د پانګوالو د باور په راکمېدو کې مهم رول لري. همدارنګه د څېړنې پایلې ښيي چې د قراردادونو شفافیت او د حساب ورکونې کمبود د خصوصي سکتور د ودې لپاره جدي خنډونه دي. په ورته شکل د څېړنې پایلې د خطر–عواید نظریه تاییدوي. د امنیت په برخه کې اندېښنې، د شتمنیو د خوندیتوب کمزورې میکانیزمونه، او د بهرنۍ پالیسۍ ناپایداري د پانګوالو ذهنیت باندې منفي اغېز کوي. د IMF

(2023)راپور هم ښيي چې افغانستان د نقدو پیسو محدودیتونه، د صادراتو کمښت، او د بانکدارۍ سکتور کمزورتیا تجربه کوي، چې دې ټولو د پانګونې د خطر کچه لوړه کړې ده. څېړنې پایلې څرګندوي چې پانګه‌وال هغه هېوادونه غوره کوي چې خطر یې کم او عاید یې لوړ وي، خو افغانستان د لوړ خطر له امله د پانګوالو لپاره زړه نه ښه کوي او بلاخیره د څېړنې پایلې د ښه حکومتدارۍ نظریه تاییدوي. څېړنې پایلې څرګندوي چې د اسلامي امارت د حکومت شفافه پالیسي، معلوم قوانین، او منظمې ادارې د پانګوالو د باور د لوړولو لپاره حیاتي ارزښت لري او باید جدي توجه ورته وکړي.
د دې څېړنې پایلې د پخوانیو څېړنو سره په څو برخو کې ورته والی لري. د Keane (2023) څېړنه ښيي چې په هغو هېوادونو کې چې سیاسي بدلونونه ډېر وي او د واک لېږد غیر منظم ترسره کېږي، پانګوال د اوږدمهالو پروژو په تمویل کې احتیاط کوي. د افغانستان وضعیت د دې څېړنې پایلې تاییدوي، ځکه چې د ۲۰۲۱ وروسته سیاسي بدلونونو د پانګونې اقلیم اغېزمن کړی. د Barfield (2022) څېړنه ټينګار کوي چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د سیاسي ثبات او قوي نهادونو پرته ناممکن دی. د دې څېړنې پایلې هم ښيي چې د نهادونو کمزورتیا او د حکومتدارۍ ضعف د پانګوالو د باور د ټیټوالي اصلي لاملونه دي. د WEF (2023) راپور څرګندوي چې د بشري حقونو محدودیتونه او د ټولنیز ثبات کمزورتیا د پانګونې پر چاپېریال منفي اغېز لري. د دې څېړنې پایلې هم ښيي چې پراخه بې‌کاري، او د مهاجرت لوړه کچه د اقتصادي فعالیتونو دوام ته زیان رسوي.
د دې څېړنې تفاوت له نور څېړنو سره په دې کې دی چې د افغانستان د پانګونې چاپېریال د سیاسي عواملو له څو اړخیزه زاویې څېړل شوی. پخوانۍ څېړنې زیاتره د سیاسي یا اقتصادي محور یوې برخې ته محدودې وې، خو دا څېړنه د سیاسي ثبات، نهادونو، حکومتدارۍ، خطر–عواید، او ټولنیزو عواملو ګډ اغېز په جامع ډول تحلیل کړی. د څېړنې پایلې څرګندوي چې د افغانستان پانګونې چاپېریال یوازې د اقتصادي عواملو تابع نه دی، بلکې ژوره سیاسي، اداري، او ټولنیزه معنا لري. سربېره پر دې، دا څېړنه د ۲۰۲۱–۲۰۲۶ د ځانګړو کلونو اقتصادي وضعیت په تسلسل سره تحلیل کړی، چې دا د پخوانیو څېړنو په پرتله یو نوی علمي ارزښت وړاندې کوي. د واک بدلون، د بحران دوام، د داخلي عوایدو زیاتوالی، د صادراتو پراختیا، او د اقتصادي ودې لومړۍ نښې په تسلسل سره څېړل شوي، چې د پانګونې چاپېریال د بدلونونو په درک کې مرسته کوي.

په ټوله کې، د دې مقالې موندنې دا تاییدوي چې په افغانستان کې د پانګونې چاپېریال د سیاسي عواملو تر اغېز لاندې دی او تر هغه چې سیاسي ثبات، نړیوال مشروعیت، متوازن بهرنی سیاست او د پالیسۍ دوام ټینګ نه شي، د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د پراختیا تمه به محدوده پاتې شي.

**۵ـ پایله**

د دې څېړنې پایلې په واضحه توګه څرګندوي چې د افغانستان پانګونې چاپېریال د ۲۰۲۱–۲۰۲۶ په موده کې د سیاسي عواملو له امله ژور اغېزمن شوی دی. د واک بدلون، په اسلامي امارت نړیوال بندیزونه، د

مرستو سياسي کېدل، د قانون د پلي کېدو په برخه کمزورتيا او نړيوالو اړيکو په برخه کې محدوديتونه چې د پانګوالو باور ته جدي زيانونه رسولي دي. څېړنه تاييدوي چې پانګونه يوازې اقتصادي پرېکړه نه ده، بلکې ژوره سياسي، اداري او ټولنيزه معنا لري. د سياسي ثبات، نړيوالو اړيکو زياتوالی، ښه حکومتداری، قوي نهادونه او ټولنيز شموليت پرته د پانګونې چاپېريال د پايښت وړ نه دی.
د څېړنې پايلې ښيي چې د افغانستان اقتصاد د ۲۰۲۱ د اسلامي امارت په راتګ سره د مالي زيرمو په کنګل کېدو سره له ځوړ سره مخ شو، د ۲۰۲۲ کال ياد ځوړ په خپل حال پاتي شو، د ۲۰۲۳ په داخلي عوايدو زياتوالي او د ۲۰۲۴ په صادراتي خوځښتونو کې د سياسي عواملو مستقيم اغېز تجربه کړی. دا تسلسل څرګندوي چې هر ډول اقتصادي پرمختګ د سياسي شرايطو تابع دی. د پخوانيو څېړنو سره پرتله کول ښيي چې د افغانستان وضعيت د نړيوالو نظريو لکه د سياسي ثبات، نهادونو، خطر–عوايد، او ښه حکومتداری له اصولو سره سمون لري، خو نوی والی يې په دې کې دی چې د سياسي عواملو ګډ اغېز په جامع ډول څېړل شوی او د کلونو په تسلسل کې د پانګونې چاپېريال بدلونونه روښانه شوي دي.
د دې څېړنې پايله څرګندوي چې د افغانستان د پانګونې چاپېريال ښه‌والی يوازې هغه وخت امکان لري چې سياسي ثبات ټينګ شي، نهادونه قوي شي، حکومتداري شفافه شي، او ټولنيز شموليت تضمين شي. د پاليسي جوړونکو، دولت، او نړيوالو بنسټونو لپاره دا پايله عملي پيغام لري: تر هغو چې ياد عواملونه اصلاح نه شي، د بهرني او کورني پانګوالو باور بيا رامنځته کول ستونزمن دي.
په ټوله کې، دا څېړنه د افغانستان د پانګونې چاپېريال د سياسي عواملو له زاويې يوه نوی علمي نقشه وړاندې کوي، چې نه يوازې د علمي مرکزونو لپاره ارزښت لري، بلکې د دولت او پانګوالو لپاره د عملي پاليسي جوړونې لارښوونې هم برابروي.

### ۶ـ ماخذونه


Abdullah, A., Amin, K., & Azim, A. (2023). *Exploring opportunities and challenges for international investment in Afghanistan's economic development*. Journal of Positive School Psychology, 7(5), 1016–1042.

Asian Development Bank. (2023). *Asian Development outlook: Afghanistan*. Retrieved from https://www.adb.org/countries/afghanistan/main

Asian Development Bank. (2024). *Asian Development outlook: Afghanistan*. Retrieved from https://www.adb.org/countries/afghanistan/main

Ghani, K. (2024). *The impact of Taliban rule on Afghanistan's economy*. Pukhtunkhwa Journal, 2(1), 327–340.

PeaceRep. (2023). *Afghanistan post-2021: The new political economy of growth*. Retrieved from https://peacerep.org

United Nations Development Programme (UNDP). (2022). *Afghanistan socio-economic outlook 2021–2022*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2023). *Afghanistan socio-economic outlook 2023*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2024). *Afghanistan socio-economic outlook 2024*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2025). *Afghanistan socio-economic review*. Retrieved from https://www.undp.org/afghanistan/publications

World Bank. (2021). *Afghanistan development update: Socioeconomic impact of political transition*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

World Bank. (2023). *Afghanistan economic update: Revenue mobilization amid crisis*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

World Bank. (2024). *Afghanistan economic update: Trade and export developments*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

World Bank. (2025). *Afghanistan futures*. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/brief/afghanistan-futures

# د اسيا د مالي ځواک ډېرېدل او د نړۍ په مالي نظام يې اغېزې

**مسئول ليکوال: سيد احمد گوهر**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، مسلم پوهنتون، غزنی، افعانستان.

ایمیل آدرس: sayedahmadgauhar999@gmail.com

**لنډيز**

نړيوال اقتصاد په هغو قوانينو، معيارونو او پروسو تکيه لري چې د پيسو ليږد او مالي فعاليتونو کنټرول ترسره کوي. عصري نړيوال مالي سيستم د آزاد بازار او سوداګريزې ګټې پر اصولو ولاړ دی. په دې سيستم کې پانګه (پيسې) په آزاد ډول هيوادونو ته ليږل کيږي او سوداګر کولی شي ګټه ترلاسه کړي. د اوسني نړيوال مالي سيستم قواعد عمدتاً د امريکا او اروپايي هيوادونو لخوا د ۱۹۷۰مو کلونو په نيمايي کې جوړ شول، کله چې د برېټن ووډز سيستم پای ته ورسيده، د اوږد وخت لپاره لويديځ د نړيوال مالي سيستم کنټرول درلود، په تيرو پنځوسو کلونو کې اسيا د نړيوال مالي سيستم په برخه کې ډيره ونډه ترلاسه کړې ده، نو اړينه ده، چې د اسيا رول په نړيوال مالي نظام کې څرګند شي، زموږ له لوري په توصيفي او تحليلي بڼه د معتبرو کتابونو، انټرنيټي سايټونو، معتبرو ژورنالونو او مقالو څخه په را اخيستل شويو دويم لاس معلوماتو کې څرګندېږي، چې اسيا يوازې په نړيوال مالي بازار کې برخه نه لري، بلکې د مالي منابعو لوی مرکز هم دی. د ۲۰۲۰ کال د کرونا وبا په پيل کې، د اسيا مالي سيستمونه د نړيوالو بانډونو ۳.۲۹٪، د نړيوالو سټاکونو ۳.۳۴٪ او د مارکيټونو ۱.۴۳٪ سلنه برخه درلوده، اسيايي ښارونه لکه هانګ کانګ، سنګاپور، شانګهای او توکيو د نړيوالو مالي مرکزونو په توګه مخکښ رول لري، ډېر مخکښ نړيوال مالي مرکزونه اوس په اسيا کې دي، او دغه سيمه د نړۍ لوی بانکونه، د تقاعد صندوقونه (**pension funds**) او د دولت ملکيت لرونکي پانګونې صندوقونه (**sovereign wealth funds**) لري. څېړنې وښوده چې په اوسني دور کې د اسيا د مالي ځواک ډېرېدل په نړۍ وال مالي بازارونو او نظام باندې مستقيمې اغېزې لري، څکه دا څېړنه د اسيا د ټوليز نفوذ او اغيز په نړيوال مالي نظام په کيفي ډول څېړي( دا څېړنه د نوعيت له مخې کيفي او د معلوماتو د راټولو له مخې کتابتوني چې پکښې معلومات په توصيفي او تحليلي بڼه له معتبرو کتابونو، علمي ژورنالونو، څېړنيزو مقالو او انټرنېټي معتبرو سرچينو څخه راټول شوي او تحليل شوي دي، تر څو د اسيا د مالي ځواک ډېرېدل او په نړيوال مالي نظام يې اغېزې په هر اړخيز ډول روښانه شي).

**کليدي کليمې:** پانګه؛ صادرات؛ مالي نظام؛ مالي سيستمونه؛ نفوذ؛ نړيوال مالي بازار؛ واردات.

# The Growing Financial Influence of Asia and Its Effects on the Global Financial System

Sayed Ahmad Gauhar

Faculty of Law and Political Science, Muslim University, Ghazni/Ghazni, Afghanistan.

**Abstract**

The global economy relies on a set of rules, standards, and processes that regulate the transfer of money and financial activities. The modern international financial system is based on the principles of a free market and commercial profit. Within this system, capital (money) moves freely across countries, allowing traders to generate profits. The rules of the current international financial system were largely established by the United States and European countries in the mid-1970s, following the collapse of the Bretton Woods system. For a long time, the West maintained control over the global financial system; however, over the past fifty years, Asia has gained a significant share of it. Therefore, it is essential to highlight Asia's role in the global financial order.

Based on descriptive and analytical approaches, using secondary data collected from reputable books, online sources, reputable journals, and articles, this study demonstrates that Asia is not only an active participant in the global financial market but also a major hub of financial resources. At the onset of the coronavirus pandemic in 2020, Asian financial systems accounted for 29.3 percent of global bonds, 34.3 percent of global stocks, and 43.1 percent of market capitalization. Asian cities such as Hong Kong, Singapore, Shanghai, and Tokyo play leading roles as global financial centers. Many of the world's leading financial centers are now located in Asia, and the region hosts major global banks, pension funds, and sovereign wealth funds.

The findings indicate that the increasing financial power of Asia in the contemporary era has direct impacts on global financial markets and systems. Therefore, this study examines the overall influence and impact of Asia on the global financial system through a qualitative approach (this research is qualitative in nature and library-based in terms of data collection; the data have been gathered and analyzed in descriptive and analytical forms from reputable books, academic journals, research articles, and credible online sources to comprehensively clarify the rise of Asia's financial power and its impacts on the global financial system).

**Keywords:** Exports; Financial System; Financial Systems; Global Financial Market; Imports; Influence; Investment

## ۱ـ سریزه

نړیوال اقتصاد په هغو قوانینو، معیارونو او پروسو تکیه لري چې د پیسو لیږد او مالي فعالیتونو کنټرول ترسره کوي، عصري نړیوال مالي سیستم د آزاد بازار او سوداګریزې ګټې پر اصولو ولاړدی. په دې سیستم کې پانګه (پیسې) په آزاد ډول هیوادونو ته لیږل کیږي، او سوداګر کولی شي ګټه ترلاسه کړي. د اوسني نړیوال مالي سیستم قواعد عمدتاً د امریکا او اروپایي هیوادونو لخوا د ۱۹۷۰مو کلونو په نیمایي کې جوړ شول، کله چې د بریټن ووډز سیستم پای ته ورسیده، د اوږد وخت لپاره لویدیځ د نړیوال مالي سیستم کنټرول درلود(Drezner & McNamara, 2013) په تیرو پنځوسو کلونو کې اسیا د نړیوال مالي سیستم په برخه کې ډیره ونډه ترلاسه کړې ده، نو اړینه ده، چې د اسیا رول په نړیوال مالي نظام کې څرګند شي، اسیا یوازې په نړیوال مالي بازار کې برخه نه لري، بلکې د مالي منابعو لوی مرکز هم دی. د ۲۰۲۰ کال د COVID-19 وبا په پیل کې، د اسیا مالي سیستمونه د نړیوالو بانډونو ۳.۲۹٪، د نړیوالو سټاکونو ۳.۳۴٪ او د مارکیټونو ۱.۴۳٪ سلنه برخه درلوده، اسیایی ښارونه لکه هانګ کانګ، سنګاپور، شانګهای او توکیو د نړیوالو مالي مرکزونو په توګه مخکښ رول لري، ډېر مخکښ نړیوال مالي مرکزونه اوس په اسیا کې دي، او دغه سیمه د نړۍ لوی بانکونه، د تقاعد صندوقونه (pension funds) او د دولت ملکیت لرونکي پانګونې صندوقونه (sovereign wealth funds) لري. دا څېړنه د اسیا د ټولیز نفوذ او اغیز په نړیوال مالي نظام څېړي او د موضوع اړوند ټول اړخونه په مکمل ډول تشریح کوي (Rethel & Thurbon, 2020)دا څېړنه د نړۍ د لویو وچو د مالي ځواک پېژندنې او په نړیوال مالي نظام یې اغیزې، د اسیایي هیوادونو د مالي ځواک عوامل او په نړیوال مالي نظام کې د هغوی سهم او ونډې پېژندلو همدارنګه اوسنی نړیوال مالي نظام او د اسیا د مالي ځواک پېژندلو په موخه ترسره کېږي، په څېړنه کې به و څېړل شي، چې د اسیایي هیوادونو د مالي ځواک له زیاتیدو څخه مخته په نړیوال مالي نظام باندې د کومو لویو وچو مالي نظامونو اغېز لرل؟ ایا د اسیایې هیوادونو مالي پیاوړتیا د نړۍ په مالي نظام باندې تأثیر لري؟ د اسیایي هیوادونو د کومو مالي ستراتېژیانو او تګلارو په مرسته وکولای شول، چې د غربي او اروپایي هیوادونو د مالي ځواکونو رول په نړیوال مالي نظام باندې راکم کړي؟

همدارنګه دا مقاله دا هم څېړي چې د اسیا مالي سیستمونه د نړیوال بازار سره کوم توپیرونه لري اود دې توپیرونو اغیز په سیمه ییز او نړیوال مالي بازار څه دی؟ د لویو اسیایي اقتصادونو پوهه د نړیوال اقتصاد د اغېز لپاره حیاتي ده، چې د چین، هندوستان او اندونیزیا مالي سیستمونه تحلیل کړي ترڅو وګوري چې دوی له نړیوال مالي سیستم سره څنګه یوځای کیږي؟

اسیا د نړیوالو مالي معیارونو او اصولو په جوړولو کې فعاله ونډه لري، اسیایي حکومتونه او شرکتونه د خپلو ملي مالي سیستمونو او نړیوالو مالي بازارونو ترمنځ د پل جوړونکي رول لوبوي، د پورونو د ورکړو په طرز، پراختیایي تمویل او د اسعارو د تبادلې په مدیریت کې، اسیایي حکومتونه او شرکتونه نوي طریقې او نوښتونه لري، د اسیا د مالي ځواک لوړوالی په سیمه‌ییز او نړیوال مالي سیستم اغیز کوي، او موجود

مالي ځواکونه (لکه متحده ایالات او اروپا) د اسیا مالي سیستم څاري او ارزوي، په ځانګړې توګه د نړیوالو سیاسي شخړو په شرایطو کې یي څارنه د خاصو شرایطو لاندي ترسره کیږي (Pape & Petry, 2024).

د نړیوالو مالي تعاملاتو په پرمختګ کې د نظرونو او لید لوری ډېر اغیز لري، اسیایي حکومتونه او شرکتونه خپل ځای په نړیوال مالي سیستم کې څنګه ګوري؟ د نورو لویو وچو هیوادونو لیدلوری د دوی په اړه څه دي؟ د لویدیځ لخوا په را منځته شوي ازاد نړیوال نظم کي چین کوم ځای لري؟ د پرمختللو هېوادونو اتحادیې څنګه په نړیوالو سازمانونو اغیز کوي؟ او چین څنګه د متحده ایالاتو د مالي مشرۍ مخه نیسي؟

معاصر نړیوال مالي نظام په دوو اصلي پړاوونو ولاړ دی: (۱) د برېټن ووډز دوره (1944–1971) او (۲) د نیولیبرال نظم دوره (له 1970 وروسته). په دواړو مرحلو کې د نړیوال مالي ادارو جوړښت تر ډېره د لوېدیځ سیاستونو، اقتصادي منطق او نړیوالو موخو تر اغېز لاندې و، په داسې حال کې چې اسیایي هېوادونه په لومړیو کې یوازې ثانوي او محدود رول درلود، خو اوس د وخت په تېریدو سره ښکاري، چې د اسیا رول په نړیوال مالي نظام کې بې اغېزې نه دی، چې ورسره نړیوال مالي نظام یو بل نوي پړاو ته داخیلېدونکی دی(Ortiz, 2025).

## ۲ـ د څیړنې میتود

دا څېړنه د نوعیت له مخې کیفي او د معلوماتو د راټولو له مخې کتابتونې چې پکښې معلومات په توصیفي او تحلیلي بڼه له معتبرو کتابونو، علمي ژورنالونو، څېړنیزو مقالو او انټرنېټي معتبرو سرچینو څخه راټول شوي او تحلیل شوي دي، تر څو د اسیا د مالي ځواک ډېرېدل او په نړیوال مالي نظام یې اغېزې په هر اړخیز ډول روښانه شي.

## ۳ـ موندنې

### ۱ـ۳ د اسیایي مالي ځواک او نړیوالو بازارونو سره د ادغام ستراتیژۍ:

اسیا د یو واحد مالي بلاک په څېر نه دی؛ د اسیا د مالي سیستم دا تنوع د نړیوال مالي سیستم سره د یو ځای کیدو لپاره څو اړخیز شکل لري. که څه هم نړیوال مالي سیستم غواړي واحدې کړنلارې رامنځته کړي، خو د اسیا هیوادونه د مالي سیستم او د بازار لپاره مختلف جوړښتونه لري. په نړیوال مالي نظام کي د پانګي ډېروالی اغیز لري په دي اساس د اسیا اهمیت یوازې د پیسو په ډېروالي کې نه دی. بلکي اصلي ارزښت یي په دې کې دی چې دغه پانګه څنګه اداره کیږي او کومې لارې تعقیبوي (Abdelal, 2007).

اسیا د مالي چارو په اړه ځانګړې فلسفې لري چې له لویدیځو کړنلارو سره توپیر لري، دا نظرونه د لویدیځ مالي کلتور ننګوي، دوی ښه پوهېږي چې د اسیا اسعار پرته له دې چې د جاپان ین وي په نړیوالو اسعارو کې د ټیټ مقام لرونکي دي اود اسیا اسعار نړیوال ځواک نه لري. ځکه نړیوال مالي سیستم د لویدیځ لخوا رامنځته شوی او اسیا وروسته ورننوته، اسیایي هیوادونه، په هغه نړیوال مالي سیستم کې ناوخته ورګډ شول چې د استعماري دورې راهیسې د لویدیځ (په ځانګړي ډول انګلو-امریکایي) لخوا

جوړ شوی دی. د اسیا مالي سیستمونه له سیاسي اغېزو نه دي خلاص پاتې شوي په اسیا کي سیاست او مالي بازارونه سره تړلي دي. د پانگهوالو بازارونه، د هغوی منځگړو او پروسو د نفوذ زیاتوالی په معاصر اقتصادي او سیاسي ژوند کې زیات لیدل کیږي(Cohen, 2018).

اسیا د مالي پراختیا لپاره خپل نوښتگرې لارې جوړې کړې. د اسیا پالیسي جوړوونکو او ادارو هڅه کړې چي د بیلابیلو ستراتیژیو له لارې کورني مالي سیستمونه پراخ کړي او هغه له نړیوالو مالي بازارونو سره وتړي، لکه د کورني پانگه وال بازارونوپراخول، نړیوالو مالي بنسټونه جوړول او د اسلامي مالي سیستم ته وده ورکول دي. اسیا د مالي ثبات په اړه ښه ستراتیژیاني لري، ځکه د اسیا مالي پالیسي جوړوونکو لپاره د ۲۰۰۷ نړیوال مالي بحران یو مهم پړاو و، چې بېثباته نړیوالې پانگه د سیمې لپاره خطرناکې دي نو په دي اساس راتلونکو بحرانونو ته یې امادگي ونیوله.

د لویدیځ مالي نظام ناکامۍ د اسیا پالیسي جوړوونکو ته دا مهم درس ورکړ چې مالي سیستم باید د دولت له کنټرول پرته پرېنښودل شي، په عین وخت کې، د اسیا پالیسي جوړوونکي خپل سیاسي مشروعیت د دې پر بنسټ ټینګ کړ چې د مالي سکتور پراختیا د منځنۍ طبقې په شتمن کیدلو سره ممکن دی ځکه یې منځني طبقي ته فرصتونه زیات جوړ کړل(Karim, 2025).

د چین بانکونه او مالي موسیسي د بازار د اصولو تر څنگ د سیاسي او ټولنزو شرایطو سره په هماهنگي جوړیري، ملي او سیاسي گټې یې په نظر کي لري.د چین مالي موسیسي یوازي دا نه چي پیسي گټې بلکي د ملیتپالني او د حکومت تگلاري هم تعقیبوي. چین کي حکومت او بازار په همغږي مخته ځي. د چین مالي سیستم د هند مالي سیستم سره فرق لري، د هند لوی تاجران د دولت پر پالیسۍ اغېز کوي. هند کي د مالي سیستمونه په اړه ازادي د ټولو لپاره نه ده، بلکې یوازې د لویو شرکتونو د گټې لپاره جوړه شوې ده. د درمل جوړولو شرکتونه او د ټیکنالوژۍ شرکتونه پراخي ازادۍ لري او د نړیوال پراختیا په برخه کي سیاسي محدودیتونه نه لري(Petry & Nölke, 2025).

اسیایي هیوادونه د پانگي په راجلبولو زیات تمرکز لري، د چین پانگه د سیمي د صنعتي تحریک لپاره اساسي رول لري د اندونیزیا د موروالي صنعتي پارک، چې د نیکل د بوم په منځ کې دی، او د چیني پانگې د جذبولو رول لري. دغه بهیر د اندونیزیا د مالي سیستم لپاره گټور تمام شوي له یوي خوا د چین له نړیوالو کمپنو سره وصل شوی او له بلي خوا داخلي صنعت یې وده کړي. د چین پرمختگ سیمه ییزې اغېزې لري دا په سیمه کي اقتصادي تحرک رامنځته کړي چي دا په نړیوال بازار کي د اسیا حصه زیاتوي(Lee & Kim, 2025).

د اسیایي هیوادونو لاره انعطاف منونکې او محتاطه ده، اسیا پالیسي جوړونکي په عملي ډول هم اقتصادي اصلاحاتو ته رامنځته کوي، هم د کورنۍ ازادي مالي موسیساتو ته ورکوي او هم د نړیوالې پانگې ادغام په برخه کي له انعطاف څخه کار اخلي، د اصلاحاتو اصلي ځانگړنه دا ده ازادي خو د دولت تر څار لاندې به وي تر څو نړیوال اقتصادي بحرانونه کنټرول کړي او اغیزي یې محدودي کړي. په اصل

کې د اسيايي هيوادونه دا محتاطانه حرکت د اروپايي هيوادونو د بې باکه اقتصادي پاليسو په وړاندې ده او اسيايي هيوادونه پانګه په ستراتيژيک ډول مديريت کوي هم داخلي صنعت په پياوړی کوي او هم نړيوال بازار کې خپل نفوذ زياتوي (Gotoh, 2019).

**۲-۳ د نړيوال مالي نظام بيا تعريف او تنظيم:**

اسيا يا په دقيق ډول د اسيا حکومتونه او مالي مؤسسې په نړيوالو مالي چارو کې ورځ تر بلې ډېر مهم لوبغاړي ګرځېدلي دي، په ټوليز ډول د اسيا هېوادونه د ۵.۷ ټريليونه ډالرو څخه زيات رسمي اسعارو ذخاير لري.په اسيا کې د نړۍ تر ټولو لوی تقاعدي صندوق ( pension fund ) شته او نږدې ۳۰ سلنه نړيوالې تقاعدي شتمنۍ د دوی تر کنټرول لاندې دي، د اسيا مالي مؤسسې له بانکونو او فِن ټيکونو څخه تر سټاک بازارونو پورې د نړيوالو مالي بازارونو په مهمو لوبغاړو بدل شوي دي (Hameiri & Moramudali, 2025).

په نړيوالو مالي نظام کې د اسيا راپورته کېدل نوې پوښتنې راپورته کړې چې د دولت رول د نړيوال اقتصاد په پياوړتيا کې څومره دی او يوازې بازارونو ته واک ورکړل شي. د ۲۰۰۰ لسيزې په پيل کې داسې ګڼل کېده چې په ختيځ اسيا کې د "پرمختيايي دولت" پر ځای يو "نوي لېبرال تنظيمي دولت" راغلی دی، چې د قوانينو په عملي کولو کې او د پانګونې اړوند تصميمونو کې د بازار پر پراخ رول ټينګار کوي، خو په نړيوالو بازارونو کې د اسيا د دولتي پانګه‌والو دوامداره شتون ښيي چې کيسه تر دې ډېره پېچلې ده، وروستيو څېړنو په ډاګه کړه چې د اسيا اقتصادونه لا هم د "پرمختيايي ذهنيت" لرونکي دي، ځکه حکومتونه په مالي چارو کې فعال رول لري (Petry, 2025).

دلته پوښتنه مطرح کېږي کله چې د اسيا پانګه نړيواله شي او حکومتونه فعاله رول ولري، نو د نړيوال مالي نظام لپاره به يې پايلې څه وي؟ لکه څنګه چې په کورني اقتصادونو کې لا هم "پرمختيايي فکر" ژوندی ښکاري، په نړيواله کچه موږ وينو چې اسيايي دولتونه د اقتصاد او مالي چارو کې ډېر فعال دي. د بېلګې په توګه: د ملي اسعارو بانډونو بازار پراخول، د اسعارو زېرمې سمبالول، او د بهرنيو پانګونو جريان څارل او کنټرولول دي. په اسيايي هيوادونو کې عامه پانګه د خصوصي سکتور د هڅونې، د منځنې طبقې د پانګې د خونديتوب، د ملي بانکونو او ملي پروژو د حمايت لپاره کارول کيږي چې د اقتصادي ثبات لپاره مهم عامل ګڼل کيږي (Pape, 2025).

د شمال ختيځې اسيا اقتصادونه د خپلو کورنيو لويو پانګوال ادارو (لکه د تقاعد لوی صندوقونه) نړيوال شکل تر لاسه کړی دی، حکومتونو له دې ادارو سره مرسته کوي تر څو نړيوال شکل غوره کړي ځکه حکومتونه په دې برخو له ذکرو شوو ادارو سره ملاتړ لري لکه د عامه پيسو بهر ته استول، د اسعارو د تبادلې محدوديتونه نرمول، او د مرکزي بانک له لوري د اسعارو بازارونو لپاره نوې لارې چارې تر کار لاندې نيول دي.

په عين وخت کې، نړيوالېدو ته وده ورکول دولتونو ته دا زمينه برابره کړه چې د اسعارو د تبادلې پرمختللې تګلاره غوره کړي. يعنې يوازې په اسعاري زېرمو تکيه ونه کړي، بلکې په ستراتيژيکو پانګونو (عامه او

خصوصي سکتور) هم حساب وکړي چې پرمختيايي اهداف پوره کړي. دا د لوېديځو دولتونو له ليبرال کړنو سره ډېر توپير لري، چېرې چې هغوی يوازې د خطر کمولو (de-risking) پر بازارونو تکيه کوي. جيسلين لي او سو يين کيم څېړنه کوي چې د چين په مشرۍ د اسيايي زيربنايي پانگونې بانک (AIIB) څنگه د پانگونې جريانونه رهبري کوي او د لوېديځو پرمختيايي مالي اصولو په وړاندې ننگوني را منځته کوي. د AIIB او نړيوال بانک ترمنځ د پام وړ همغږي شته، او د دواړو لومړيتوبونه يو پر بل اغېز لري، دا ښيي چې که څه هم د دواړو بانکونو د پور پروژې يو له بله توپير لري، خو د پرمختيايي مالي اصولو په برخه کې دواړه بنسټونه يو شان نظر لري. په ټوليز ډول، راتلونکی انځور تل د لوېديځو بازارونو د اصولو ښکاره ننگونه نه ده، بلکې د بديلو لارو د جوړېدو ښکارندوی دی، چې د گډو مالي کړنو د گډ ژوند امکان برابروي(Musthaq, 2025).

د سوېل ختيځې اسيا دولتونه هم د مالي چارو هغه واکمنه نظريه ننگوي چې يوازې د گټې د اعظمي کولو پر بنسټ ولاړه ده، دوی هڅه کوي چې د مالي چارو يو رښتينی او پايدار ماډل جوړ کړي. د سوېل ختيځې اسيا هېوادونو ټولنې (ASEAN) له خوا د دوامدار مالي طبقه بندۍ جوړښت ښيي چې دغه دولتونه هم د لوېديځو، په ځانگړي ډول د اروپايي اتحاديې، د معيارونو تقليد کوي او هم د اسلامي مالي اصول د مالي مقرراتو تعقيبوي. دغه ډول کړنې دا ښيي چې د مالي معيار جوړونې پروسه نور يوازې د لوېديځ په لاس کې نه ده؛ بلکې نور د اسيا څخه سرچينه اخلي(Ortiz, 2025).

د اسيايي مالي ځواک راڅرگندېدل او زياتېدونکي جيوپوليټيکي تاوتريخوالي:

د اوږدې مودې لپاره د بازار د تنظيم ليبرال اصولو هغه څه تعريف کړل چې د نړۍوالې مالي تگلارې او مقرراتو په نوم پېژندل کېدل. يعنې د نړۍ مالي نظام د آزاد بازار له نظريې څخه الهام اخيستی و. دغه ډول د بازار تنظيم د نه مداخلې (non-interference )او د پانگې د آزاد حرکت (free movement) پر اصولو ولاړ و. دا نه يوازې د نوې ليبرال اقتصادي مفکورې پايله وه، بلکې د نړۍوالو مالي نابرابريو د ډېروېدو لامل هم وگرځېد. د بازار پر بنسټ مالي اصول او کړنې له لوېديځ (په ځانگړي ډول د انگليسي-امريکايي نړۍ) څخه نورو سيمو ته خپرې شوې. دا پروسه د لوېديځو، په ځانگړې توگه د امريکا، مالي بنسټونو ځواک لا پياوړی کړ، خو اوس چې اسيا په نړيوالو مالي چارو کې ډېر مهمه شوې، دغه موقتي حالت يې بدل کړی دی. يعنې نور لوېديځ يوازې واکمن نه دی. د اسيايي پرمختيايي مالي ادارو د ودې له امله د نړۍ مالي نظام لا ډېر متنوع شوی دی. دا يو ژور او بنسټيز بدلون دی چې د هغې نوې ليبرال اجماع (ترانس اټلانتيک يا د امريکا او اروپا تر منځ همغږي) ته لوی د خطر زنگ دی، هغه همغږي چې د ۲۰۰۷-۲۰۰۹ نړيوال مالي بحران تر مخه د نړۍ د مالي نظام بنه ټاکلې وه(Ortiz, 2025).

دغه بهير (يعنې د اسيا د مالي ځواک زياتوالی او نړيوال نفوذ) د جيوپوليټيکي يا جغرافيايي سياسي ملاحظاتو تر اغېز لاندې هم رامنځته شوی هم د اسيا دننه، او هم د هغو زړو مالي قدرتونو له لوري چې مخکې يې نړيوال مالي نظام کنټرولوه.له يوې خوا، د اسيا مالي لوبغاړي (لکه دولتونه، بانکونه، او مالي

بنسټونه) د جيوپوليټيکي موخو له مخې عمل کوي، يعنې د سياست او اقتصاد ګډې موخې تعقيبوي. دا کړنې د پرمختيايي تګلارو او د "اقتصادي دولت داری" (economic statecraft) يوه برخه ده چي د اقتصادي وسيلو په کارولو سره سياسي اهداف تعقيبوي.له بلې خوا، د اسيا مالي کړنې د لوېديځو هېوادونو له لوري د زياتې څارنې او شک لاندې نيول شوي دي، خو دا څارنه د هېوادونو په کچه توپير لري. دلوېديځ هېوادونه د اسيا د مالي کړنو مخالفت د جيوپوليټيکي رقابتونو له امله کوي (Helleiner & Kirshner, 2014).

د ختيځې اسيا د پانګونې په اړه په سيليکان وېلي کې، روبين کلينګلر ويدرا او رامون پچيکو پارډو دا نظر ردوي چې نړيوالې اقتصادي اړيکې يوازې د لوېديځ د بازار ازاد اصول ختيځ ته لېږدوي، هغوی څرګندوي چې دا بهير دوه طرفه دی، ختيځ هم پر لوېديځ اغېز کوي. دوی د "return diffusion" (يعنې د افکارو بېرته خپرېدل) مفهوم وړاندې کوي. دا ښيي چې اوس د جاپان، جنوبي کوريا، تايوان او چين پانګه‌وال د سيليکان وېلي تر ټولو ستر پانګه‌وال دي. هغه سيمه چې مخکې يې له لوېديځ زده کړه کوله، اوس خپله اغېزه بېرته لوېديځ ته لېږي، خو دا نوې مالي کړنې (چې ختيځ يې لوېديځ ته بېرته لېږي) د مختلفو دولتي او اداري اصولو پر بنسټ دي. يعنې دا يوازې د ګټې لپاره نه، بلکې د حکومتونو د ځانګړو پاليسيو د هدف لپاره ترسره کېږي، د اسيا لوی شرکتونه چې په سيليکان وېلي کې نوښتګر شرکتونه تمويلوي، دا کار د اقتصادي سياست يوه بڼه ده چې ستراتيژيک او ټکنالوژيک اهداف تعقيبوي(Lee & Kim, 2025).

په دې وخت کې چې نړيوال سياسي سيالۍ زياتې شوې دي، دا ډول پانګونې ډېرې سياسي شوې دي. د چين پانګونه تر ټولو زياته څارل کېږي، ځکه لوېديځ هېوادونه د چين د نفوذ څخه زياته وېره لري، جيوپوليټيک يا جغرافيوي-سياسي تاوتريخوالي اوس د ختيځې اسيا د يووالي او يوځای‌کېدو بڼه له پرمختيايي او ازادپالې (ليبرالېزم) مسايلو نه ورهاخوا لا ډېره اغېزمنه کړې ده، لکه څنګه چې د اسيايي خصوصي پانګې زياتېدونکي بهيرونه د اسيايي پانګه‌والو د نفوذ او ځواک په اړه بحثونه راپارولي، همداسې د دولت په مشرۍ عامه پانګونه هم تر زياتې څېړنې او نيوکې لاندې راغلې ده، خو د چين د پراخ پور ورکولو دا پړاو لا هم د نړيوال مالي نظام پر جوړښت اغېز لري او هغو لوېديځو بنسټونو ته يو ځانګړی چلنج وړاندې کوي، لکه د «پاريس کلب» (Paris Club) د پور مديريت سازمان، چې چين پکې غړی نه دی(Lee & Kim, 2025).

دا څېړنه د چين پر هغو هڅو تمرکز کوي چې غواړي ستراتيژيکو توکو (commodities) ته خپل لاسرسی زيات کړي، او څرګندوي چې د لوېديځ مالي نظام لا هم د نړيوالو توکو د بيې ټاکلو په بهير کې مهم رول لري.چين، چې د نړيوالو توکو په بازارونو کې په نسبي توګه د تابع او کمواک په موقف کې ده، هڅه کړې چې د بيې ټاکلو واک ترلاسه کړي، او له دې لارې د امريکا تر واک لاندې مالي بازارونو څخه خپلواکي ترلاسه کړي، د دې لپاره يې خپل د توکو بنچمارکونه جوړ کړي دي، کله چې لوېديځ سياستوال دې پايلې ته ورسېدل چې د اسيايي مالي نظام د دوی د اصولو پر بنسټ نه چلېږي، نو

دوی پخپله هم د جیوپولیټیکو موخو پر بنسټ عمل پیل کړ، او داسې مالي تګلارې یې غوره کړې چې د اسیایي سیستمونو د مداخلې بنې ته ورته دي، په ځانګړې توګه د چین پر وړاندې د غبرګون په توګه، لوېدیځو هېوادونو د پانګونې د څېړنې او کنټرول میکانیزمونه رامنځته کړي او د پانګې د بهیر پر ازاد تګ راتګ یې محدودیتونه لګولي دي. د بېلګې په توګه، متحده ایالاتو پر هغو شرکتونو د پانګونې بندیز لګولی چې ګومان کېږي د چین د خلکو د ازادۍ له پوځ (PLA) سره اړیکې لري، یا له شین‌جیانګ سیمې څخه مواد ترلاسه کوي، د هند، روسیې او چین ترمنځ د دوه اړخیزو مالي اړیکو ژورتیا او د ډالري تکیې د ورو کمېدو (de-dollarization) پروسه چټکه شوې ده(Pape & Petry, 2024).

**۴ـ مناقشه**

آنچه در دین اسلام از جمله معیارات اسلام در باب تجارت پنداشته شده ، دوری از حرص مال دنیا است ، چون اکثر اوقات باعث هلاکت نابودی اعمال انسان شده ، انسان را از عبادات باز داشته مصروف مادیات می نماید به همین خاطر است که رسول اکرم صليّ الله عليه وسلّم درباره اين بيماري پنهان فرموده است: (ابن عباس رضي الله عنهما يقول سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول لَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَانِيًا وَلَوْ كَانَ لَهُ ثَانِيًا لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَالِثًا)[56]

---

[52] - سورة النور آية 207.

53 - تفسير كابلی ج2 ص 288.

[54] -سورة النساء آية 29.

[55] -تفسير كابلي ج1ص 215.

[56] -صحيح البخارى ج16 ص 244.

ترجمه : از عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما روايت شده كه ميگفت از رسول اكرم صلى الله عليه وسلم شنيدم اگر براي بني آدم دو وادي از طلا باشد (نه تنها سير نميشود بلكه) وادي سومي را نيز طلب ميكند.

چون حرص و آزمندي، انسان را گرفتار جمع آوري مال و بهره جويي ها مادي مينمايد و او را از فضايل اخلاقي و ارزشهاي عاطفي و هم ياري به هم نوعانش باز ميدارد و زمينه هاي تكبر، غرور و بهره كشي را در او فزوني ميبخشد. اين بيماري خطرناك تجار را بر آن ميدارد كه به دنبال به دست آوردن سود زيادي باشند، ولو از راههاي غير مشروع كسب گردد.

**۳ـ۳ احکام سرمایه گذاری خارجی در پرتو شریعت اسلامی**

در عصر کنونی با جهانی‌شدن اقتصاد، کشورهای اسلامی به سرمایه‌گذاری خارجی به عنوان عاملی برای توسعه اقتصادی و اشتغال نگاه می‌کنند اما پذیرش سرمایه خارجی نیازمند تطابق با شریعت اسلامی است، زیرا سرمایه‌گذاری‌های مغایر با قوانین اسلامی، مانند فعالیت در زمینه‌های ربوی، قمار، یا مشروبات الکلی، جایز نیست همچنان سرمایه‌گذاری خارجی و لو در کشورهای اسلامی بی انجامد به عنوان یکی از ابزارهای توسعه اقتصادی در کشورهای اسلامی اهمیت ویژه‌ای داشته چرا که سرمایه‌گذاری خارجی در عصر کنونی به معنی انتقال سرمایه از یک کشور به کشور دیگر برای کسب منفعت بوده که سرمایه كذاری اتباع خارجی مسلمان و غیر مسلمان برای منفعت دو طرف گردد که در این مبحث میپردازیم به احکام سرمایه گذاری خارجی در پرتو شریعت اسلامی :

**۳ـ۳ـ۱ حکم اسلام در رابطه به سرمایه گذاری**

شریعت اسلامی هیچ وقت مانع پیشرفت نبوده نصوص زیادی است که دلالت به اباحت تجارت و سرمایه گذاری می نماید الله متعال در رابطه به اباحت تجارت و سرمایه گذاری ولو مسلمان با غیر مسلمان باشد چنین میفرماید:

﴿ لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴾ [57]

ترجمه: خداوند شما را باز نمي دارد از اين كه نيكي و بخشش بكنيد به كساني كه به سبب دين با شما نجنگيده اند و از شهر و ديارتان شما را بيرون نرانده اند . خداوند نيكوكاران را دوست مي دارد .

به قول امام ابن کثیررحمه الله علیه میفرماید : الله متعال اباحت نموده است تمام تعملات اجتماعی را مگر کسانی که با مسلمانان در جنگ بودند .[58]

تعامل محمد صلی الله علیه وسلم در دوران قبل از نبوت و بعد از نبوت با سرمایه گذاران مسلمان و غیر مسلمان دلالت می نماید چنانچه که روایت شده است که پیامبر صلی الله علیه وسلم روزی مواد ارتزاقی را از یهودی خریداری نموده و در مقابل آن زره خویش نزد یهودی گذاشت که خود دلالت به اباحت

---

[57] -سورة الممتحنة آية 8.

58 - تفسير القرآن العظيم ،لأبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير ج 8 ص 89.

سرمایه گذاری می نماید ؛چنانچه که از نبی کریم صلی الله علیه و سلم روایت شده است :( عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ مَشَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزِ شَعِيرٍ وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ وَلَقَدْ رَهَنَ )[59]

ترجمه: انس رضي الله عنه مي فرمايد : مقداري نان جو با كمي روغن بدبو، خدمت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - بردم. آنحضرت صلى الله عليه وسلم زره اش را نزد فردي يهودي به رهن نهاده و از او قدري جو براي توشة عيالش گرفته بود.

حدیث فوق نبی صلی الله علیه وسلم دلالت به اباحت سرمایه گذاری خارجی و لو مسلمان نباشد طبق قاعده و قانون اسلامی قابل تطبیق است .

در رابطه به اصل اباحت سرمایه گذاری مسلمان و غیر مسلمان در کشورهای اسلامی تا زمانکه دلیل برای تحریم آن پیدا نشود جایز داسته شده قاعده فقهی نیز قابل تطبیق است :

"الأصل فی المعاملات الإباحة إلا ما دلّ الدليل على تحريم"[60] ترجمه : ر معاملات اصل اباحت است مطر دلیلی برای تحریم آن پیداشود .

بنابراین سرمایه‌گذاری خارجی ذاتاً جایز است مگر آنکه مشتمل بر امر حرام باشد.

## ۳-۲-۲ اصول شریعت اسلامی در سرمایه‌گذاری خارجی

شریعت اسلامی بر چند اصل مهم در سرمایه‌گذاری تأکید دارد:

1-حرمت ربا :سرمایه‌گذاری باید بدون بهره ربوی انجام شود چنانچه که الله متعال میفرماید : ﴿ وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾[61]

2- اجتناب از غرر و قمار :فعالیت‌هایی که دارای عدم قطعیت شدید یا قمارگونه هستند، جایز نیست.

3- تحریم فعالیت‌های حرام :سرمایه‌گذاری مانندی در مشروبات الکلی، تولید و توزیع مواد مخدر و دیگر اشیاء حرام یا فعالیت‌های غیر اخلاقی ممنوع است.

نیز همه فقها ی اسلام در موضوع سرمایه‌گذاری مستقیم توصیه می‌کنند که سرمایه‌گذار با رعایت عقود مشروع مثل مشارکت، مضاربه و مزارعه سرمایه‌گذاری نماید هیچ مانعی نیست.[62]

پس شرایط مشروعیت سرمایه‌گذاری خارجی در فقه اسلامی فعالیت سرمایه‌گذاری باید مشروع و حلال باشد؛ قرارداد سرمایه‌گذاری باید شفاف، بدون ابهام و بدون ربا باشد تقسیم فایده و زیان باید بر اساس توافق طرفین و قوانین شریعت باشد و رعایت حقوق طرفین و جلوگیری از استضعاف اقتصادی الزامی است در نهایت سرمایه‌گذاری خارجی در کشورهای اسلامی تنها زمانی مشروع و پذیروفتنی است که با قواعد شریعت از جمله پرهیز از ربا، غرر و فعالیت‌های حرام مطابقت داشته باشد. کشورهای اسلامی با

---

59 - صحيح البخاري ج7ص 231.

60 - موسوعة الفقه الإسلامي ,لمحمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري ج2 ص 305.

61 - سورة البقرة آية 275.

62 - فقه المعاملات لمجموعة من المؤلفين ج3 ص144

ایجاد ابزارهای مالی اسلامی مانند صکوک و مشارکت‌های مشروع می‌توانند سرمایه خارجی را جذب کنند و توسعه اقتصادی پایدار ایجاد نمایند[63]

**۴ـ مناقشه**

فقهای معاصر با استناد به اصل قاعده ای اباحه در معاملات سرمایه‌گذاری خارجی را در اصل جایز می‌دانند، مشروط بر آن‌که موضوع فعالیت و سرمایه گذاری مشروع باشد؛ مشتمل بر ربا غرر یا قمار نباشد همچنان منجر به سلطه و اضرار فرد مقابل نشود ؛ این گروه فقهاء بر این باورند که اسلام نظام اقتصادی را بسته و انزوا نکرده و روابط تجاری مسلمانان با غیرمسلمانان در صدر اسلام نیز مؤید تعامل اقتصادی فرامرزی بوده است و یکی از چالش‌های اصلی، ماهیت نظام مالی جهانی است که عمدتاً مبتنی بر ربا بوده اگر در کشورهای اسلامی و در بین مسلمانان سرمایه گذاری بی انجامد باید دور از ربا باشد که غالباَ سرمایه گذاران خاجی غیر مسلمان متکی به آن اند که در کتب فقه به صراحت چنین حکم صادر نشده بود این در حالی است که ربا به‌صراحت در قرآن کریم تحریم شده است پس از منظر شریعت اسلامی عدالت یکی از مقاصد اساسی در تجارت سرمایه گذاری است پس سوال اینجاء است که آیا سرمایه‌گذاری خارجی موجب توزیع عادلانه ثروت می‌شود یا شکاف طبقاتی را تشدید می‌کند؟ و آیا انتقال فناوری و دانش را تسهیل می‌کند یا صرفاً استخراج منابع و سودآوری یک‌جانبه را دنبال می‌کند؟ همچنان سرمایه گذاری خارجی می‌تواند بستر رشد اقتصادی، کاهش بیکاری و ارتقای زیرساخت‌ها را فراهم سازد و با مقاصد شریعت در حفظ مال و رفع فقر هماهنگ باشد پس با رویکرد مقاصد، سرمایه‌گذاری خارجی باید در خدمت حفظ دین نفس عقل نسل و مال بوده اگر تضاد به قواعد اسلامی داشت در فقه اسلامی رد اگر موافقت داشت اسلام به آن هچ مشکل ندارد پس از در این تحقیق سرمایه گذاری ولو از طرف هر کسی باشد مبنی به شروط اسلامی بوده بر اصل اباحت استوار است که فقه اسلامی ممانعت ندارد و بر جواز آن حکم می نماید .

**۵ـ نتیجه گیری**

شرایط سرمایه‌گذاری خارجی در پرتو شریعت اسلامی نشان می‌دهد که فقه اسلامی نه‌تنها با اصل سرمایه‌گذاری خارجی تعارضی نداشته بلکه در چارچوب ضوابط شرعی، آن را به‌عنوان ابزار مشروع برای توسعه اقتصادی، انتقال فناوری، ایجاد اشتغال و تقویت رفاه عمومی می‌پذیرد پس در رابطه به موضوع سرمایه گذاری فرد خارجی باشد یا داخلی در فقه اسلامی آنچه اهمیت دارد، نحوه تنظیم و اجرای این سرمایه‌گذاری‌ها در چارچوب اصول بنیادین شریعت اسلام میباشد ؛پس اصل مشروعیت فعالیت اقتصادی در اسلام مبتنی بر حلال بودن معاملات و سرمایه گذاری است ؛به‌شرط آنکه با نصوص قطعی و مقاصد شریعت تعارض نداشته باشد بر همین اساس سرمایه‌گذاری خارجی زمانی مشروع است که موضوع آن حلال بوده و مشتمل بر معاملات ربوی، غرر یا قمارگونه نباشد ؛ همچنان ممنوعیت ربا که به‌صراحت در قرآن کریم بیان شده، به‌ویژه در آیه 275 سوره بقره، چارچوب اساسی فعالیت‌های مالی

63 - المعاملات المالية المعاصرة في الفقه الإسلامي لمحمد عثمان شبير ص233.

را مشخص می کند؛ ازاین رو هرگونه تأمین مالی خارجی باید از ساز وکارهای جایگزین مانند مشارکت، مضاربه، مرابحه و سایر عقود اسلامی بهره گیرد نه اینکه مطابق فرد تنظیم گردد همچنان در شریعت اسلامی مقصد از سرمایه گذاری لزوم عدالت و منع ظلم یکی از ارکان اساسی نظام اقتصادی اسلام است که سرمایه‌گذاری خارجی نباید منجر به استثمار نیروی کاری، انحصارگرایی، سلطه اقتصادی یا وابستگی مضر به منافع بیگانه شود ؛اصل قاعده لا ضرر و لا ضرار دولت اسلامی را مکلف می‌سازد که با وضع قوانین شفاف و نظارت مؤثر، از منافع عمومی و حقوق شهروندان صیانت نماید ؛ پس در سرمایه‌گذاری خارجی مردم نباید به تضعیف استقلال اقتصادی، فرهنگی یا سیاسی جامعه اسلامی بی انجامد که دولت می‌تواند با تعیین حوزه‌های راهبردی، شروط انتقال فناوری، مشارکت با سرمایه‌گذاران داخلی و ضوابط مالکیتی، میان جذب سرمایه و حفظ منافع کلان جامعه تعادل برقرار سازد؛ تجربه نظام‌های مالی معاصر که بر مبنای بانکداری و مالیه اسلامی شکل گرفته‌اند؛مانند توسعه گسترده صنعت مالی اسلامی در کشورهای مختلف، نشان می‌دهد که امکان همگرایی میان الزامات اقتصاد جهانی و احکام شریعت وجود دارد، مشروط بر آنکه ساز وکارهای شرعی به‌درستی طراحی و اجرا نمایند .

در نهایت می‌توان گفت که شریعت اسلامی رویکردی تنظیمی و هدایتی نسبت به سرمایه‌گذاری خارجی دارد، نه رویکردی سلبی و انزواگرایانه همچنان نظام حقوقی با تأکید بر مشروعیت فعالیت اقتصادی، عدالت توزیعی، منع ربا، شفافیت قراردادی و حفظ منافع عمومی، چارچوبی اخلاقی و حقوقی برای جذب سرمایه خارجی فراهم می‌سازد. بنابراین، سرمایه‌گذاری خارجی در صورت رعایت ضوابط شرعی، می‌تواند نه‌تنها مجاز، بلکه در راستای تحقق توسعه پایدار، رفع فقر و تقویت امت اسلامی، امری مطلوب و حتی ضروری تلقی گردیده.

## ٦ـ فهرست منابع و مآخذ


قرآن کریم

أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (1990 هـ) المستدرك على الصحيحين تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.

ابن حبان ، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (354هـ) صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان ،ترتيب : علي بن بلبان بن عبد الله، علاء الدين الفارسي، المنعوت بالأمير (739هـ)

البخاري ،محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي ،( 1422هـ) الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) .

بخار، محمد بن اسماعیل بخاري،(2091.)مختصر صحیح البخاری فارسی . مترجم: عبدالقادر ترشابی، مشهد: نشر جام.

البيهقي ،أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر (1424 هـ) السنن الكبرى المحقق: محمد عبد القادر عطا ،الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات .

الترمذي ،محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، ، أبو عيسى (1395 هـ) سنن الترمذي تحقيق وتعليق: ومحمد فؤاد عبد الباقي (جـ 3) وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف (جـ 4، 5) الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر.

الحميدي محمد بن فتوح (1423هـ ) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم ، دار النشر / دار ابن حزم - لبنان/ بيروت .

الشيباني ،أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد ((1419هـ) ) مسند أحمد بن حنبل المحقق : السيد أبو المعاطي النوري ،الناشر : عالم الكتب – بيروت.

الطبراني ،سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم (1983)،المعجم الكبير الناشر : مكتبة العلوم والحكم – الموصل تحقيق : حمدي بن عبدالمجيد .

الطبراني ،أبو القاسم سليمان بن أحمد (1415) المعجم الأوسط الناشر : دار الحرمين - القاهرة ، تحقيق : طارق بن عوض الله بن محمد ,عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني .

النيسابوري ،مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري ، صحيح مسلم الناشر : دار إحياء التراث العربي – بيروت تحقيق : محمد فؤاد عبد الباقي مع الكتاب : تعليق محمد فؤاد عبد الباقي .

الهيثمي الحافظ نور الدين علي بن أبي بكر (1412 )مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ،بتحرير الحافظين الجليلين: العراقي وابن حجر دار الفكر، بيروت.

سید قطب(1381ه..ش) تفسیر فی ظلال القرآن. مترجم: مصطفی خرم دل، مشهد: نشر احسان.

سعیدی ،امان الله اهمیت و آداب و احکام آن در اسلام. نشر نوارتهران .

شاه ولی الله دهلوی) (1381.ش) حجة الله البالغة. مترجم: محمد یوسف حسین پور، مشهد: نشرشیخ الاسلام احمد جام،.

عمر، د أحمد مختار عبد الحميد (، 1429 هـ) معجم اللغة العربية المعاصرة، الناشر: عالم الكتب .

عثمانی، حضرت علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله علیهُ ( ۱۳۸۹ ه ش )تفسیر عثمانی ، مشهور به کابلی تفسیر .ترجمه وتفسیر مولانا محمود الحسن دیوبندی ، چاپ اول ، ناشر :مکتبه حقانی ، قصه خوانی بازار پشاور پاکستان .

مصطفى ـ ،إبراهيم ،أحمد الزيات ، حامد عبد القادر ـ محمد النجار، المعجم الوسيط ، دار الدعوة ،تحقيق / مجمع اللغة العربية .

وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، الموسوعة الفقهية الكويتية 1-39 وملاحق تراجم الفقهاء الموسوعة الفقهيةالمصدر: مكتبة الشاملة www.islam.gov.kw .

# په ټولنيز ژوند کې د ماشومانو حقونه

**مسئول ليکوال: عالم خان احمدي**

پښتو ديپارتمنت د ادبياتو پوهنځی، کابل ښوونې او روزنې پوهنتون: ماستر

ایمیل :alamkhanahmadi@gamil

**لنډيز**

ټول انسانان په ټولنه کې يو لړ حقونه لري، خو ماشومان بيا ځانګړي او بيل حقونه لري. ماشومان د ټولنې د بشري پانګې لومړنی بنسټ جوړه وي، او د ودې حساس پړاوونه يې د داسې خوندي چاپېريال غوښتنه کوي چې امنيت، تعليم، عاطفي ملاتړ، روغتيا، تغذيه، ساتنه او ټولنيز ګډون پکې تضمين شي. د ماشومانو د حقونو نه مراعت کول نه يوازې د هغوی په رواني، ټولنيز او شخصيتي جوړښت ژور منفي اغېز کوي، بلکې د ټولنې پر عمومي ثبات، پرمختګ او انساني ارزښتونو هم مستقيم خطرونه رامنځته کوي. څېړنې څرګندوي چې د کورنۍ، ښوونځي، ټولنې او دولتي بنسټونو ګډ رول د ماشومانو د حقونو د خونديتوب لپاره بنسټيز اهميت لري. د دې رول نشتوالی د تاوتريخوالي، بې‌پروايي، جبري کار، تعليمي محروميت او ګډوډ شخصيتي جوړښتونو د زياتېدو لامل ګرځي، چې وروستۍ پايله يې د ټولنيزو بحرانونو په بڼه راڅرګندېږي. د څېړنې موخه د ماشومانو د حقونو پېژندنه، د ساتنې او سمې روزنې د اړتياوو ټولنيز، رواني او حقوقي اړخونو تحليل، د کورنۍ مشرانو، ښوونځي او ټولنې د مسؤليتونو حدود مشخصول، او د عملي پلې کېدو لپاره د هغو حل لارو وړاندې کول دي چې د ماشومانو امنيت، تعليم او ټولنيز مشارکت تضمين کړي. د مقالې هدف يوازې تشريح نه ده، بلکې لوستونکي دې پايلې ته رسوي چې د ماشومانو حقونه د سالمې او هوسا ټولنې د بنسټ جوړولو لپاره يوه نه بدلېدونکې اړتيا ده. په دې څېړنه کې له کتابتوني ميتود څخه کار اخيستل شوی دی، او د قرآن کريم، احاديثو، ملي قوانينو، تګلارو، علمي مقالو او څېړنيزو کتابونو څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**کليدي کلمې:** ټولنه؛ حقونه؛ روزنه؛ ژوند او ماشوم

# Children's Rights in Social Life

**Author: Alam Khan Ahmadi**
Kabul Education University ،Department: Pashto, Faculty of Literature
Master
Email alamkhanahmadi@gamil

## Abstract

All human beings possess certain rights within society, but children hold distinct and specific rights. Children form the primary foundation of a society's human capital, and their sensitive stages of development require a safe environment that ensures security, education, emotional support, health, nutrition, protection, and social participation. Failure to uphold children's rights not only has profound negative impacts on their psychological, social, and personality development, but also poses direct threats to the overall stability, progress, and human values of society. Research indicates that the collaborative role of the family, school, community, and governmental institutions is essential for safeguarding children's rights. The absence of this coordinated role contributes to increased violence, neglect, child labor, educational deprivation, and disordered personality development issues that ultimately manifest as widespread social crises.

The purpose of this study is to identify children's rights, analyze the social, psychological, and legal aspects of their protection and proper upbringing, clarify the responsibilities of family elders, schools, and the community, and propose practical solutions that ensure children's safety, education, and social participation. The aim of the article is not merely descriptive; rather, it seeks to guide the reader to the conclusion that the protection of children's rights is an indispensable requirement for building a healthy and prosperous society. This study employs a library-based research method and utilizes sources from the Holy Qur'an, Hadith, national laws and policies, academic articles, and research-based books.

**Keywords:** Society, Rights, Education, Life, Child

**۱ـ سريزه**

ماشومان د ټولنې هغه نازک، سپېڅلي او راتلونکي جوړوونکي غړي دي چې د دوی روزنه، پالنه او حقونو ته پاملرنه د هرې سالمې ټولنې اساسي بنسټ جوړه وي. په ټولنيز ژوند کې د ماشومانو حقوق يوازې قانوني حقونه نه دي، بلکې اخلاقي، انساني او تعليمي مسوليتونه هم رانغاړي. که د ماشومانو حقونه خوندي نه شي، د ټولنې راتلونکی نسل له فکري، روحي او ټولنيزو ستونزو سره مخ کېږي او د ټولنيز نظم ټينګښت له جدي ګواښ سره مخامخېږي. له همدې امله، د دې موضوع څېړنه يوه مهمه علمي او ټولنيزه اړتيا ده چې د پاليسی جوړونکو، ښوونکو، مور او پلار او ټولنيزو ادارو لپاره ارزښتناکې پايلې وړاندې کوي.

د دغه څېړنې اهميت په دې کې دی چې ماشومان د ټولنې بنسټيزه پانګه ده، او د هغوی حقوقو ته پاملرنه د ټولنې د سوکالی، عدالت او فرهنګي پرمختګ لپاره ضروري ده. د ماشومانو د حقونو عملی کول د هغوی د شخصيت د سالمې ودې، ذهني ارامتيا، تعليمي بريا او ټولنيز مشارکت لپاره اساسي رول لري. همدارنګه، د ماشومانو د حقونو نه مراعت کول د تاوتريخوالي، محروميت، بېعدالتی او ټولنيز انحراف د زياتوالي سبب ګرځي. د همدې لپاره دغه څېړنه د علمي کارونو تر څنګ د ټولنې د پوهاوي لوړولو او د پاليسی جوړونې لپاره ارزښتناکه مرجع ګرځي.

د دې څېړنې بنسټيزې موخې په دې ډول دي؛ د ټولنيز ژوند په چوکاټ کې د ماشومانو اساسي حقوقو پېژندنه او تعريف. د مور او پلار، ښوونکو او ټولنې د رول ارزونه په دې برخه کې چې څنګه د ماشومانو حقوق خوندي کېږي. د هغو ټولنيزو منفي عواملو څېړنه چې د ماشومانو حقونه زيانمنوي. د ماشومانو د حقونو د ښه تطبيق لپاره د علمي او عملي لارو چارو وړاندې کول.

د څېړنې ستونزې او محدوديتونه، د دې څېړنې په بهير کې ځينې ستونزې راولاړېدای شي، چې تر ټولو مهمې يې دا دي: په ډېرو کورنيو او ټولنو کې د ماشومانو حقونو په اړه کافي پوهاوی نه شته. د کره شمېرو او مستندو منابعو نشتوالی چې څېړونکی له دقيقو پايلو محروموي. د ماشومانو د حقونو د نقض په اړه د خلکو د معلوماتو پټول يا د بيان ډار. د اقتصادي ستونزو، بېوسی او دوديزو باورونو اغېز چې د موضوع ريښتينې څېړنه ستونزمنوي. د اړوندو ادارو د همکاری کموالی او د اسنادو نه شتون،عامه پوهاوی هغه سونزې دي چې دغه ډول څېړنو کې يو ډول سرخوږی وي. خو دغه موضوع کې يو تعداد ليکوالانو خپل قلمي ځواک ازمويلی دی چې دهغوی يادونه په لاندې ډول دی.

عطا محمدمياخيل د ماشوم پالنه په نامه کتاب چې په (۱۳۹۷ل ) ژباړلی دی. دکتاب محتوا ټوله ماشوم پالنې ته ځانکړې شوي ده. په دغه کتاب کې لاندې موضوعات بيان شوي دي. د ماشوم چلندونه، له ماشوم سره بدې خبرې کول،له ماشومانو سره بد چلندکول د اولادنو ترمنځ توپيرونه، د ماشوم د روزلو مهم ټکې چې څرنګه و کولای شو چې ښه ماشومان هم له ادبي او هم له اخلاقي پلوه ولرو خو په ټوله

کې دغه کتاب هغه لارښوونو ته ځانګړی شوي چې ماشوم څرنګه وپالو او هغه څرنګه له بدو عادتونو څخه خلاص کړي.

د پوهنیار نرګس مومند حسنزی کتاب ده. په (۱۳۹۶ ل) چاپ شوی ده. د کتاب محتوا د ماشومانو ادبیاتو ته ځانګړي شوي، دغه کتاب ماشوم چا ته وایې او ماشوم ته څرنګه ادبیات ولیکو او ماشوم د ادب نظم اونثر ځانګړنې پکې راغلي د ماشوم د ادبیاتو تاریخچه هم په نړیواله سطحه او په سمیزه کچه باندې څېړل شوي ده او نور واړه واړه موضوعات هم لري په ټوله کې کتاب د ماشوم ادب لیکلارښود ته ځانګړی شوي دی.

د ماشومانو د حقوق په اړه یو کتاب لیکل شوی دی. لیکوال یې پوهندوي عبدالناصر ستانکزی دی. د چاپ کال (۱۴۰۳ ل)، د ستانکزي صاحب د کتاب محتوا ټول حقونو ته ځانکړي شوي دي. د ماشومانو حقوق څه دي او اسلام ماشومانو ته کوم حقوقونه ورکړي دي، همدارنګه د تولد څخه مخکې او ورسته، د ماشومانو د دورو په اړه مفصل بیان کړی دی. ماشوم پیژندنه یې د افغانستان په قوانینو کې، نړیوالو قوانینو کې تشریح کړې دي او همدازنګه ماشومان ته کوم حقونه ورکړ شوي دي. په ټوله کې د ماشومانو حقونه چې په مشرانو په ځانګړي ډول والدینو باندې لري څېړل شوې دي.

دماشومانو ادبیات چې لیکوال یې رفیع الله نیازی دی، نوموړی کتاب په (۱۳۸۹ل ) له چاپ څخه راوتلی دی دغه کتاب هم د ماشوم ادب او دماشوم د ادبیاتو لارښوونې ته ځانګړی شوی دی کتاب کې ادبیات، ماشوم ادبیات، د ماشوم ادبیاتو ډولونه، په دغه برخه په مفصل ډول باندې بحث شوی دی.

تربیت و اصلاح فرزندان د کتاب لیکوال مفتی محمد قاسم قاسمي دی نوموړی کتاب د انتشارات علامه ندوی رحمه الله له لوري چاپ شوی دی په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د ماشومان د روزنې په اړه لیکل شوی دی، چې لومړی له زیږدنې څخه بیا د ځوانۍ تر محلي پوري د ماشومانود دورو ټول پړاونه تشریح شوي دي د کتاب محتوا ټول دیني اړخ لري د ماشومانو روزنه یې هم له دینې اړخ څخه کړي ده کتاب په دري ژبه لیکل شوی دی او ټول هغه څه پکي راغلي دي چې باید له ماشوم سره د هغه په تربیت کې تر سره شي. او همدارنګه د ماشومانو د تربیت ، د ماشومانو د ادبیاتو او د ماشومانو د ښو کړنو په اړه زیاتو لیکوالانو مقالي لیکلي دي چې د هغې جملې څخه د مصور بنسټ په مجله کې د پوهنې وزارت په مجله کې زیاتي مقالي لیکل شوې دي.

**۲ـ د څېړنې مېتود**

دا څېړنه د نوعیت له اړخه توصیفي کیفي ده چې د معلوماتو د راټولولو لپاره د کتابتونې او کیفي مېودونو څخه استفاده شوې ده. څېړنه له موثقو منابعو لکه درسي کتابونو، اسلامي متونو، مقالو، څېړنیزو اثارو او راپورونو څخه ترسره شوې.

څېړنه له ادبي، ټولنیز او شرعي اړخه په ټولنېز ژوند کې د ماشومانو حقونو او د متونو تحلیل له لارې د موضوع بنسټیز اړخونه څېړل شوي. دې میتود ماته ښه زمینه برابره کړې چې د ماشومانو پر ژوند د اغېزو ژور فهم او تحلیل وړاندې کړم.

**۳ـ موندنې**

د ماشومانو حقونه په مشرانو: مخکې له دې چې د ماشوم په حقونو او د ماشوم په ادب باندې بحث ولرې لومړی باید د حقوقو په اړه بحث ولرو، او همدارنګه د انسان په اړه بحث ولرو چې ماشوم هم د همدې انساني ټولنې یوه برخه دی. په اړه یو لنډ بحث ولرو.

د حقوقو مفهم څه ده: حقوق د ټولنیزو علومو له جملې څخه یو مهم او برجسته علم دی. حقوق یوه عربي کلمه ده، چې د حق جمع ده او بیا د حق لغات ډېرې ماناوې لري، لکه د الله ج یو نوم هم حق ده، حق د برخه او سهم په معنا هم ده، د مالکیت په معنا هم ده. د عدالت په معنا، د امتیاز په معنا او داسې نورې ... معناوې هم لري. (ستانکزی،۱۴۰۳ )

لکه څرنګه چې ټولنیز علوم یو ټاکلی تعریف نه لري نو په همدې ترتیب سره حقوق هم یوه ټاکلی او د ټولو د منلې وړ تعریف نه لري، او بېلابیلو علماوو د علم او ادب خاوندانو بیل بیل تعریف کړ دي.

د کانت له نظره: حقوق د هغو منظمو شرایطومجموعه ده، چې د هغې په اساس د یوشخص اراده، د ازادئ له اصل سره سم د نورو د ګډې ارادې او ګټو سره یوالی مومي. نو حقوق د حق له کلیمې څخه اخستل شوې کلمه ده، چې د یو شخص حق په معنوي او مادي څیزونو کې معلومې برخې ته ویل کیږي.

دحقوقو اصطلاحي تعریف: لومړی علماوو حقوقو په دوه برخو ویشلي دي چې لومړي برخه یې د افاقي حقوق او دوهمه برخه عندي (ذاتي) برخه ده چې هره یوه برخه به بیا ځانګړی تعریفونه لري.

دا یوه عمومي خبره ده چې تر هرڅه د مخه باید اصل وپیژندل شي بیا ورسته یې نوري برخې وڅېړل شي، دلته هم لومړی انسان پیژنو چې انسان څوک دی او چا ته وایې، بیا ورسته ټولنه او ماشوم وپیژنو د ماشومتوب په دورو به خبرې وکړو او په ادبیاتو باندې په مفصل ډول وڅېړل شي.

انسان: په لغوي توګه، دانسان دکلمې په اړه د پوهانو ترمنځ مختلیف نظرونه شتون لري. چې هرعالم بیا دا په بېل بېل تعریف اویا هم ځینو پوهانو ورته تعریف کړي. نو دلته به دوه نظره له نورو نظریو متفاوت راوړو.

لومړی نظریه : ډېری پوهان په دې عقیده دي چې د انسان د کلیمي اصلي توري یا حروف (ن،س،ی ) چې له نسیان څخه اخستل شوي او دغه کلمه بیا په عربي ژبه کې د هیریدو په معنا دي، یعني انسان هېرېدونکی ده.

دویمه نظریه: دویمې نظریې علما بیا په دي عقیده دي چې د انسان کلمه د حروف ( الف ،ن،س ) دي چې دأنس، مینې، محبت، او ترون په معنا دي چې متضاد یې وحشت او نفرت ده. (ستانکزی،۱۴۰۳ )

نوله پورته څرګندونو څخه داسې جوته شوه چې انسان یو ټولنیز مخلوق ده او په تنها یې سره ژوند نشي کولای او که یې چېرته کوي هم خو له یولړ ستونزو سره به مخامخ وي. نو په همدې اساس انسان د مینې،محبت،ورورولي، په فضا کې داسې ژوند وکړي چې دا پورته ټولي ځانګړنې باید پکې موجودي،

ځکه انسانان د فکر خاوندان دي د ښو او بدو توپير کولی شي، نو بيا بايد د امن، ورورلي، ميني، محبت، په فضا کې داسي ژوند کوي چې يو له بل سره خوښ وي او د ژوند بهیر په ښه توګه پرمخ بوځي.
ټولنه: ټولنه د انسانانو هغه منظمه ډله ده چې په يوه جغرافيوي سيمه کې د ګډ ژوند، همکاريو، اړيکو، دودونو، ارزښتونو، اصولو او قوانينو له مخې ژوند کوي. (فضلي،۱۳۹۵، ۲۷)
په بل عبارت : ټولنه هغه ډله خلک دي چې يوبل سره اړيکې لري، ګډ ژوند کوي او ګډ هدفونه، اصول او کلتور لري. ټولنه بايد لاندې ځانګړتياوي ولري۱: ګډ ژوند او متقابلې اړيکې ۲: ګډ ارزښتونه او دودونه ۳: قوانين او نظم ۴: د يووالي حس ۵: د همکاريو اړتيا
کورنۍ يوه کوچنۍ ټولنه ده. يوه کليوالي يا ښاري سيمه هم يوه پراخه ټولنه ده. آن يو ښوونځی، دفتر يا مسجد هم ټولنيز جوړښت لري.
ټولنه د انسان د ژوند نه بېلېدونکی اړخ دی، ځکه انسان فطرتاً ټولنيز موجود دی.
ماشوم چاته وايې ؟ ماشومان د انسانې ټولنې يوه برخه تشکيله وي، هغه برخه ده چې د يو ټولنې راتلوونکی په ماشومانو پوري اړه لري. او د ټولنې د ملا تېر بلل کېږي نو ماشومانو ته چې کوم حقونه اسلام ورکړي دي هغه بايد ورکړ شی که چېرته هغه کوم حقونه چې ورکړ شوي دي او زياتره تري واخستل شي نو په ټولنه کې هم د دوي رول کم رنګه وي او راتلوونکې ټولنه به له ستونزو سره مخامخ وي.
په لومړي سره کې ماشوم چاته وايې او کوم عمرونه د ماشومتوب دي په دي اړه به په مفصل ډول معلومات وړاندي شي .
ماشومتوب يوه داسي دوره ده، چې په ټولو انسانانو باندي دغه دوره تيريږي هغه که نارينه وي او يا ښځينه وي چې د زړښت مرحلي ته رسيږي نو دا دوره حتمي ورباندي راځي. نو موږ ټول يو تعداد ښې او بدي خاطري د ماشومتوب لرو. چې له دغو ښو او بدو خاطرو څخه مو ښه ګټه اخستي وي او بيا ځلي تکرار نه کړو په اسلامې شريعت کې ماشوم څوک دی او کوم حقونه په مشرانو لري او همدارنګه د اروپاپوهنې له پلوه ماشوم چاته وايې او کوم عمرونه ورته ځانګړي شوي دي.
علامه ابن اثير داسلام له نظره ماشوم داسې را پيژني: « په عربي ژبه کې ماشوم ته (طفل ) وايي، چې اطفال ،طفله ، طفل او نور د نومونې کلمې د ډېرګړي (جمع ) لپاره کارول کيږي . طفل په لغت کې (صبي ) (ماشوم ) ته وايي، چې دصبی کليمه د نرينه او ښځينه ( مذکر او مونث ) او د دواړو د جمعي لپاره هم راځي او د شرعيت په اصطلاح کې صبي ( ماشوم ) هغه چا ته ويل کيږي چې د ځوانی پړاو ته نه وي رسېدلي، يعنې بالغ شوی نه وي ، چې دا پړاو د مور له ګيډې څخه تر زورکړي يا پيدايښت څخه نيولي تر ځوانی ته تر رسيدو پوري دوام لري د ځواني او بلغ دوره په انسانانو کې توپير لري يعنې له نهه کلنې نيولي تر شپاړلس کلنې پوري وي چې دغه کلونه هغه وخت ده،چې نارينه او ښيځنه بلوغ ته ر سيږي نو يو بل توپير دا ده چې ښځينه تر نارينه وو ژربلوغ ته رسيږي په اسلام کې هغه ماشومان چې بلوغ ته نه وي رسيدلي ځانګړي حقونه لري د ژوند په ټولوبرخو کې لکه په جزايې برخه کې د محکمي

په ځای ماشومانو محبس ته لیږل کیږي چې په ځانګړي ډول ماشومانو ته ځانګړی شوي او ټول هغه ماشومان چې جنايې جرمونه کوي او یا کوم بل ډول جرم کوي نو همدي محبس ته راوړل کیږي چې عمریې له اتلسو کلونو کم وي.(عمر،۱۳۹۴)

خوکله چې یو ماشوم بالغ شي نو بیا کوم حقونه چې نور بالغ انسانانو ته شرعیت وکړي وي نو همدي هم ورڅخه برخمند کیدای شي.

خو د ماشوم پیژندني په اړه چې تعریف راغلي هغه د قرانکریم څخه اخستل شوی، په دي اړه د قرانکریم د (نور ) سورت په نهه پنځوسم سورت راغلي دي :

(( وَإِذَا بَلَغَ ٱلۡأَطۡفَالُ مِنكُمُ ٱلۡحُلُمَ فَلۡيَسۡتَأۡذِنُواْ كَمَا ٱسۡتَأۡذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ)) ( سورت نور ۵۹ ) ژباړه کله چې ستاسې ماشومان د بلوغ حد ته ورسیږي، نو باید اجازه وغواړي، لکه څرنګه چې هغه کسان چې تر دوی وړاندې وو، اجازه غوښتله. ډیروو علماوو د( الحلم ) کلیمه د ځوانی ته درسیدو په معنا تفسیره وي، د ځوانې د مرحلي په نجونو کي چې میاشتنی ناروغی ورته پیدا کیږي او په هلکانو کې بیا دا وي چې له احتلام سره مخامخ کیږي په خوب او یا هم په ویښه کې احتلام وکړي او غسل ورباندي اوړي او واجب شي. (نیازی،۱۳۸۹)

په ټوله کې انسان د عمر مختلیف پړاونه لري په ځینو کتابونو کې دغه پړاونه څلور په ځینوکې پدري او په ځینوکتابنو کې دغه په پنځو برخو ویشل شوي دي .او همدارنګه د اروپوهنې له پلوه هم مختلیفي پړاونه لري .

د ماشوم له پیدا کیدو څخه ورسته د ماشوم د دوري پړاونه په لاندي پنځو پړاوونه باندي ویشل شوي دي:

۱ــ کوچنوالی ۲ــ هلکتوب ۳: ځواني (ځلمیتوب، پیغلتوب ) ، ۴ــ لوالی، ۵ ــ زړښت . (عمر سهاب ـ ۴مخ )

خو دغه پړاونه بیا زموږ ګران پیغمبر حضرت محمد ص په دریو مهمو برخو ویشلي دي او فرمایلي دي « الولد سید سبع سنن وعبد سبع سنین وزیرسبع سنین » ژباړه. ماشوم په لومړیو اوو کالو کې پاچا او سر خیل وي چې دغه یوه ځانګړي دوره وي او تر ټولو بهترینه دوره ده د انسان په عمر کې او دوهمو اوو کالو بیا هغه دوره ده یو ماشوم مطیع اومریه وي او په ورستیو اوو کالو کې بیا یو ماشوم وزیر او مسوول وي چې دغه دوره کې یو ماشوم ته زیات مسوولیتونه ورسپارل کیږي او د ژوند له ټکرونو سره مخامخ کیږي نو زموږ د ګران پیغمبر په وینا او دهغه له څرګندونو څخه موږ دا نتیجه اخلو چې دانسان د ودي اولویېدا پړاوونه دری دي ، د پاچاهي ، اطاعت ،او وزارت نو دغه دری پړاونه له وړکوالي ، هلیکتوب او ځلمیتوب سره سمون خوري چې د دوغو پړاونو کې یو ماشوم کوم کارونه باید وکړئ چې هر مور او پلار په خپل یو ځانګړی مهال ویش او ترتیب لري .

خو په ټوله کې دغه دوري بیا په عموم کې په دو برخو هم ویشلی شوچې لومړي برخي ته یې د غیري تمیز دوره او دوهمي برخي ته یې د تمیز دوره ویلای شو.

لومړی غیري تمیز دوره: دغي دوري ته ځکه دغیري تمیز دوره وایې،چې په دغه مرحله کې ماشوم د ښو او بدو توپیر او تفکیک نشي کولای، دغه مرحله د تولد څخه بیا تر شپږو کلونو ترپایه پوري دوام کوي او یا هم د اووکلونو ترپیل پوري او دغه مرحله کي دماشوم عقلي او د ماغي رشد ډیر بطي وي.

دوهمه برخه د تمیز مرحله: دغه مرحله د غیري تمیزي دوري له پای ته رسیدو څخه ورسته شروع کیږي چې له اووکلني څخه شروع کیږي تر دیارلس کلونو پوري دوام کوي.په دغه مرحله کې د ماشوم ذهن انکشاف کړي وي، د ښو او بدو توپیر کولای شي. او د ولي او دلایلو له مخي دغه دوره یو څو عمده ځانګړني لاندي په مسلسل ډول بیان شوي.

الف له بیولوژیکي پلوه: له بیولوژیکي نظره معموله په دغه عمر کې دانسان دماغ او جسم کې ځیني تغیرات راځي،چې لویږي او انکشاف کوي او د ودي په حالت کې وي.

ب: ټولنېز دلیل: ډیرعلما په دي عقیده دي، چې په همدې عمر کې ماشوم بیروني چاپیریال سره اړیکه قایمه وي، مسجد، مدرسي، ښوونځي، بازار سره او په همدي ترتیب سره له کوره څخه بهره له ماشومانو سره اړیکه ټینګه وي ترډیره حده کوښښ کوي چې له کوره څخه بهیر چاپیریال سره اړیکه قایمه کړي. خو په دغه دوره کې بیا هم ماشوم خپله ټول اعمال عواقیب نشی سنجولای او غیرمسؤول دي. د مسؤولت کوم احساس نشي کولای. (نیازی،۱۳۸۹)

خوماشوم هغه څوک ده چې د هر کور ډیوه ده،کوم کور چې ماشوم نه لري د همدي ډیوي له روښاني څخه بي برخي وي.که غواړئ چې کورکې با تربیه ماشومان ولرئ باید ښه روزنه یې وشي په ښو اخلاقو باندي سمبال شي د خپلو ماشومانو قدر وکړئ، د یو ټولنې روښنایې په همدي ماشوم پوري اړه لري که چیرته ښه وروزل شي او زیاته پاملرنه ورته وشي نو په همهغه اندازه به مو ټولنه روښنانه وي او د پرمختګ په لور ګامونه واخلي.

د ماشوم په اړه مختلیف تعریفونه او بیلابیل نظریات موجود دي. ماشوم هغه ګلالی او معصوم مخلوق دی چې د مور او پلار خوښي او د کورنۍ ښکلا ګڼل کیږي. (مومند حسنزی،۱۳۹۶)

ماشوم په مور، پلار، ورور، د کورنۍ په ټولو غړو او د ټولنې په وګړو باندي ډېر حقونه لري لکه څرنګه چې مور او پلار په خپلو اولادونو حقونه لري ،نو په همدې ترتیب ماشوم هم په خپل وخت کي په مور او پلار یو لړ حقونه لري دا ځکه چې ماشوم د یوي ټولنې اساس ګڼل کیږي. ماشوم د یوي ټولنې ګل کڼل کیږي نو چې د یو ګل هر څورمره زیاته او پالنه کوه په هم هغه اندازه ټولنې ته ښکلا ورکوي نو راځې چې دغه ښکلا په خپلو هیلو ورسوه، مینه ورکړو، چې راتلوونکي ټولنه یې له خوند او ښکلا څخه کټه واخلي. زموږ ګران پیغمبر (ص) به له ماشومانو سره زیاته مینه کوله او په نرمې به یې خبري ورسره کولي، دوډۍ به یې ورسره شریکه خوړله رسوله (ص) یوځای ویلي دي ((چا چې د مشرانو درناوی ونه کړ او پرکشرانو یې رحم ونه کړ هغه زموږ څخه نه دي .)) (نیازی،۱۳۸۹)

په ټوله کې ماشوم هغه چا ته وايي چې دځلميتوب مرحلې ته نه وي رسيدلی، هغه که هلک وي او يا نجلي خو کله چې يې عمر له اتلسو کالونوواوړي بيا په لويانو کې حسابيږي. چې بيا حقونه هم توپير لري.

د اسلام له نظره ځينې حقونه د ماشومانو په مشرانو په ځانګړي ډول په مور او پلار:

۱: په ماشوم د ښه او سم نوم ايښودل .

۲: ماشوم ته خوراک ، څښاک او پوښاک برابرول.

۳: ماشوم ته روغتيايي اسانتياوې برابرول .

۳: ماشوم ته د زده کړې اسانيتاوې برابرول.

۴: د ماشوم سمه اوسالمه روزنه کول.

۵: له ماشوم سره په ډير نرمي چلند کول. (مومند حسنزی ،۱۳۹۶)

لومړی په ماشوم د ښه او سم نوم ايښودل: دغه موضوع ډيری وخت په ځينو کورنيو کې په يوه ستونزمنه موضوع باندي اوړي، د کورنې ټول غړي کوښښ کوي چې ماشوم ته يو نوم انتخاب کړي او دغه ستونزه په هغه کورنيو چې د غړو تعداد يې زيات وي او ديکتاتوري په کې حاکمه وي نو د هغه کورنۍ مشر نوم ورته انتخابه وي او د خاوند او ميرمنې ترمنځ ستونزه وي چې د نوم په سره اتحاد نه لري خو دغه موضوع له اسلامي اړخ څخه لومړی د پلار حق ده چې په خپل اولاد باندي نوم کيږدي نو دکورنۍ د مشر او نورو غړو دومره حق نده او بيا هم د ټول په خوښه يو اسلامې کتابي نوم بايد د ټول په خوښه ورته انتخاب شي تر ټولوښه خبره ده . (قاسمي،۱۳۹۴)

ديو ماشوم نوم هغه څه ده چې د انسان په شخصيت باندي مثبت تاثير لري او داسي نوم بابد ورباندي کيښودل شي چې کله هغه ماشوم په راتلونکې کې خپل نوم له بل چا څخه اوري او د خوشحالۍ احساس کوي او خوشحال شي. او داسي نوم بايد ورباندي کيښودل شي چې دهغه اوصاف بيا په همغه ماشوم کې موجود وي، نوم د انسان په شخصيت باندي زيات تاثير لري چې د بخاري حديث شريف کې راغلي دي : يو شخص د حضرت محمد مصطفی (ص)په حضور کې حاضر شوي او اسلام يې قبول کړ او حضرت محمد (ص)پوښتنه ځينې وکړه نوم دي څه ده او هغه په ځواب کې ورته وويل نوم مې «حزون » ده نو دغه معناسمه نه ده او ګران پيغمبر «ص » ورته وويل چې ستا نوم به « سهيل » وي او سهيل د د نرم په معنا ده خو هغه شخص يې په ځواب کې وويل کوم نوم چې پلار او مور راباندي ايښی بدل کړم او په عويض کې سهيل کړم حضرت محمد «ص» خاموش اختيار کړه او وويې ويل په کومو کورنيو کې چې سختي او تند مزاجي پيدا کيري هغه د همدغه سختو او نامناسبو نومونو ايښودل وي ، هو هغه شخص د خپل نوم دبدل کيدو پيشنهاد قبول نه کړل که چيرته هغه شخص همدا نوم قبول کړی وايې نو د دوي په کورنۍ کې چې سختي وله په نرمې په بدل شوی وايې . نو له دغه حديث شريف څخه معلوميږي چې نوم په يوه ټولنه کې او په انسان باندي ځومره اغيزه لري دغهه ډول سخت او بې معنا نومومونه ډيری

وخت په بېسواده کورنيو کې اېښودل کېږي. ځکه چې هغوي د نومونو په معنا نه پوهيږي (ستانکزی،۱۴۰۳ ).

همدارنګه ډېر داسې نور داستانونه هم شته چې تېرشوې دي او د ښه او معنا داره نوم په اړه ښه معلومات پکې شته.همدارنګه په ترمذي شريف کې داسي يوبل دستان هم چې د نوم په اړه پکي يو څه راغلي دي حضرت عمر «رض» يوه لوردرلوده.

نو حضرت محمد مصطفی «ص» ورڅخه وپوښتل څه نوم دي ورته غوره کړی ده، هغه نو حضرت عمر «رض» ورته وويل چې د «عاصيه » نوم مې ورته غوره کړی دي، نوحضرت پيغمبر «ص» ورته وفرمايل ته پوهيږي چې «عاصيه » د ګنهګار په او نافرمان په معنا ده، ګران پيغمبر «ص» ورته وفرمايل د هغې نوم «جميله » کړه نو حضرت عمر «رض» هغې نوم عوض کړ او دا ځکه چې د انسان نوم د انسان په شخصيت باندي زياته اغيزه لري او همدارنګه پيغمبر «ص» د زياتو کسانو نومونه وربدل کړي دي چې سمه معنا يې نه درلوده.نو ګران پيغمبر «ص» هم فرمايلي دي: ((تسموا باسما الانبيا واحب الاسما الی الله عبدالله و عبدالرحمن )) چې خدای «ج» ته تر ټولو ښه او محبوبترين نومونه عبدالله او عبدالرحمن دي او همدارنګه وايې چې تاسو په خپلو اولادنو باندي د پيغمبرانو نومونه کيږدي چې هغوي ډير نيک خلک دي او د هغوی د نيکي اغېزې په دوي باندي وشي او د نوم د نومولو څخه د هغوی د اخلاقو، دلاوري، انسانيت، ريښتنولي اغيزه هم ورباندي وشي داسې نومونه ورته انتخاب کړي لکه ابراهيم، اسحاق ،اسماعيل ،يعقوب ، او داسي نورچې دوي هريو د زياتو ښو خويونو څخه برخمن ول . او د هغو کسانو نومونه بايد ورته انتخاب نه کړو چې هغوي له پخوا څخه د الله «ج» سره دښمنې کړي ده او يا يې نوم ناسمه معنا لري. (ستانکزی،۱۴۰۳ )

لکه: فرعون، قارون، نمرود او داسې نور داهغه خلک دي چې په ښکاره يې له خدای «ج» سره دښمنې کوله نو دنوم ايښودل يې هم بدي اغېزي لري.

دوهم ماشوم ته خوراک، څښاک او پوشاک برابرول : د ماشوم د لومړي خوراک په اړه په قرانکريم کې راغلي دي،چې تاسو پوره دوه کاله ماشوم ته د مور شيدي ورکړئ. دغه برخه ډيره اړينه ده چې د ماشوم خوراک او پوښاک ته بايد زياته توجه وشي. ماشوم ته بايد پاک او هلال خواړه ورکړل شي ځکه چې ماشوم په دي نه پوهېږي چې دغه خواړه پاک دي ناپاک دي حلال دي ،حرام دي دغه ټوله ضمه واري د موراو پلار په غاړه دي مور او پلار بايد په مکمله توګه هڅه وکړي چې حلال خواړه په خپلو ماشومانو باندي وخوري، او له حرامو او مشکوک خوراک څخه پرهيز وکړو. هغه څوک چې د حرامو او هلالو په جمعه کول کې يې توپير نه کوي د هغوي ماشومان هم په همدي ترتيب سره لويږي او بيا دي موراو پلار د خير تمه ورڅخه نه کوي .

د ماشوم نفقه تر قانوني وخته په خپلو مور او پلار باندي ده. له هغه ورسته چې ماشوم د ځوانې مرحلي ته ورسيدل نور يې بيا دغه مسووليت له غاړي اوړي. خودغه توپير بيا په نارينه ماشوم او ښځينه کې شته چې هغه بيا ځانته بحث ده.

دریېم ماشوم ته روغتیایې اسانتیاوې برابرول: ماشوم ته روغتیا یې اسانیتاوي برابرول د موراو پلار له دندو څخه شمارل کيږي. تر هغه وخته دغه لړۍ دوام لري ترڅوچې ماشوم خپل قانوني عمر ته رسيږي دا ځکه چې ماشوم ضعيفه وي او مور پلار له اساسي مسووليتونوڅخه ګڼل دکېږي نو ډېر کوښښ بايد وشي چې ماشوم له داسي امراضو او ويروسونو څخه مخکي له مخکي ساتنه وکړو او خدای مه کړه چې په راتلوونکې کې بيا دهغه ژوند له خطر سره مخ نه شي او مسوٴوليت يې مور او پلار په غاړه نه وي.

څلورم - ماشوم سمه اوسالمه روزنه کول: مور، پلار بايد په ګډه سره اوهمکاري د خپلو ماشومانو ښه روزنه وکړي ځکه چې د دواړو دنده او مسووليت ده، چې خپل او لادونه ښه وروزي او په راتلوونکې کې له هغوي څخه باتربيه انسانان جوړ کړي. چې مور خپله دميني، شقفت ،مرحمت، او مهرباني يو سمبول ده.همدارنګه بيا پلار هغه څوک ده چې ديوي کورنۍ ټول مسووليت د هغه په غاړه ده. او هري ستونزي ته يې غاړه ايښي ده. او له ستونزو سره مبارزه کوي هر څه په پراخه سينه زغمې چې دغه خپله د دلاوري او شجاعت يوه بيلګه ده. ډېر بايد کوښښ وشي چې خپل ماشوم سالم تربيه کړو د هغه څه دي چې لومړی سرچينه يې دمورغږ او بيا ورسته پلار او د کور نورغړي دي. چې هر يو په خپله اندازه د ماشومانو په روزنه او تربيه خپله ونډه لري، خو مور او پلار بيا هغه څوک دي چې د بل هر چا يې مسووٴليت ډيرده.

مور او پلار بايد خپل ماشومانو ته هغه وخت چې يو ماشوم په اولو اوو کلونو کې وي هغوي ته کليمه طيبه، سلام اچول، د اسلام پنځه بناوي ، اسلامي احکام، د مور او پلار درناوي، د مشران درناوي ، سلام اچول ، د ډوډۍ،خوړلو اداب، د لاري تللو اداب، د مقدس ځايونو اداب ، پرحيواناتو درحم کولو اداب، او داسي نورو مهمو موضوعاتو په اړه مناسب معلومات ورکول دي، چې ماشومان بايد په پوره ډول خبروي او داسي نه چې مور او پلار د خپلو ماشومانو ته غلط معلومات ورکړي او هغوي له بي ځايه ډار، بلاګانو او شيشکو څخه وويروي ځکه دغه بيا د ماشوم په ذهني حالت باندي ناوړه اغيزي لري او په راتلوونکې کې بيا همداسي يو ډارن انسان ورڅخه جوړيږي او ژوند يې له يولړ ستونزو سره مخامخ کيږي.

مور پلار بايد خپلو ماشومانو په مخ کې په خپل منځ کې شخړه ونه کړي. اوخپله ژبه او اعمال زيات تر خپل واک لاندي راولي، که دوي د خپلو ماشومانو په مخ کې بې ادبه خبرې وکړي او يا بد عمل وکړي نو ماشوم هغه فعل او هغه څه وايې چې مور اوپلار يې کوي. دا ځکه ماشومان تقليد کوي او هغوی دا درک نشي کوي لای چې دغه عمل چې يې مور او پلار کوي ايا دغه کار مثبتي اغيزي لري او يا هم منفي نو درک نه لري او په راتلوونکې مې يو خشم انسان ورڅخه جوړيږي او د خپلي کورنې او ټولنې لپاره سرخوږی وي.

پنځم ـ له ماشوم سره ډېر نرم چلند کول: نرمي چې په هر شي کې وي هغه ته ښکلا، سمون او سکون وربښی نرمې چې له هر څه څخه وباسو په هغه کي عيب او نقص پيداشي، په خبرو اترو کې نرمي په

څېره کې مسکا او ورین تندی راولي او دهغه تر ټولو ښې ځانګړني دي چې یوازي د ښو کسانو په برخه وي، دا په اصل کي د مومنانو صفات دي، ددي مثال داسي دي لکه د عسلو مچی چې پاک شی خوري او پاک عسل جوړوي،هغه پرګل باندي کښيني خو ګل نه ماته وي.
دنرمي په اختیارولو سره الله تعلی هغه نعمت اوسهولت را کوي چې دسختی په حاصلولو سره یې نشو حلاصولای نو الله تعالی دي هر مسلمان ته همداسي دنرمي او خوشحالي زړه ورپه برخه کړي. له ماشوم سره په نرمۍ چلند کولو باندي زیات تاکید شوي ده، هم له دیني پلوه او هم د اروا پوهنې له پلوه نو زیات کوښښ باید وشي چې له ماشوم سره په زیات نرمۍ خبري وشي. ځکه څومره چې په نرمې سره ماشوم کار کوي او خبره منې په تنده لهجه یې نه منې او انکار کوي. نو له ماشوم سره باید په نرمي اومینې سره خبرې وشي او کار ورته وښودل شي او هغه کار چې موږ په ماشومانو باندې کوي اول یې باید د ګټو په اړه خبرې وشي په دغه اړه زموږ ګران پیغمبر «ص» فرمایلي (( تاسو له خپلو ماشومانو سره زیاته مینه کوله او په نرمې خبرې ورسره وکړي )) کوم کار چې په نرمي سره کیږي په زیات تندي هغه کار نه کیږي نو موږ له خپلو ماشومانو سره په نرمي خبرې وکړو په ارامو مغذو ورسره افهام تفهیم وکړو پایله به یې هم مثبته وي. (مومندحسنزی،۱۳۹۶ )
په پای کې دي پایله ته رسیږو چې دغه یو لړهغه حقونه دي چې دماشوم دي د کورنۍ مشران لکه پلار، مور، مشر ورور، مشره خور او همداسیدټولني په نوروغړو باندې لري، همدارنګه ځینې نور حقونه هم شته دي، چې نړیوالو ټولنو او یو تعداد بشري ټولنو ماشوم ته ورکړي دي. خو کوم حقونه چې اسلام انسان او بیا په ځانګړي ډول ماشوم ته ورکړي دي بل هیڅ کومي ټولنې، بنسټ، نه دي ورکړي دي د جهالت په دوره کې د ماشومانو حقونه په مکمل ډول تر پښو لاندې شوي ول او په ځانګړي دول د ښځینه ماشومانو (انجونو) چې هغه په په عربو کې ژوندي تر خاورو لاندي کیدلي خو کله چې د اسلام مبارک دین ظهور وکړ او اسلامي دین په نړۍ کې خپورشونو هغه وخت دټولنې هر طبقي خپل ځای پیداکړل او خپل حق ورکړ شوي او داټول د اسلام برکت ول.
په ۱۹۵۹ میلادي کال د ماشوم دحقونو نړیواله اعلامیه د ملګرو ملتونو لخوا تصویب شوه. په دغه علامیه کې لاندي ټکو ته پاملرنه شوي ده.
لمړی ـ له توپیر څخه پرته د ماشوم پیژندل .
دویم ـ د ماشومانو څخه د دولتونو ځانګړی ملاتړ.
دریم ـ د قوم اوملي پیژندګلوۍ درلودل .
څلورم ـ د ماشومانو امنیت او سالمه روزنه .
پنځم ـ له معیوبو ماشومانو سره مرسته.
شپږم ـ له ماشومانو سره مینه او په تفاهم د هغوی څارنه او ساتنه.
اووم ـ ماشوم ته د وړیا زده کړو د اسانتیاوو برابرول. (ښوونتواتم ټولګې معارف نصاب،۱۳۸۹ )

لومړی ـ له توپير څخه پرته د ماشوم پيژندل: دا موضوع ده چې په اسلام مبارک دين کې هم ورته اشاره شوي ده.ځکه چې په اسلام کې نژادي، قوي، مذهبي توپيرونه نشته دغه توپيرونه خو نه په ماشوم او نه په مشرانو کې شته خو په ماشومانو کې بيخي له سره دغه توپير نشته ځکه ماشوم که د هري ټولنې وي هغه ماشوم ده،او ځانګړي حقونه لري دغه مشران دي چې دوي په کومه لاره رهنمايې کوي او هغه که مثبته وي او يا منفي د هري ټولنې وګړي بايد ماشوم ته خپل حق ورکړي هغه که اکثريت وي او يا اقليت وي، حق بيا حق ده ځکه خدای حق پيدا کړي ده چې د هر ملت او هري ټولنې او هر مذهب وي هغه د هغه حق ده بايد ورکړ شي. (نيازی،۱۳۸۹،پاڼه:۲۷)

دويم – د ماشومانو څخه د دولتونو ځانګړی ملاتړ:هردولت مکلف ده.چې دخپلو هيوادوالو او په ځانګړي ډول ماشومانو ته زياته پاملرنه وکړي د هغوي د تعليم لپاره ، روغيتيا لپاره، بدني روزنې، تفريح او داسي نورو برخو لپاره ځانګړي پاملرنه وکړي. او دغه پاملرنه بايد ټولو ته په يو برابر ورکړ شي ځکه چې موږ په لومړي سرکې وويل چې ماشوم له توپير څخه پرته وپيژندل شي ، هغه دولتونه چې په پورته برخه کې عاجزدي او توانايې يې نه لري له همکارو بنسټونو څخه دي مرسته وغواړي او د هغوي په مرسته دي خپلو ماشومانو ته اسانتياوي برابري کړي، تر څو يې د هيواد په راتلوونکې کې د پام وړ ګامونه اخسيتي وي او خپل مسووليت يې ادا کړی وي.(ستانکزی.۱۴۰۳)

دريم:د تابعت حق درلودل: دماشوم بل اساسي او مهم حق د تابعت حق درلودل دي تابعت په لغت کې تبع ته وايې چې د پيروي او او متابعت په مانا ده. په اصطلاح کې هغه اړيکه ده، چې يو وګړی يا فرد يو ځانګړي هېواد ته منسب (نسبت ) ورکوي او يا هم تابعيت له هغې اړيکي څخه عبارت ده ، دهغې له مخي ديوهېواد يو وکړی دپيروي يا تابعيت په رڼا کې د خپل متبوع هېواد دسياسي ملاتړ څخه برخمن ګرځي او دغه اړيکه وګړي ته ډاډ ورکوي، چې له نورو هيوادونو يا بهرنيو وګړو سره د کړنو او راکړه ورکړه پرمهال دغوښتني سره سم دخپل متبوع هېواد له هغه سياسي ملاتړ څخه برخمن شي،کوم چې نړيوالو حقوقو پيژندلی ده. د تابعت داخستلو په اړه د نړۍ خلک له دوه روشونو څخه کار اخلي يو يې د وينې او دوهم يې د خاوري، خو زموږ په هېواد کي دوينې سيستم منلی ده او وګړي د دې سيستم تابع يې دي.

د ۱۳۷۹هـ ش کال د تابعت د قانون د نهمي مادي مطابق، يو وګړی چې د افغانستان دننه يا بهر له افغانستان څخه د هغوي والدينو څخه، چې د افغانستان تابعيت ولري، وزيږي، د افغانستان تابع ګڼل کيږي نو که له افغانستان څخه بهر هرڅوک هر ځای تولد شي دافغانستان تبعه بلل کيږي. او د افغانستان تابعت اخيستلای شي، يوماشوم بايد ملي هويت ولري، ملت ولري، قوم ولري، خيل ولري، ځکه انسانان پيژندل کيږي په همدې ځانګړنو باندې، همدا څيزونه دي چې زموږ په ژوند کې اسانتياوي راولي هم په خپل هېواد او هم بل هېواد کې.

شلورم - د ماشومانو امنیت او سالمه روزنه: د ماشوم امنیت او سالمه روزنه هغه څه ده، چې په یو دولت باندې حق لري د ښوونې او روزنې د اړینو دورو اماده کول د هغوي لپاره اړین درسي پرګرامونه برابرول، د هغوي له سویه سره درسي نصاب برابرول د لازمو درسی موادو برابرول، د ښوونځیو او مدرسو امنیت ساتل او د تفریحي ځایونه خوندي ساتل په بهراني حالتونو کې ماشومانو ته ځانګړي پاملرنه کول او همدارنګه دجنګو په وختونو کې ماشومانو ته ځانګړي پاملرنه کول، د ماشوم په سالمه روزنه او امنیت ساتلو چې لازمه برخه ونده لري او دغه دماشومانو یو حق ده په خپل دولت باندي چې باید په احسن ډول یې تر سره کړي.(تراب،۱۳۸۷)

پنځم ـ له معیوبو ماشومانو سره مرسته: له معیوبه ماشومانو سره اړینه مرسته هغه څه ده، چې نه تنها د دولتونو دنده نه دی بلکې د ټولو وګړو حق ده چې له هغوي سره اړینه مرسته وکړي او جدي مراقیبت یې وکړي، داځکه چې هغوي د مرستي او لاس نیوي مستحق دي یو خو ماشومان او بل بیا معیوب دي. دولتونه بیا په دغه برخه کې تر ټولو زیات کار کولای شي چې له معیبو ماشومانو سره مرسته وکړي د هغوي لپاره اړوند کیسبونه، مهارتونه او د تعلیم او تربیه په اړه یې له اړوند نړیوالو بنسټونو سره تړونونه لاسلیک کړي تر څو د هغوی لاس نیوي وشي او تر ډیره حده یې ښه پالنه شوي وي او بل چاته احتاج نه شي.

د ماشومانو لپاره که هرڅومره زیار ویستل شي په هغوي باندي سرمایه ګزاري وشي ښه کار دی ،ځکه هغوی ددې ټولنې راتلوونکې دي او دهمدي ټولنې معماران دي. ترڅو دوي انساني ټولنه له بهرانې حالت او بیلاري څخه وژغوري او خپله ټولنه خپل هېواد له نورو هېوادونو سره په هغه قطار کې ودروي چې نوري ټولنې دعبرت درس ورڅخه واخلي. زموږ ماشومان زموږ راتلوونکی دي. (تراب،۱۳۸۷)

**۴ـ مناقشه**

ماشومان د ټولنې بنسټ جوړوي، او د دوی د حقونو رعایت د سالمې، پرمختللې او باثباته ټولنې د جوړېدو اساس ګڼل کېږي. په ټولنیز ژوند کې د ماشوم حقونه یوازې د هغوی د ژوندي پاتې کېدو او فزیکي خوندیتوب تر کچې محدود نه دي، بلکې دا حقونه د هغوی فکري، اخلاقي، تعلیمي، ټولنیز، کلتوري، او رواني ودې ته هم پراخېږي. د دې حقونو د نه تأمین نه یوازې د ماشوم په شخصیت منفي اغېزه کوي، بلکې د ټولنې راتلونکی نسل له بحران سره مخ کوي. په افغانستان او ورته هېوادونو کې، ډېری ماشومان له کوچنیوالي کار ته مجبوره کېږي، تعلیم ته نه ورځي، یا هم له فقر، نا امنی، کورنی ستونزو، جنسیتي تبعیض، او ټولنیزو ناسم فهمونو سره مخ وي. دا ټول عوامل د ماشوم د طبیعي ودې، شخصیت جوړونې، استعداد راویستلو، او اخلاقي روزنې پر وړاندې خنډونه جوړوي.

د همدې څېړنې له نورو څېړنو سره توپیر لري هغه دا دی کومو څېړنو کې چې د ماشومانو د حقونو په اړه شوي دي هغوی کې تنها د حقونو یادونه شوي دی او دغه څېړنه کې بیا د هغوي په ورکړه او اړوند کسانو مسوؤلیت پیژندل او په نښه کول دي. د همدې موضوع بل اړخ یې دا دی چې د ماشومانو د حقونو په هغه عواملو باندي هم بحث شوي چې خلک ورته پاملرنه نه کوي.همدارنګه د ماشومانو د

حقونو په ورکړه کې ټول دخيل اړخونه پيژندل شوي دي هغه که والدين دي، ښوونکي دي، د ټولنې مشران دي، عام وګړي دي.دغه هغه څه ول چې په تېرو څېړنو کې نه ترسترګو کيدل. نو په دهمدې دليل ځنې وړانديزونه دي چې اړوند اداري، وګړي يې بايد د هغوی په ادا کولو کې ونډه واخلي.

١ -د عامه پوهاوي لوړول بايد د کورنيو، ښوونکو او ټولنې نورو غړو ته د ماشومانو د حقونو په اړه روزنه ورکړل شي.

٢-تعليم اجباري او وړيا شي دولت بايد د ټولو ماشومانو لپاره وړيا، باکيفيته او اجباري زده‌کړې برابرې کړي، تر څو د علم حق څخه هيڅوک هم پاتې نه شي.

٣ـقانوني ملاتړ بايد د ماشومانو د حقونو د خونديتوب لپاره قانوني چوکاټ پياوړی شي، او هغه قوانين چې شته، عملي تطبيق يې يقيني شي.

۴ـ تاوتريخوالی منع شي هر ډول فزيکي، رواني او جنسي تاوتريخوالی پر ماشومانو بايد سخت منع شي، او سرغړوونکي عدلي تعقيب شي د ماشومانو غږ ته ارزښت ورکول بل هغه اساسي برخه ده چې ماشومانو خپل نظر څرګند کړي او د دوی فکرونه واورېدل شي.

٥ـاسلامي او انساني ارزښتونه ورزده شي د اخلاقو، احترام، همکاری او مهربانی تعليم بايد له ماشومتوبه ورکړل شي.

٦ـد کورنی ونډه پياوړې شي والدين دې وهڅول شي چې خپلو ماشومانو ته پاملرنه، مينه او سالم تربيت ورکړي.او همدارنګه د لوبو ځايونه جوړ شي دولت او شخصي سکتورونه دې د ماشومانو لپاره خوندي تفريحي او لوبغالي جوړ کړي.د کورنی ونډه پياوړې شي والدين دې وهڅول شي چې خپلو ماشومانو ته پاملرنه، مينه او سالم تربيت ورکړي.

**۵ـ پايله اخيستنه**

ماشوم د ټولنې تر ټولو نازک، پاک او اغېزمن قشر دی. د ماشومانو شخصيت، اخلاق او فکري جوړښت د هغه چاپېريال او روزنې تابع دی چې په کې لويېږي. ځکه نو د ماشومانو حقونو ته پوره پاملرنه نه يوازې د دوی د سالمې ودې تضمين کوي، بلکې د ټولې ټولنې لوری هم روښانه کوي. په ټولنيز ژوند کې د ماشومانو حقونه د انسانيت، عدالت او ټولنيز پرمختګ اساس جوړوي. د موضوع د انتخاب دليل دا دی چې زموږ په ټولنه کې د ماشومانو پر حقونو د پوهاوي کچه کمه ده، ډېر ماشومان له تاوتريخوالي، بې‌وزلی او بې‌پامی سره مخ دي، او د هغوی د شته حقونو د خونديتوب لپاره منظمو هڅو ته اړتيا لري. د ماشومانو د حقونو تاريخي شاليد د اسلام مقدس دين له ظهوريدو څخه ورسته وده وکړه او زموږ ګران پيغمبر حضرت محمد ص د ماشومانو په روزنه او له هغوي سره په رويه باندې زيات ټينګار کړی دی. او همدا موضوع د نړی په کچه د ماشومانو د حقونو د سمې پېژندنې لپاره لومړنی هڅې د ١٩ پېړی په وروستيو کې رامنځته شوې، خو رسمي او نړيوال اسناد د ملګرو ملتونو د ١٩٨٩م کال "د ماشومانو د حقونو کنوانسيون" له تصويب وروسته پراخ شهرت وموند. په دغه کنوانسيون کې د ماشوم ژوند، زده‌کړه،

روغتیا، ساتنه او ګډون د بنسټیزو حقونو په توګه تعریف شوي دي. په افغانستان کې هم که څه هم د ماشوم حقونو یادونه په قوانینو کې شته، خو د عملي پلي کېدو برخه کې لا هم زيات کار ته اړتيا ليدل کېږي. په ټولنيز ژوند کې د ماشومانو د حقونو ننګونې لا هم شته ،که څه هم د ماشومانو حقونه په نړيوالو سندونو کې خوندي دي، خو عملي ستونزې لا هم دوام لري. د کورني تاوتريخوالي زياتوالی، بېوزلي او اقتصادي فشارونه، په لرې پرتو سيمو کې د ښوونځيو کمښت، دوديز محدوديتونه او ناسمې ټولنيزې فرضيې، جګړې، ناامنی او مهاجرت د والدينو د روزنيز شعور کمښت دغه ټول عوامل د ماشومانو سالمه وده او حقونه اغېزمنوي. د والدينو او کورنۍ رول،کورنۍ د ماشوم لومړنی ښوونځی دی. والدين بايد د ماشوم احساساتي، عاطفي او اخلاقي اړتياوې وپېژني او د مثبتې روزنې لارې غوره کړي. نرم چلند، مشوره، مينه، وخت ورکول او د ماشوم په خبرو غوږ نيول د ماشوم د شخصيت په وده کې مهم رول لري. د کورنۍ بې پامی او توند چلند د ماشوم روحي او رواني زيانونه زياتوي.او دغه برخه کې د ټولنې د هرې طبقي وکړې خپل مسووليت لري ، هغه که والدين وي، ښوونکي وي ، عام وکړي، دولت وي،او يا هغه خيريه ټولنې چې د ماشومانو په روزنه کې مسوؤليت لري.

## ٦ـ ماخذونه


**قران کریم**

تراب توتاخیل، رمضان،(۱۳۸۷ ل). کورنې او ماشوم پالنه کابل: مصورخپرندويه ټولنه.

دکتاب نوم داتم ټولګي پښتوکتا. (۱۳۹۸ل) مولفين. د پوهنې وزارت دتعليمي نصاب دپښتو ژبې او ادبياتوڅانګې د دتدرسي کتابونو موٓلفين.

ستانکزی، عبدالناصر. (۱۴۰۳ل ) د ماشومانو حقوق،ننګرهار. مومند خپرندويه ټولنه.

عمر، سهراب، (۱۳۹۴ل).ازبذر تا جنارکابل. ناشر باران امید مطبعه.

فضلي، ډاکتر محمد. ( ۱۳۹۵ هـ ش ) جامعه شناسي ( ټولنپوهنه ) کابل: سعيد کتاب خپرندويه ټولنه ،

قاسمي، مفتي محمد قاسم . (۱۳۹۴ل ) تربيت واصلاح فرزندان زاهدان. انتشارات ندوی رحمه الله .

مومند حسنزی، نرګس. (۱۳۹٦ل ) دماشومانو ادبياتو ليکلارښود کابل. خپرندوی د افغانستان دماشومانو ملي بنسټ.

ميا خيل، عطا محمد، ( ۱۳۹۷ل ). ماشوم پالنه، کابل. سروش کتاب پلونځی.

نيازی، رفيع الله، (۱۳۸۹ل). دماشومانوادبيات کابل. خپرندوی مصورخپرندوی بنسټ .

# د آنلاين پېر په اراده او تصميم باندې د درک شوي ګواښ تاثير څېړنه

**نصيراحمد مايار[۱]، پوهندوی دوکتور همايون غفورزی[۲]**

۱ . د تشبثاتو مديريت ديپارتمنت، اقتصاد پوهنځی، کاروان پوهنتون، کابل افغانستان

۲. د مالي محاسبې ديپارتمنت، اقتصاد پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل افغانستان

ايميل: nasirmayar.2018@gmail.com

## لنډيز

انلاين پېر د يوويشتمې پېړۍ د ژوند مهمه برخه ګرځېدلې چې زيات او زيات مصرف کوونکي پدې لټه کې دي چې آنلاين پېر څخه ګټه واخلي او د انټرنيټ مصرف کوونکو ته اجازه ورکړي تر څو هروخت، هر چيرته ددې توانايي سره سره چې بيلابيل توکي پرتله کړي، وپېري. نوموړې څېړنه چې په کابل ښار، پنځمه ناحيه کې د درک شوي ګواښ تاثير پرليکه پېر په اراده او پرليکه پېر په تصميم باندې تاثير څرګندولو په موخه لومړي لاس ډېټا چې د پوښتنليک په مټ سره را ټوله شوې په نظر کې نيول شوې ده او دا څېړنه عملي څېړنې ده چې د (۱۷۸) وګړو څخه د نمونې په ډول د غير تصادفي، موخيزې نمونې اخېستنې په استفادې سره ډېټا راټوله شوې ده. ياده موضوع چې په هر ځای کې د خورا ډېر اهميت درلودونکې ده نو دې اهميت ته په کتو سره، په دې څېړنه کې به د درک شوي ګواښ تاثيرات پرليکه پېر په اراده او تصميم ترمنځ اړيکه څرګنده شي د ريګريسيون خطی مودل څخه استفاده شوې. د تحليل څخه وروسته د اړوند څېړنې موندنې دا څرګندوي چې د درک شويو ګواښونو لکه رواني ادارک شوی ګواښ د پرليکه پېر په اراده (p=0.034) سره منفي او معنی لرونکی تاثير لري او د توليد ادارک شوی ګواښ په پرليکه پېر په اراده او پرليکه پېر په تصميم د (p=0.043) مثبت او معنی لرونکی تاثير لري او همدارنګه د وخت درک شوی ګواښ په دواړو مثبت اما بی معنی تاثيرلري، پاتې ټول ګواښونه، لکه مالي ګواښ، ټولنيز ګواښ، امنيتي ګواښ منفي تاثير لري خو يواځې ټولنيز ګواښ معنی لرونکی دی.

**کليدی ټکي:** درک شوی ګواښ، انټرنيټ ،پرليکه پېر اراده، پرليکه پېرتصميم ، سوداګري او ګواښ.

# The Effect of Percecvied Risk on Online Purchase Intention and Decision

**Nasir Ahmad Mayar[1], Assistant professor Hamayoun Ghafourzay[2]**

1 Karwan University, Kabul, Afghanistan

2 Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: nasirmayar.2018@gmail.com

## Abstract

Online shopping has become an essential part of 21st-century life, with more and more consumers seeking to benefit from the convenience of purchasing online. The internet enables users to compare and buy various products anytime and anywhere. This study, conducted in the fifth district of Kabul city, investigates the impact of perceived risk on online purchase intention and decision-making. It is an applied research study, and data was collected from a purposive non-random sample of 178 individuals. Given the importance of this topic globally, the study employed a linear regression model to analyze primary data collected through a questionnaire. The findings indicate that certain perceived risks—such as psychological perceived risk—have a positive and statistically significant effect on online purchase intention ($p = 0.034$). Similarly, product-related perceived risk has a negative and significant effect on both online purchase intention and decision-making ($p = 0.043$). Time-related perceived risk also shows a positive but statistically insignificant effect on both intention and decision. Other risks, including financial, social, and security risks, have a negative effect, with only social risk showing a statistically significant impact.

**Keywords:** Perceived risk, Internet, Online purchase intention, Online purchase decision, E-commerce, Risk.

**۱ـ مقدمه**

څرنگه چې د ټولنې خلک ورځ تر بلې د تکنالوژۍ سره د بلدتیا په حال کې دي او تکنالوژي د چارو په تر سره کولو کې پوره آسانتیا رامنځته کړی، نو مصرف کوونکی د خپلې اړتیا وړ توکي او چوپړتیاوې کولای شي په کم وخت کې وپېري او خپلې اړتیاوې رفع کړي نو له همدې اړخه مصرف کوونکي پر لیکه پېرل غوره کوي ځکه چې دا په نړیواله سطحه د سوداگرۍ او اړیکو غوره لاره گرځېدلې او د انټرنیټ استفاده کوونکي هم ورځ په ورځ په چټکۍ سره د زیاتیدو په حال کې دي او د مختلفو وسیلو لکه کمپیوتر، لپټاپ، موبایل او نورو په مرسته تر سره کیږي خو دا سهولتونه د ځان سره بعضې ننگونې لکه د معلوماتو ساتنه، د تادیاتو امنیت، غیر کافي معلومات، د قرارداد اعتبار او د محصول کیفیت لري او په پرمخ تللو هیوادونو کې پرلیکه پېرود پورې اړوند رجحانات اعظمی حد ته رسیدلي دي .Iqbal W) (2019 ,.انلاین پېر د یوویشتمې پیړۍ د ژوند مهمه برخه گرځیدلې چې زیات او زیات مصرف کوونکي پدې لټه کې دي چې انلاین پېرود څخه گټه واخلي او د انټرنیټ مصرف کوونکي ته اجازه ورکړي تر څو هروخت، هر چیرته ددې توانایي سره سره چې بیلابیل توکي پرتله او وپېري ,Balogh & Meszaros) (2020. همدارنگه نن ورځ ټولنیزې رسنۍ د سوداگرۍ په ځانگړې ډول د انلاین کاراوبار په پار د مشتریانو سره د اړیکو مهم کانال بلل کیږي چې دا حقیقت څرگندوي چې استفاده په ټولنه کې د انټرنیټ او ټولنیزو شبکو څخه ورځ تر بلې د ډیریدو په حال کې ده (Mohammadi, 2024). پېرولو تصمیم(Purchasing decision) ته د د اخیستلو تصمیم(Buying decision) هم وايي چې په داسې تعریف کیږي دا یو پروسه ده چې مصرف کوونکي مشکل پیژني، د اړوند تولید د برانډ او شهرت په اړه معلومات ترلاسه کوي، راټول شوي معلومات پرتله کوي چې کوم متبادل د اړوند ستونزې یا مشکل په پار تر ټولو غوره دی او په پای کې د پېردلو تصمیم نیول کیږي ,Hazrati Havidz & Mahaputra) (2020هغه فعالیتونه چې د مصرف کوونکو اړتیاوو او غوښتنو پوره کولو لپاره دځانگړو محصولاتو یا چوپړتیاوو په ټاکلو، پېرود، ارزولو او کارولو کې ښکیل دي احساساتي او ذهني پروسې ته اړتیا لري او د گواښ لاندې پریکړو کولو پروسه احساساتي او ادراکي اړخونه لري چې پېرودونکي اړتیا لري تر څو په مختلفو تولیداتو او چوپړتیاوو کې د یوه غوره تولید یا چوپړتیا په اړه پریکړه وکړي & ishak) .Sugiharto elgeka, 2023)

ادراک هغه څه دی چې هر شخص یې په انگیزه او هڅه سره د عمل کولو ته تیار دی دا چې نوموړی شخص څه ډول عمل ترسره کوي په ادراک او اوضاع د شخص پورې اړه لري. ټول انسانان د معلوماتو د جریان په مرسته د پنځه گونو حواسو له طریقه یعني لید یا کتلو، آوریدلو، بوی کول، لمس او څټلو زده کوي، همدارنگه ادراک هغه پروسه ده چې په مټ یې خلک د نړۍ معنالرونکی انځور جوړ، د معلوماتو انتخاب، تنظیم، تعبیر او تفسیر کوي. زده کړه یا یادونه هغه عامل دی چې مصرف کوونکي یې

د تیرو تجربو څخه زده کوي او په راتلونکو د پېر په تصمیم کې ترې استفاده کوي ددې علاوه باورونه او عقاید دي چې د پېرودونکي یې د عمل او زده کړې په مټ تر لاسه کوي او د مصرف کوونکي په رفتار باندې تاثیر کوي. (Kotler, Armstrong, & Balasubramanian, Principle of marketing, 2024). نو ددې ستونزې د څرګندولو په موخه څرنګه چې د نړۍ په سطحه انلاین پېرودنه او پلورنه ورځ تر بلې په چټک ډول د ډېریدو په حال کې ده له دې برخې څخه زمونږ ګران هیواد افغانستان کې هم د وګړو د علمي کچې لوړیدو او انلاین کاراوبارونو ایجادیدل او پراخیدل د پېرلو او پلورلو او خپلو اړتیاوو د رفع کولو آسانه لاره ده او دا ډول پلور او پېر لپاره تصمیم نیول او ارادې ته اړتیا ده چې دا تصمیم او اراده تر هغه پورې چې د توکي یا چوپړتیا د ترلاسه کولو څخه پوره ډاډ نه وي نو د پېرودونکي او پلورونکي یو ډول ګواښ احساس کوي. چې دا ګوښونه لکه مالي ګواښ، د تولید ګواښ، ټولنیز ګواښ، امنیتي د وخت او ارواه پوهنې درک شوی ګواښ په انلاین پیرپه اراده او تصمیم باندې منفي او معنا لرونکی اغیز کوي. یعني په انلاین پېر باندې د درک شوي ګواښ او انلاین تصمیم نیونه باندې د رک شوي ګواښ تاثیر منفي او معنا لرونکی دي او همدارنګه څېړنه د علم او پوهې د پراخیدو مهمه وسیله ده او دا د څېړنې نتیجې نه تنها علم ته بلکې عملي ژوند ته هم شاملې دي یعني په ورځني ژوند کې ډیر رول لري په همدې اساس دا څېړنه هم اړینه ده ځکه چې نن سبا د نړۍ د الکترونیک تجارت په وده کې دی، نو افغانستان کې هم انلاین راکړه ورکړه ورځ تر بلې د دیریدو په حال کې ده نو دا د هغو متحولینوو لکه درک شوی ګواښ، انلاین پېرود او انلاین تصمیم نیونه ترمنځ اړیکه او تاثیرات څرګندوي چې کاروباري اشخاص او پېرودونکي یې باید د خپلو کاروبارو د کړنو د ښه والی او پرمختګ لپاره په نظر کې ولري او دې څېړنې ته ورته څېړنه په نړیواله او داخلي څېړنو کې نده ترسره شوي چې عیناً دا ډول متحولینو اړیکې یې څرګندې کړې وي بلکې دوه یا یو له دې یې تر بحث لاندې نیولی دی. ددې څېړنې په پای ته رسیدو سره به محصلین، کارکوونکي، مصرف کوونکي او کاراوبار یا سوداګر په ټوله کې هغه اشخاص چې انلاین کاراوبار سره علاقه لري معلومات حاصل کړي چې زمونږ په ټولنه د انلاین پېر په صورت کې کوم ګواښونه شتون لري او دا ډول ګواښونه د مصرف کوونکو د پېر په اراده او تصمیم څه ډول اغیز کوي او همدارنګه د نړیوال تجارت په برخه کې د سوداګرو سره هم مرسته کولای شي چې څه ډول د مصرف کوونکو سره انلاین اړیکه وساتي او رویه ورسره وکړي. له بلې خوا به د نورو کورنیو او بهرنیو څېړونکو سره د څېړنې د مخینې په برخه کې مرستندوی واقع شي. له بلې خوا ددې تحقیق پایله به د سوداګریزو شرکتونو سره مرسته وکړي چې څرنګه د پېرودونکو باور ترلاسه کولای شي، د انلاین پېرودلو په برخه کې امنیتي تدابیرو اهمیت تشخیص او وپیژني او د پېرودونکو د وفادارۍ یعني (customer loyalty ) په پار غوره اقدامات ترسره کړي. سربیره پردې به پېرودنکو ته څرګند کړي چې څرنګه له ګواښ نه خوندي انلاین پېرود ترسره کړي او د ګواښونو نه ځان وژغوري، اندیښنې به کمې او د عقلاني تصمیم نیولو کې د پېرودنکو سره مرسته کوي.

## ۲ـ د څېړنې کړنلاره

نوموړې څېړنه یو کمي څېرنه ده. ددې څېړنې میتود کمي دی او د موخې له اړخه تطبیقي ده چې نوموړې ډېټا بنسټ د لومړني لاس ډېټا تشکیلوي کوم چې د گوگل فارم څخه په استفادې د پوښتنلیک په مرسته چې ډیموگرافیک، د درک شوي گواښ، د انلاین پېر اراده او انلاین پېر تصمیم مشتمل دی او د لیکرت مقیاس په درلودلو سره د غیراحتمالي نمونې له ډلې د غیر تصادفي موخیزې نمونې اخېستنې په استفاده سره د کابل ولایت، مرکز په پنځمه ناحیه کې د (۱۷۸) کسانو چې انلاین پېر یې تجربه کړی وي راټوله شوې ده.




شکل ۱: د څېړنې ماډل

جدول ۱: د پوښتنلیک اعتبار

| مقیاس | کرونباخ الفا | د افادو شمېر | حالت |
|---|---|---|---|
| مالي گواښ | ۰.٦٧ | ۵ | قبول وړ |
| د تولید گواښ | ۰.٦٨ | ۵ | قبول وړ |
| د امنیت گواښ | ۰.۹۵ | ۵ | قبول وړ |
| د وخت گواښ | ۰.۹۸ | ۴ | قبول وړ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټولنیز ګواښ | ۰.۹۵ | ۴ | قبول وړ |
| رواني ګواښ | ۰.۷۶ | ۴ | قبول وړ |
| پرلیکه پېر اراده | ۰.۷۲ | ۳ | قبول وړ |
| پرلیکه پېر تصمیم | ۰.۹۹ | ۷ | قبول وړ |

**۳- موندنې**

په الجزایر کې څېړنه د چینایي موټرونو اړوند د درک شوي ګواښ تاثیر د الجزایر د مصرف کوونکو د پېر په تصمیم باندې د ۱۱۰ مصرف کوونکو څخه د راټولو شوو معلوماتو په مرسته ترسره شوې ده چې په پایله کې یې د درک شوي ګواښ اړوند د کړنو، مالي، اروا پوهنې او وخت ګواښ شامل دي یعني د دوي د پېر تصمیم باندې اغیزه کوي له بلې خوا، د فزیکي او ټولنیز ګواښ د دوي د پېر په تصمیم باندې اثر نه لري (أحمد & وکال, ۲۰۲۴). د مالیزیا په کلنګ والی کې د ادراک شوي ګواښ تاثیر د انلاین یا پر لیکه د پېر په اراده تر عنوان لاندې څېړنه ترسره شوي چې فاعلي نورم او علاقه د منځګړی او کنترول په ډول په اړیکه کې رول لري؛ راټوله شوې ډېټا یې د سروې په مرسته د ۲۵۰ کسانو څخه را ځواب کړې، ډېټا د اس پی اس اس په مرسته سپړل شوې او ښودل شوې چې درک شوی ګواښ پر انلاین پېر په اراده باندې منفي اغیز کوي او علاقه مثبت تاثیر لري د منځګړي متحول په حیث یعني علاقه د درک شوي ګواښ او انلاین پېر په اراده باندې مثبت اغیزه کوي بلکې د فاعلي نورم کچې د کمیدو سره د ادراک شوي ګواښ او انلاین پېر اراده ترمنځ اړیکه قوي کیږي (Mei Siu & Ismail, 2022). د درک شوي ګواښ اغیزې په انلاین پېر تر عنوان لاندې څېړنه چې د درک شوي ګواښ له ابعادو څخه یې دوه ابعاد د مالی او معلوماتي امنیت ګواښ بعدونه په نظرکې نیولي دي؛ د هغو ۱۴۷ کسانو څخه چې انټرنیټ ته لاسرسي لري او استفاده کوي یې ډېټا راټوله شوې او د سپړنه په نتیجه کې څرګنده کړې چې مالي ګواښ د انلاین پېر باندې تاثیر نلري او د معلومات ګواښ په مثبت ډول د مصرف کوونکو په انلاین پېر اغیز کوي (mamman, maidawa, & saleh, 2015). همدارنګه (andrian & Selamat, 2021) د مصرف کوونکي د درک ګواښ تاثیر د اندونیزیا هیواد کې د مصرف کوونکو په انلاین پېر تر عنوان لاندې څېړنه ترسره کړې ده چې د څېړنې په پار راټوله شوې دیټا د پوښتنلیک په مرسته ده او د ۱۳۰ ځواب کوونکو لخوا خپل اندونه راټول شوي دي چې په پایله کې مالي ګواښ، د تولید ګواښ، امنیتي ګواښ، وخت ګواښ او ارواه پوهنې ګواښ د انلاین پېر په اراده باندې منفي تاثیر کوي او ټولنیز ګواښ په انلاین پېر په اراده باندې هیڅ تاثیر نلري او کمپنیانې باید پورته پنځه بعدونه چې منفي اغیز لري پاملرنه وکړي. په برانډ پوشاک تولیداتو کې د درک شوي ګواښ تاثیر د مصرف کوونکو د انلاین پېر په اراده باندې څېړنه چې ډېټا د پوښتنلیک په مټ راټوله او د کمي میتود څخه په استفادې سره ترسره شوې ده ښیي چې دوه فکتورونه د تولید او مالي ګواښونه منفي اما معنالرونکی تاثیر د انلاین مصرف کوونکو د پېر په اراده

باندې لري او له بلې خوا، نور فکتورونه لکه امنیت، ټولنیز او وخت ګواښونه بې معنا دي یعني کوم تاثیر نلري (Iqbal w. , 2019). همدارنګه د انلاین بیا کتنې تاثیر د انلاین پېر په اراده باندې تر عنوان څېړنه د ترتیب شوي پوښتنلیک په مرسته د ۱۲۳ کسانو څخه د ساده تصادفي نمونې په استفادې سره ډېټا راټوله شوې او پایله یې څرګندوي چې انلاین باکتنه د انلاین پېر په اراده باندې ډېر تاثیر کوي (Ramadhan, wisnu, & nugroho, 2022). د انلاین مشتریانو بیاکتنه تاثیر د پېر په اراده باندې په انلاین بازار په اندونیزیا هیواد کې چې د بلبلې ویب سایټ په نظر کې نیول شوي دی نوموړې څېړنه تشریحي ده او سروې میتود په مرسته ترسره شوې چې د ساده تصادفي نمونې په مټ د ۴۰۰ کسانو څخه اړوند معلومات راټول شوي چې خلاصه د څېړنې ښیي چې د مصرف کوونکو انلاین یا پرلیکه بیا کتنه د مصرف کوونکو د پېر اراده باندې په لوړه کچه تاثیر درلودلای شي (Ramadhan, wisnu, & nugroho, 2022)

د انټرنیټي بازارموندنې تاثیر د درک شوي ګواښ او د مشتري اعتماد په انټرنیټي پېر باندې څېړنه چې دموخې له مخې عملی څېړنه ده او په ایران هیواد کې د ډیجی توکو د پلورنځیو د مشتریانو څخه د پوښتنلیک په مرسته ډېټا راټوله شوې ده چې ټولټال ۳۶۵ کسان دی او پایله په ایراني تولیداتو کې د علاقې د منځګړي متحول او ادراک شوي ګواښ ابعادو تاثیر د پېر په اراده باندې چې د کمي میتود په مرسته تر سره شوی دی چې د څېړنې پایله څرګندوي چې مالی ګواښ د مصرف کوونکو په علاقه باندې مثبت تاثیر نلري او همدارنګه د مصرف کوونکو د پېر په اراده هم مثبت تاثیر نلري یعني دا چې دا اړیکه معکوسه ده یعني د مالي ګواښ زیاتوالي علاقه او د پېر اراده د ایراني تولیداتو ته کمیږي او د مالي ګواښ زیاتوالی د مصرف کوونکو علاقه کموي او ایراني تولیداتو ته په اراده منفي تاثیر لري (shahri majarshin, rousta, & naami, 2021). الکترونکي بازار په موازي ډول فزیکي بازار ته د بالقوه الکترونیکي پلورنکو او الکترونیکي پېرودونکو اجازه ورکوي ترڅو د توکو او چوپړتیاوو اړوند د معلوماتو تبادله وکړي یعني شریک کړي او توافق ته سره ورسیږي الکترونیکي تجارت د ماډل په اساس کولای شي په بیلابیلو برخو لکه الکترونیکي خپلواک بازار، عمودي بازار او افقي بازار دي وویشو. یو الکترونیکي بازار چې دغوره پېر چاپېریال برابرولو په هدف د ټولو پلورونکو لخوا اداره کیږي د پېرودونکو الکترونیکي بازار یا پېرود محوره بازار په نوم یادیږي او د پلورونکو محوره بازارهم د یو مقدار عرضه لخوا اداره کیږي او عمودي الکترونیکي بازار په انلاین ډول راکړې ورکړې ته لاسرسی پکې وي او په عمودي ډول د لوړ نه ښکته او بالعکس برابریږي او د افقي بازار د پلورونکو او پېرودونکو بیلابیل صنعتونه یو دبل سره وصلوي (حمیدي & فاضلی, ۱۳۹۶). څرنګه چې په ډېرو هیوادونو کې د انټرنیټ استفاده ډېره نو اندونیزیا هیواد هم له هغو هیوادونو څخه دی چې د انټرنیټ استفاده پکې ورځ تر بلې د ډېریدو په حال کې ده او په کاراو بار کې یې رول ډېر مهم دی چې د هیواد د اقتصاد په بېلانس باندې تاثیر کولای شي او پر لیکه یا انلاین د پېرود اراده د یوه فکتور په توګه تعریف کولای شي چې ددې په

مرسته د ټولو کړنو د مصرف کوونکو په چلند او رویه وړاندوینه وکړي او یا هم د توکو یا چوپړتیاوو د ترلاسه کولو لپاره پریکړه وکړي (Ramadhan, wisnu, & nugroho, 2022).

د مصرف کوونکي د درک شوي ګواښ تاثیر د مصرف کوونکو د انلاین پېر په اراده څېړنه د اندونیزیا هیواد کې چې ډېټا د ۱۳۰ کسانو څخه د پوښتنلیک په مرسته راټوله شوې ده چې پایله د څېړنې څرګندوي چې مالي ګواښ، د تولید ګواښ، امنیتي ګواښ، وخت ګواښ او ارواه پوهنې ګواښ منفي تاثیر د انلاین پېر په اراده باندې لري ولې ټولنیز ګواښ د انلاین پېر په اراده باندې تاثیر نه کوي (Andrian & Selamat, 2021). د فاعلی نورم او درک شوي ګواښ تاثیر د انلاین پېر په اراده په الکترونکی سوداګری کې تر عنوان لاندې څېړنه تر سره شوې ده چې د انلاین مصرف کوونکي رفتار د فاعلي نورم او ګواښ د درک په نظر کې نیولو سره او جامعه د څېړنې په اندونیزیا هیواد کې جاکارت او بوګر اوسیدونکي چې د ۱۹۸۱-۱۹۹۵ کلونو کې زیږیدلي دي په نظر کې نیول شوي دي او د فرضیو د امتحان یا آزمویښت په پار د مساوي جوړښت ماډل څخه استفاده شوې ده چې د ۳۹۷ کسان د نمونې په ډول انتخاب وي او پایله فاعلي نورم غیر مستقیم ډول مثبت تاثیر د انلاین پېر په اراده باندې نلري او نه هم په رفتار باندې او درک شوی ګواښ هم د انلاین پېر په اراده په غیر مستقیم ډول مثبت تاثیر لري او رفتار چې په الکترونیک تجارت کې مستقیم مثبت تاثیر د انلاین پېر په اراده لري (Nasrudin, Limakrisna, & Bahtiar, Influence of subjective norms and perceived risk toward online purchase intentions on E-commerce, 2024). د انلاین پېر ارادې پرمختګ ماډل د اندونیزیایي زر Millennial کاله نسل په پار دا څېړنه د دوه ډوله دېټا په مرسته چې لومړی او دوهمې ډېټا ده د ۳۹۷ اشخاصو څخه راټوله شوې ده چې پایله یې څرګندوي چې دا نسل د عقلاني پلان نیونې څخه احساساتي ول په انلاین پېر کې او دوي انلاین پېر ته د آفلاین یا فزیکي پېر په پرتله ارجحیت ورکوو ځکه چې د تکنالوژي سره عادت شي (Nasrudin, Limakrisna, & Bahtiar, 2025). همدارنګه په الکترونیکي تجارت کې د ادراک شوي کیفیت او ګواښ تاثیر د انلاین پېر په اراده باندې چې نوموړې څېړنې په پار دېټا د پوښتنلیک په مرسته د ۱۰۰ کسانو څخه را ټوله شوې ده او د کمي میتود په استفادې سره پایله واضیح کوي چې ٪۵۸.۸ سلنه درک شوی کیفیت او درک شوی ګواښ تاثیر دی او باقي نور ۴۱.۲ ٪ سلنه تاثیر د نورو فکتورونو څخه دی (Sukarya, kristanto, & Armay, 2024).

د مصرف کوونکو رفتار او د ادراک شوي ګواښ تاثیر د انلاین مصرف کوونکو د پېر په تصمیم په موضوع څېړنه چې د کمي میتود څخه په استفادې سره، د هدفي نمونې له مخې د ۱۰۰ کسانو څخه د څېړنه د ترسره کولو په پار د پوښتنلیک په مټ ډېټا راټوله شوې ده او د تحلیل په پار یې د مساوي ساختماني ماډل کارول شوی دی چې نتیجه یې ښیي د مصرف کوونکو رفتار او ادراک شوی ګواښ د مصرف کوونکو د پېر په تصمیم باندې تاثیر کوي او تر ټولو ډېر زیات تاثیر کوونکی عنصر یې د تادیاتو سیسټم دی (Jusuf & Munandar, 2021). دګواښ او علاقې تاثیر د انلاین مصرف کوونکو د پېر په تصمیم باندې چې ډېټا د ډیزاین شوي پوښتنلیک په مټ د ۷۵۰ کسانو څخه راټوله شوې ده او د تحلیل

نتيجه يې ښکاره کوي چې د پېر تصميم د انلاين مصرف کوونکو د مطلوب پېر په رفتار پورې اړه لري او ګواښ د انلاين پېر او مصرف کوونکو په علاقه کې شتون لري (Abarna, Vijayalakshmi, & Andal, 2023). د ټولنيزو شبکو د بازارموندنې د فعاليت تاثير بررسی د ادراک شوي ارزښت او د مصرف کوونکو د پېر اراده باندې چې ټولنيزو شبکو کې انسټاګرام په نظر کې نيول شوی دی. د څېړنې د ترسره کولو په موخه د ۱۴۰ کسانو څخه چې انسټاګرام ټولنيزه شبکه کاروي ډېټا راټوله شوې ده د تصادفي ساده نمونې له مخې او پايله يې څرګندوي چې د ټولنيزو شبکو د بازارموندنې فعاليت د درک په ارزښت باندې مثبت او معنالرونکی تاثير لري او همدارنګه د مصرف کوونکو د پېر په اراده باندې يې تاثير مثبت او معنا لرونکی دی او ادراک شوی ارزښت د مصرف کوونکو د پېر په اراده مثبت تاثير لري (باباجانی محمدی, ۱۴۰۳). د څېړنې نتيجه څرګندوي چې، توجه، علاقه، رفتار او ټولنيز نورمونه د مصرف کوونکو د پېر له ارادې سره مثبت اړيکه لري او د خلکو انځورونه کولای شي پورته ټول فکتورونه تر مثبت اغيز لاندې راولي په ګډون د مصرف کوونکي د پېر ارادې(Zhang, 2022) . همدارنګه په انلاين کاراوبار کې د د انلاين اندونو شريک کولو تاثير د پېرودونکو د پېر په اراده ترعنوان لاندې څېړنه ترسره کړې چې ډېټا يې د لومړنۍ ده يعني د پوښتنليک په مرسته يې راټوله کړې ده چې پايله کې څرګندوي چې د پېرودونکو اندونه په الکترونيک کاراوبار کې د مصرف کوونکو د پېر تصميم، رفتار، د توليد ارزونه، او خدماتو باندې تاثير کوي خو د پېر په اراده باندې د اندونو تاثير له دوه اړخه دی اول د انلاين اندونو کيفيت دی چې د پېرودونکو د پېر په تصميم باندې مثبت اغيز کوي، دوهم ټولينزه فاصله او بيلا بيل انلاين اندونه دي چې د دوي ترمنځ د منځګړي تاثير ښيي (cheng, huang, & zhong, 2023). د ويتنام هيواد د پېرودونکو په اراده باندې د توکو انلاين مشهور شخصيت ژوندی جريان اغيزې په اړه د پوښتنليک په مرسته ډېټا راټوله شوې چې پوښتنليک کې د تاثير کوونکو اغيز، تخصص، تعامل، د درک شوي علاقه، د پېر اراده او ډيموګرافيک معلومات شامل وو. دا معلومات د ۵۰۰ کسانو په ۲۰۲۳ م کال کې راټول شوي دي چې پايله يې ښيي چې تاثيرکوونکو اغيز، تخصص او تعامل د ويتنامي توليداتو د مصرف کوونکو د پېر په اراده باندې مثبت او مستقيم تاثير لري او درک علاقه د منځګړي متحول په ډول د تخصص او تعامل په منځ کې رول لوبوي (Tien vo, 2025). په شفاهي ډول د معلومات شريک کول د بازار موندنې ستراتيژۍ کې دا څېړنه چې ترپخوا بازارموندې ډېره غوره ده او کله چې مارکيټ او د توليد جوړښت په نظر کې ونيول شي نو دا ميل د کمپنۍ په کنټرول کې ندی. (Nene & Krishnan, 2018). د مصطلح کماتو د بازارموندنې تاثير د پېر په اراده باندې چې څېړنې پايله څرګندوي کچيرته عامه خبرې اترې د تعليمي توکو او خدماتو اړوند وي نو دا ډېر اهميت لري او له دې اړوند د مصرف کوونکو ادراک کچه لوړيږي او دوي د پېر اراده باندې معنالرونکي تاثير کوي چې دا څېړنه د کمي ميتود په مرسته د ساده تصادفي نمونې د ۱۰۰ کسانو څخه راټوله شوې ډېټا له مخې ترسره شوي او د مصطلح کلماتو بازارموندنې ټولنه داسې تعريف کوي چې دا د بازارموندنې يو ډول فعاليت دی چې

پېردودنکي تشويق کوي تر څو خلک توليد اړوند خبرې وکړي او يې پېري (Farhan, Hurriyati, & hendrayati, 2024).

(Manage Shanika Hansini Rathnasiri ,۲۰۲۲) په سرلانکا هيواد کې د ادراک شوي ګواښ تاثير د ښځينوو مصرف کوونکو انلاين پېر په اراده د کاليو توليد کې ترسره کړې ده. دا څېړنه د شپږو فکتورونو آزموينښت کوي لکه: مالي ګواښ، د توليد ګواښ، امنيتي ګواښ، د وخت ګواښ، ټولنيز ګواښ او ارواه پوهنې ګواښ دي او د ۳۶۰ ښځينوو څخه ډېټا را ټوله کړې ده د آسانه نمونې د استفادې په مرسته چې پايله يې ښيي چې مالي ګواښ، د توليد ګواښ، امنيتي ګواښ او ټولنيز ګواښ په مثبت ډول د ښځينوو مصرف کوونکو د پېر په اراده باندې تاثير کوي. له بلې خوا، د وخت ګواښ او ارواه پوهنې ګواښ کم اهميت لري (Hansini Rathnasiri, 2022). د الکترونيکي پلورونکو اخلاق او دالکترونيکي پېرودونکو جذب تر عنوان لاندې څېړنه ترسره شوې ده چې ۱۴۸ کسانو څخه ډېټا د انکشافي ميتود په اساس راټوله شوې ده او پايله يې د الکترونيکي سوداګرۍ اخلاق د الکترونيکي مشتريانو لپاره مهم رول لري او کڅيرته مشتريانو ته په وخت ځواب ورکړل شي دې دوي د غوښتنو وړ توکي او چوپړتياوې برابرې کړي دا به د مشتريانو په جذب او وفاه داری باندې مثبت تاثير ولري (حميدي & فاضلی, ۱۳۹۶). د غوره پېر بررسي د پلټنې په اراده او د پېر اراده د اينستاګرام په استفاده کوونکو کې چې د ۱۶۰ کسانو څخه ډېټا راټوله او د عملي څېړنې په موخه ترسره شوې ده او د څېړنې پايله څرګندوي چې د پېر غوره انګيزه معنالرونکې تاثيرد پېر په اراده او د پلټنې په اراده باندې لري او د اينټرنيټ يو جامع کانال دی د انلاين پير په پار (احمدي & نجفي زاده, ۱۴۰۰). د جمع کولو، اعتماد، کيفيت او درک شوی ګواښ د مصرف کوونکي په اراده د تاثير بررسي پر ارګانيکي محصولاتو په پېر باندې څېړنه ترسره شوې ده دا څېړنه په ايران هيواد، داستان هرمزګان په سيمه کې د مصرف کوونکو پېر اراده په اورګانيکي محصولاتو کې بررسي کړې ده چې د څېړنې د ترسره کولو په پار د توصيفي ميتود څخه استفاده شوې ده او د موژګان د جدول په اساس د ۳۲۰ کسانو څخه ډېټا د تصادفي ساده نمونې په اساس راټوله شوې چې پايله يې څرګندوي چې ښايي د جمع کولو ارزښت، د مصرف کوونکو اعتماد، فکر، ګواښ اودرک شوی کيفيت د مصرف کوونکي د پېر په اراده په ارګانيکي محصولاتو کې موثر رول لري (شيرخدای, قاسمی همدانی, & حبيب نژاد لوجندی, ۱۳۹۵). د ۲۰۰۴ کال کې د پلان شوې سلوک او انټرنيت په مرسته پېر تر عنوان چې د ۱۹۳ محصلينو څخه معلومات راټول کړي وو څېړنه ترسره کړه د څېړنې نتيجه څرګندوي چې د انټرنيت د پېر باوري والی د خلکو په اړه مثبت نظرونه رامنځته کوي او محرميت انديښنې په اړه رويه دومره ډېر تاثير نلري او کڅيرته پېرودونکی په خپل ځان باور ولري(Self-efficacy) د انلاين پېر په پار د کنترول احساس زياتوي (George, 2004). د انلاين پېر خنډونو تر عنوان لاندې څېړنه ښيي چې بعضې مشخص فکتورونه شتون لري چې د مصرف کوونکو د پېر په رفتار باندې تاثير کوي د انلاين توليد پېر باندې لکه ادراک شوی ګواښ، د تاداياتو د امنيت ګواښ، جنسيت، پوهه اومهارتونه تاثير کوي (jain & kulhar, 2019). د ټولنيزو رسنيو د بازارموندنې تاثير د پېر په تصميم تر عنوان لاندې څېړنې پايله ښيي

چې د رفاه استان د پلورنې مرکز کارکوونکو د ټولنيزو رسنيو بازارموندنې ځانګړنې او شپږ مولفې چې عاطفي جذابيت، د خوښې وړ توکو ته تمايل، نوښت، د معلوماتو څخه خبراوی او ارزښت يې د مصرف کوونکو د پېر په تصميم معنی لرونکی او مثبت تاثير لري (پيران & صفوی, ۱۳۹۹). د برانډ انځور او دپېر تصميم د قيمت د درک او ودې تحليل د څېړنه موضوع چې د کيفي ميتود سره ترسره شوې ده چې لاسته راوړنې يې ښيي چې قيمت د برانډ په انځور، قيمت د پېر په تصميم، د توليد وده د برانډ په انځور، د توليد وده د پېرودونکي په تصميم او دبرانډ انځور د پېر په تصميم سره اړيکه او تاثير لري (Hazrati Havidz & Mahaputra, 2020). د پېر د تصميم تعيين کوونکو اندازه کول د کم توليد په پېر کې، دا څېړنه د پېرلو تصميم او دتوليد قيمت، د توليد کيفيت او د توليد د ودې ترمنځ اړيکه باندې تمرکز کوي چې د پوښتنليک په مرسته راټوله شوې ډېټا د کمي ميتود په استفادې سره چې پايله څرګندوي د توليد کيفيت او د توليد قيمت مثبت او معنالرونکی تاثير د پېر په تصميم باندې لري. اما د توليد وده مثبت ولې بې معنا دی يعني کوم تاثير نلري Safia Oebit & juniarti, 2023. د ترکيبي بازارموندنې تاثير د مصرف کوونکو د پېر په تصميم په سربيا، د اندونيزيا په هوټلونو کې. د تصادفي نمونې په اساس د ۱۵۰ کسانو څخه ډېټا د پوښتنليک په مرسته راټوله شوې ده چې عملي ميتود په اساس يې پايله څرګندوي چې د هوټل توليد د مصرف کوونکو د پېر په تصميم باندې تاثير لري او همدارنګه قيمت او د هوټل موقعيت هم معنالرونکی اثر لري (putra, Husada tarigan, Sitepu, & Sanju, 2019). د ډيجيټل بازارموندنې تاثير د پېر په تصميم باندې چې په جوردان هيواد په نظر کې نيول شوی دی. ددې څېړنې ډېټا لومړنۍ او دوهمي ده چې د احتمالي نمونې څخه د ساده تصادفي نمونه کارول شوې ده چې له ۳۰۰ کسانو څخه لومړنۍ ډېټا راټوله شوې چې د څېړنې پايله ښيي چې ډيجيټل بازارموندنه لکه ټولنيزې رسنۍ بازارموندنه، موبايل بازارموندنه د مصرف کوونکي د پېر په تصميم باندې ډېر تاثير کوي (Al-azzam & Mizeed, 2021). د ادراک شوي ګواښ رول د پېر تصميم کې د هغو مصرف کوونکو په پار چې انلاين پېر تکنالوژي استفاده کوي ددې څېړنې د ترسره کولو په پار ۳۸۵ کسانو څخه د تصادفي نمونې په استفادې سره ډېټا راټوله شوې ده چې پايله يې واضيح کوي چې د درک شوي ګواښ او انلاين پېر تصميم ترمنځ معنالرونکې اړيکه شتون لري او کچيرته انلاين پېر کميږي د درک شوي ګواښ زياتوالی رامنځته کوي (Gazali & Y. S. Suyasa, 2019).

د قيمت او توليد د بيا کتنې د تاثير تحليل پر انلاين پېر په تصميم باندې چې دا څېړنه هم د پوښتنليک په مرسته راټوله شوې ډېټا يعني لومړنۍ ډېټا باندې ترسره شوې ده.د ۱۲۰ کسانو څخه د هدفي نمونې ميتود له مخې د هغو کسانو څخه چې انلاين پېر او پلور کوي بالخصوص د کرونا کويډ ۱۹ په وخت کې په اندونيزيا هيواد کې ترسره شوې چې د څېړنې پايله ښيي د توليد او قيمت بياکتنه په کمه اما موازي توګه انلاين د پېر تصميم باندې اثر کوي (Aisyah, fitri, & syahbudin, 2021). د ټولنيزو رسنيو د بازارموندنې تاثير د پېر په تصميم نيونه څېړنه کې د دوو بيلابيلو پوښتنليکونه څخه په استفادې سره د

کوکران فورمول په اساس د ۴۲ کسانو څخه د تصادفي نمونې له مخې ډېټا راټوله شوې ده دا چې ریګرسیون ضریب د ټولو تبلیغاتي ابعادو تر ۰،۰۵ څخه کوچنی دی نو ټول دا ابعاد د مشتریانو یا مصرف کوونکو د پېر په اراده باني مثبت تاثیر لري (Mohammadi, 2024). په الکترونیک پېر کې د مصرف کوونکو د پېر تصمیم د تاثیر کوونکو عواملو بررسی څېړنې موخه د تطبیقي یا عملي ده چې د ۸۰۰ کسانو څخه چې د ټولنې یا جامعې حسابي برخه ګڼل کېدله له ۲۶۰ کسانو څخه د نمونې په ډول د پوښتنلیک په مرسته ډېټا راټوله شوې ده. د ډېټا د سپړنې په پای څرګندیږي چې بازارموندنې او فعالیت متغیرین په الکترونیکي پلورونکو اعتماد، قیمت، کیفیت او د ویب سایټ طرحه د انلاین پېر په تصمیم مثبت او معنالرونکی تاثیر لري په ختیځ آذربایجان کې چې د محصول یعني توکی او چوپړتیا کیفیت، ویب سایټ طرحه ترټولو زیات تاثیر درلود (نجفلو & موسوی, ۱۳۹۷).

د پلورنځیو د انځور تاثیر د مشتریانو د پېر په اراده باندې څېړنه چې د ساده تصادفي نمونې په استفادې سره ډېټا د ۲۱۱ کسانو څخه راټوله شوې چې د تحلیل پایله یې څرګندوي چې تاثیر د مشتریانو د اعتماد د پېر په اراده ډېر د درک شوي ګواښ څخه دی او همدارنګه د محصولاتو ډولونه د اعتماد وړ پلورنځیو، د مشتریانو درک شوي ګواښ او پېر اراده د هغوي ډېر تاثیر د ترفیعات، تسهیلات، چوپړتیاوو دي (سعیدا اردکانی & جهانبازی, ۱۳۹۴). د کرمان ښار د ټولو لاسي غالیو مشتریان یا پلورونکي تر عنوان لاندې څېړنه چې جامعه د ۱۰۰ کسان دي او دا د نمونې په ډول انتخاب او ډېټا د پوښتنلیک په مټ راټوله شوې چې ډېټا د سپړنې په پایله کې درک شوی ګواښ د مصرف کوونکو په رفتار او اراده باندې ۳۶٪ او ۲۷٪ تاثیر لري او رفتار د مشتریانو هم ۴۳٪ د پېر په اراده باندې تاثیر کوي (اردکانی, ۱۳۹۹). د انلاین پېر تصمیم تاثیر پر انلاین پېرودونکو په پلور باندې عنوان باندې څېړنه ترسره شوې ده چې له ۱۰۰ کسانو څخه معلومات راټول شوي دي او موخه د څېړنې هم دا ده چې څرګند کړي چې د ګډو متحولینو تاثیر او الکترونیکي مصطلح په پېر په تصمیم باندې اندازه کړي ددې وضاحت په پار یې څو بعدي ریګرسیون استفاده کړی او نتیجه یې څرګندوي چې بازارموندنه، د پېر وده، انلاین مصطلح مثبت تاثیر په انلاین پېر په تصمیم باندې لري (heranati, Amalia, perdana, & fahmi, 2020). د تصمیم نیونې پروسې اړوند د ستراتیژیو انتخاب تر عنوان لاندې څېړنه چې پایله یې څرګندوي چې څومره چې معلومات د موضوع اړوند زیات وي نو کولای شو غوره نتیجه ولري یا هم مطمین واوسو (ملک جعفریان, ۱۳۹۲).




شکل ۲: د الکترونیک تجارت ډولونه

تصمیم عبارت دی د یوې ستونزې اړوند د بیلابیلو متبادلو حل لارو پیدا کول، د متبادلو ارزونه او د یوه داسې چې په ټولو کې غوره وي انتخاب ته وایی او په پیر کې تصمیم بیا دا معنا لري چې مونږ د توکی یا چوپړتیا د پیر لپاره تصمیم لرو چې رانیسو او کنه او د تصمیم نیونې په پار بیلابیل تخنیکونه کارول کیږي. د پیر تصمیم نیونه له پنځو مرحلو متشکیله ده.




شکل 3: د تصمیم نیوونې پروسه

جدول۲: ډیموګرافیکي معلومات

| متحولین | فریکونسی | فیصدی |
|---|---|---|
| جنسیت | | |
| نارینه | 178 | 100 |
| ښځینه | 0 | 0 |
| تجربه | | |
| 1-5 | 26 | 23.6 |

| | | |
|---|---|---|
| 5-10 | 30 | 27.3 |
| 10-15 | 32 | 29.1 |
| 15-20 | 18 | 16.4 |
| 20-25 | 3 | 2.1 |
| څخه ډیر25 | 1 | 0.9 |
| سن | | |
| 20-30 | 44 | 24.7 |
| 30-40 | 79 | 44.4 |
| 40-50 | 50 | 28.1 |
| 50-60 | 5 | 2.8 |
| تحصیل | | |
| ۱۲ پاس | 47 | 26.4 |
| ۱۴ پاس | 70 | 39.3 |
| لیسانس | 46 | 25.8 |
| ماستر | 10 | 5.6 |
| دکتور | 5 | 2.8 |
| سکتور | | |
| دولتی | 111 | 62.35 |
| خصوصی | 67 | 37.65 |
| مجموعه | 178 | 100.0 |

په پورته جدول کې چې د څېړنې تشریحي احصایه ذکر شوې چې په دې احصایه کې ګډون کونکي ټول نارینه دي چې ۱۰۰ فیصده تشکیل کوي، کاري تجربه هم په دې پوښتنلیک کې ځای پرځای شوې چې تجربه د ۱-۵ کال پورې ده ۲٦ تنه دي چې ۲۳.٦ فیصده کېږي او د ۵-۱۰ کالو پورې چې تجربه لري ۳۰ تنه دي چې ۲۷.۳ فیصده جوړوي او د۱۰-۱۵ کالو پورې چې تجربه لري ۳۲ تنه دي چې

۲۹.۱فیصده جوړوي او د ۱۵-۲۰ کالو پورې چې تجربه لري ۱۸ تنه دي چې ۱۶.۴ فيصده جوړوي او د ۲۰-۲۵ کالو پورې چې تجربه لري ۳ تنه دي چې ۲.۱ فیصده جوړوي او د ۲۵ کالو څخه ډيره تجربه لري ۱ تنه دي او همدارنگه هغه کسان چې دکتورا لري ۵ تنه دي چې ۲.۸ فيصده جوړوي او همدارنگه چې په کوم سکتور کې کار کوي هغه کسان چې په دولتي سکتور کې دنده لري ۱۱۱ تنه دي چې ۶۲.۳۵ فيصده کيږي او هغه کسان چې په خصوصي سکتور کې دنده لري او په دې څيړنه کې برخه اخستې ټول ۶۷ تنه دي چې ۳۷.۶۵ فيصده د ټول ټال جوړوي.هر متحول بايد په کاميونليټي کې د Extraction په ستون کې د هرې افادې ارزښت د ۰.۵ څخه ډير وي. کچيرته داسې متحول شتون ولري چې ارزښت يې په ذکر شوي ستون کې د ۰.۵ ارزښت څخه کم وي هغه بايد لرې شي. څرنگه چې په دې جدول کې د ټولو افادو ارزښتونه د ۰.۵ څخه لوي دي نو دا په ډاگه کوي چې دا ډېټا د عاملي سپړنې په پار د اعتبار وړ ده.

جدول ۳: د څېړنې د اصلي متغيرنو ټاکنه د هغوي د فرعي متغيرنو

| اصلي متغير | د اصلي متغير ټاکونکي عوامل(فرعي متغيرين) | ټاکونکی وزن | N |
|---|---|---|---|
| مالی درک شوی گواښ | pr1 | 0.47 | 178 |
| | pr2 | 0.53 | 178 |
| | pr3 | 0.63 | 178 |
| | pr4 | 0.67 | 178 |
| | pr5 | 0.72 | 178 |
| د تولید درک شوی گواښ | pr6 | 0.57 | 178 |
| | pr7 | 0.83 | 178 |
| | pr8 | 0.73 | 178 |
| | pr9 | 0.68 | 178 |
| | pr10 | 0.65 | 178 |
| امنيتي درک شوی گواښ | pr11 | 0.59 | 178 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | pr12 | 0.66 | **178** |
| | pr13 | 0.83 | **178** |
| | pr14 | 0.58 | **178** |
| | pr15 | 0.67 | **178** |
| د وخت درک شوی گواښ | p16 | 0.61 | **178** |
| | pr17 | 0.81 | **178** |
| | pr18 | 0.74 | **178** |
| | pr19 | 0.68 | **178** |
| ټولنیز درک شوی گواښ | pr20 | 0.59 | **178** |
| | pr21 | 0.64 | **178** |
| | pr22 | 0.79 | **178** |
| | pr23 | 0.57 | **178** |
| رواني درک شوی گواښ | pr24 | 0.66 | **178** |
| | pr25 | 0.69 | **178** |
| | pr26 | 0.73 | **178** |
| | pr27 | 0.68 | **178** |
| د انلاین پېر اراده | PI28 | 0.58 | **178** |
| | PI29 | 0.59 | **178** |
| | PI30 | 0.69 | **178** |
| د انلاین پېر تصمیم نیونه | PD31 | 0.63 | **178** |
| | PD32 | 0.65 | **178** |
| | PD33 | 0.61 | **178** |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | PD34 | 0.68 | **178** |
| | PD35 | 0.75 | **178** |
| | PD36 | 0.71 | **178** |
| | PD37 | 0.77 | **178** |

جدول۴: (KMO)او بارتلت اړوند ټیستونو پایلي

| **د KMO عددي ارزښت** | کای مربع د بارتلت لپاره | د آزادی درجه | معناداري |
|---|---|---|---|
| **.782** | 2584.930 | 666 | .000 |

پورتنی جدول څرګندوي چې، د KMO عددي مقدار له ۰،۷۸۲ سره برابر دی چې دا د نمونې د حجم د کفایت په معنی دی او د الفا د ۰،۰۵ په پام کې نیولو سره د کرویت بارتلت مقدار هم معنی دار دی؛ ښکاره کوي چې د څېړنې په ټولنه کې د ډاټا تر منځ ترلتیا صفر نده ، نو بناءً د څېړنې تحلیلي عامل د همدې ترلتیا په بنسټ د توجیه وړ دی.

جدول۵: د متحولینو د برخو تحلیل

| | Total | % of Variance | Cumulative % | Total | % of Variance | Cumulative % | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 5.639 | 15.241 | 15.241 | 5.639 | 15.241 | 15.241 | 5.337 |
| 2 | 5.063 | 13.685 | 28.926 | 5.063 | 13.685 | 28.926 | 5.292 |
| 3 | 2.368 | 6.399 | 35.325 | 2.368 | 6.399 | 35.325 | 2.576 |
| 4 | 1.602 | 4.330 | 39.655 | 1.602 | 4.330 | 39.655 | 1.526 |
| 5 | 1.493 | 4.036 | 43.691 | 1.493 | 4.036 | 43.691 | 1.409 |
| 6 | 1.461 | 3.950 | 47.641 | 1.461 | 3.950 | 47.641 | 1.614 |
| 7 | 1.401 | 3.787 | 51.428 | 1.401 | 3.787 | 51.428 | 1.392 |
| 8 | 1.282 | 3.465 | 64.893 | 1.282 | 3.465 | 54.893 | 1.432 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 9 | .675 | 3.172 | 58.065 | 1.174 | 3.172 | 58.065 | 1.300 |
| 10 | .514 | 3.098 | 61.163 | 1.146 | 3.098 | 61.163 | 1.319 |
| 11 | .728 | 2.967 | 64.129 | 1.098 | 2.967 | 64.129 | 1.316 |
| 12 | .818 | 2.886 | 67.015 | 1.068 | 2.886 | 67.015 | 1.390 |
| 13 | .886 | 2.818 | 69.834 | 1.043 | 2.818 | 69.834 | 1.149 |
| 14 | .952 | 2.572 | 72.406 | | | | |
| 15 | .886 | 2.396 | 74.801 | | | | |
| 16 | .818 | 2.212 | 77.013 | | | | |
| 17 | .803 | 2.171 | 79.183 | | | | |
| 18 | .728 | 1.967 | 81.151 | | | | |
| 19 | .697 | 1.883 | 83.034 | | | | |
| 20 | .675 | 1.823 | 84.857 | | | | |
| 21 | .581 | 1.570 | 86.427 | | | | |
| 22 | .569 | 1.537 | 87.964 | | | | |
| 23 | .514 | 1.389 | 89.353 | | | | |
| 24 | .467 | 1.261 | 90.614 | | | | |
| 25 | .426 | 1.153 | 91.767 | | | | |
| 26 | .411 | 1.112 | 92.879 | | | | |
| 27 | .375 | 1.014 | 93.893 | | | | |
| 28 | .323 | .873 | 94.766 | | | | |
| 29 | .318 | .858 | 95.624 | | | | |
| 30 | .284 | .768 | 96.392 | | | | |
| 31 | .261 | .706 | 97.099 | | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 32 | .233 | .629 | 97.728 | | | | |
| 33 | .228 | .617 | 98.345 | | | | |
| 34 | .198 | .535 | 98.880 | | | | |
| 35 | .165 | .445 | 99.325 | | | | |
| 36 | .138 | .373 | 99.698 | | | | |
| 37 | .112 | .302 | 100.000 | | | | |

Extraction Method: Principal Component Analysis.

لکه څرنګه چې په پورته جدول کې ليدل کيږي چې ځانګړی ارزښت د آتو فکتورونو د ۱ څخه لوی او نور د يو څخه کوچني دي نو دا په ډاګه کوي چې په دې څېړنه کې آتو متحولينو شتون لري چې دقيقا همداسې ده چې مخکې هم همدغه اندازه متحولين معرفي او توزيع شوي وو. ددې سربيره، د پورته جدول په اساس مجموعي وريانس دټولو متحولينو تر ۶۰ لوړ دی.

جدول ٦: د فرضيو د آزموينت واحد جدول

| ماډل | بيتا | اهميت | حالت |
|---|---|---|---|
| د انلاين پېر ارادې د فرضيو آزموينت | | | |
| مالی درک شوی ګواښ | ۰.۰۹۴- | ۰.۳۸ | رد |
| د توليد درک شوی ګواښ | ۰.۱۳۳ | ۰.۲۵۸ | رد |
| امنيتي درک شوی ګواښ | -۰.۰۷۲ | ۰.۵۷۹ | رد |
| د وخت درک شوی ګواښ | ۰.۰۲۰ | ۰.۸۷۰ | رد |
| ټولنيز درک شوی ګواښ | -۰.۱۱۵ | ۰.۳۸۵ | رد |
| ارواه پوهني درک شوی ګواښ | ۰.۰۴۹ | ۰.٦۱۴ | رد |
| د انلاين پېر تصميم د فرضيو آزموينت | | | |
| مالی درک شوی ګواښ | -۰.۰۳۳ | ۰.٦۸۰ | رد |
| د توليد درک شوی ګواښ | ۰.۰۰۲ | ۰.۹۸۴ | رد |

| | | | |
|---|---|---|---|
| امنيتي درک شوی گواښ | -۰.۱۰۶ | ۰.۲٦٦ | رد |
| د وخت درک شوی گواښ | ۰.۱۲۳ | ۰.۱۷۴ | رد |
| ټولنيز درک شوی گواښ | -۰.۲۰۹ | ۰.۰۳۴ | تائيد |
| ارواه پوهنې درک شوی گواښ | ۰.۰۹٦ | ۰.۱۸۰ | رد |

**۴ـ مناقشه**

په هر هيواد کې د پېر او پلور په تړاو ادراک او تصميم نيونه ډېر اهميت لري نو په همدې پار دا څېړنه ددې په منظور چې ادراک شوی گواښ تاثير په ليکه پېر په اراده او د پرليکه پېر تصميم باندې څېړل شوې چې دا څېړنه نسبت نورو څېړنو ته چې په مخينه کې ځای پرځای شوې دي په مقايسوي شکل اشاره شوې چې د بيلگې په توگه د مالي گواښ، د توليد گواښ، امنيتي گواښ، د وخت گواښ، ټولنيز گواښ او رواني گواښ تاثيرات په پرليکه پېر په اراده او په پرليکه پېر په تصميم څېړل شوي دي چې په دې څېړنه کې ټول ذکر شوي گواښونه مستقل متحولين او پرليکه د پېر اراده او پرلکيه د پېر تصميم وابسته متحولين دي چې ددې څېړنې بنياد او بنسټ جوړي. چې په ټوله کې ددې څېړنې بنسټ جوړوي همدارنگه په دې څېړنه کې بيلا بيلو څېړنو ته په مخينه کې کتنه شوې چې په مقايسه وي شکل به دلته وړاندې شي چې زمونږ څېړنه د کومو څېړنو سره ورته والی لري او د کومو څېړنو سره توپير لري او دا توپير ولې رامنځ ته شوی دی د نمونې په ډول سره د ماليزيا په کلنگ والی کې د ادراک شوي گواښ تاثير د انلاين يا پر ليکه د پېر په اراده تر عنوان لاندې څېړنه ترسره شوي چې فاعلي نورم او علاقه د منځگړی او کنترول په ډول په اړيکه کې رول لري؛ راټوله شوې ډېټا يې د سروې په مرسته د ۲۵۰ کسانو څخه را ځواب کړې، ډېټا د اس پی اس اس په مرسته سپړل شوې او ښودل شوې چې درک شوی گواښ پر انلاين پېر په اراده باندې منفي اغيز کوي او علاقه مثبت تاثير لري د منځگړي متحول په حيث يعني علاقه د درک شوي گواښ او انلاين پېر په اراده باندې مثبت اغيزه کوي بلکې د فاعلي نورم کچې د کميدو سره د ادراک شوي گواښ او انلاين پېر اراده ترمنځ اړيکه قوي کيږي (Mei Siu & Ismail, 2022). د انلاين بيا کتنې تاثير د انلاين پېر په اراده باندې تر عنوان څېړنه د ترتيب شوي پوښتنليک په مرسته د ۱۲۳ کسانو څخه د ساده تصادفي نمونې په استفادې سره ډېټا راټوله شوې او پايله يې څرگندوي چې انلاين باکتنه د انلاين پېر په اراده باندې ډېر تاثير کوي (Ramadhan, wisnu, & nugroho, 2022). د ادراک شوو گواښونو د تاثير بررسی د انلاين پېر په رفتار، دا يو توصيفي څېړنه ده چې د پوښتنليک په مرسته د ۳٦۹ کسانو څخه چې انلاين پېر او پلور کوي ډېټا راټوله کړې ده او د تحليل څخه وروسته پايله يې ښيي چې د پلورونکو د ويب سايت د بازارموندنې ستراتيژيگانې امنيت گواښ او کيفيت په گواښ باندې مثبت او معنالرونکی تاثير لري او همدارنگه د ويب سايت د امنيت گواښ او کيفيت گواښ د ويب سايټ د مصرف کوونکو په اعتماد باندې هم مثبت او معنالرونکي تاثير لري او په پای

کې د ویب سایټ مصرف کوونکو اعتماد د پېر په تمایل باندې مثبت اومعنا لرونکی تاثیر لري (خوش سیما, ملکمي, & مومنی, ۲۰۱۷) او ددې سربیره د تولید ادراک شوی ګواښ مثبت او معنی لرونکی تاثیر لري او رواني ادراک شوی ګواښ مثبت او معنی لرونکی تاثیر لري چې د پورته ترسره شوو څېړنو سره په دغه دوه مثبتو تاثیرونو کې یوبل ته ورته والی لري یعني دا څېړنه ددغو څېړنو سره هم ورته والی لري.
 مونږ په دې څېړنه کې د تولو موثره عواملو له جملې څخه مو د څېړنې د په پام کې نیولو سره مونږ درک شوي ګواښ دا برخې لکه مالي ګواښ، تولید ګواښ، امنیتي ګواښ، د وخت ګواښ، ټولنیز ګواښ، رواني ګواښ تر تحلیل لاندې نیولي دي. چې مالیادراک شوي ګواښ په پرلیکه پېر په اراده باندې منفي تاثیر لري خو معنادار ندی څکه چې (p>0.05)، همدارنګه فرض شوې وه چې د تولید ادراک شوی ګواښ هم د پېر په پرلیکه اراده باندې منفي تاثیر لري خو د څېړنې نتیجه ښیي چې دا تاثیر منفي دی څکه چې (p>0.05). د ټولنیز ادراک شوي ګواښ اړوند فرضیه هم منفي تاثیر لري خو معنا لرونکی ندی څکه چې (p>0.05) . د وخت ادراک شوی ګواښ د فرضیې سره چې منفي تاثیر لري ولې څېړنه څرګندوي چې دا تاثیر یې مثبت اما معنالرونکی ندی څکه چې (p>0.05). او رواني ادراک شوی ګواښ د فرضیې خلاف مثبت اما معنالرونکی ندی څکه چې (p>0.05) او امنیتي ګواښ چې فرضیه یې منفي ذکر شوې وه ولې نتیجه ک هم منفي تاثیر لري خو معنالرونکي تاثیر ندی څکه چې (p>0.05).
 ددې علاوه د ذکر شوو ادراک شوو ګواښونو تاثیرونه په پرلیکه پېر په تصمیم باندې په لاندې شکل سره دي چې مالی ادراک شوي ګواښ په پرلیکه پېر په تصمیم باندې منفي تاثیر لري خو معنادار ندی نو (p>0.05).، همدارنګه فرض شوې وه چې د تولید ادراک شوی ګواښ هم د پېر په پرلیکه تصمیم باندې منفي تاثیر لري خو د څېړنې نتیجه ښیي چې دا تاثیر مثبت اومعنا لرونکی نه دی (p>0.05) . د ټولنیز ادراک شوي ګواښ اړوند فرضیه هم منفي تاثیر لري خو معنا لرونکی دی (p<0.05). د وخت ادراک شوی ګواښ د فرضیې سره چې منفي تاثیر لري ولې څېړنه څرګندوي چې دا تاثیر یې مثبت اما معنالرونکی ندی (p>0.05). او رواني ادراک شوی ګواښ د فرضیې خلاف مثبت او معنالرونکی (p>0.05)نه دی یعني د پرلیکه پېر په اراده کې یې تاثیر معنالرونکی وو او امنیتي ګواښ چې فرضیه یې منفي ذکر شوې وه ولې نتیجه کې هم منفي تاثیر لري خو معنالرونکي تاثیر ندی (p>0.05) . دا چې پدې څېړنه کې دا اهداف تعیین شوي وو چې زمونږ په افغاني ټولنه کې هم انلاین کاراوبار د ودې په حال کې دی نو ددې څېړنې اصلي موخه هم په افغانستان کې باالخصوص کابل ښار، پنځمه ناحیه کې د درک شوي ګواښ تاثیر د انلاین پېرود پر اراده او تصمیم باندې درلودلو کچه څرګندول دي چې دهر متحول د ابعادو اړوند جزوي فرضیو له ازمویښت څخه دا دا څرګنده شوه چې ذکر شوي ګواښونه د انلاین پېر په اراده او تصمیم باندې په ټوله کې منفي تاثیر لري یعني اصلي موخه ترلاسه شوې ده او د ادراک شوي ګواښ او انلاین پېرود ارادې ترمنځ اړیکه منفي ده ، د ادراک شوي ګواښ او انلاین پېرود تصمیم ترمنځ اړیکه هم منفي ده.

**۵- پایله اخیستنه**

له وروستیو څو لسیزو څخه را پدیخوا په گران هیواد افغانستان کې پرلیکه پېر او پلور مخ په ودې دی نو په همدې پار دا څېړنه په همدې سکالو ترسره شوې ده چې هېواد والو د پرلیک پېر او پلور په تړاو موضوعات روښانه وي چې دې څېړنه کې د مالي گواښ، تولید گواښ، امنیتي گواښ، د وخت گواښ، ټولنیز گواښ، رواني گواښ تاثیرات په پرلیکه پېر په اراده او د پرلیکه پېر په تصمیم باندې څېړل شوي دي چې په اول قدم کې د پوښتنلیک اعتبار ترلاسه او چې تر تحلیل ورسته ددې متحولینو اعتبار په ټولیز شکل سره د ۶۰ عدد څخه ډېر دی چې دا مونږ ته ښی چې پوښتنلیک په کلی شکل د اعتبار وړ دی او همدارنگه د KMO عددي مقدار له ۰،۷۸۲ سره برابر دی چې دا د نمونې د حجم د کفایت په معنی دی او د الفا د ۰،۰۵ په پام کې نیولو سره د کرویت بارتلت مقدار هم معنی دار دی؛ ښکاره کوي چي د څیړني په ټولنه کې د ډاتا تر منځ تړلتیا صفر نده ، مونږ په دې څېړنه کې د تولو موثره عواملو له جملې څخه مو د څیړني د په پام کې نیولو سره مونږ یواځي مالي گواښ، تولید گواښ، امنیتي گواښ، د وخت گواښ، ټولنیز گواښ، رواني گواښ تر تحلیل لاندې نیولي دي.

درک شوو گواښونو تاثیرونه په پرلیکه پېر په تصمیم باندې په لاندې شکل سره دي چې مالی ادراک شوي گواښ په پرلیکه پېر په تصمیم باندې منفي تاثیر لري خو معنادار ندی نو ($p>0.05$).، همدارنگه فرض شوې وه چې د تولید ادراک شوی گواښ هم د پېر په پرلیکه تصمیم باندې منفي تاثیر لري خو د څیړنې نتیجه ښیي چې دا تاثیر مثبت اومعنا لرونکی دی ($p<0.05$) . د ټولنیز ادراک شوي گواښ اړوند فرضیه هم منفي تاثیر لري خو معنا لرونکی ندی ($p>0.05$). دا چې پدې څېړنه کې دا اهداف تعیین شوي وو چې زمونږ په افغاني ټولنه کې هم انلاین کاراوبار د ودې په حال کې دی نو ددې څیړنې اصلي موخه هم په افغانستان کې باالخصوص کابل ښار کې د درک شوي گواښ تاثیر د انلاین پېرود پر اراده او تصمیم باندې درلودلو کچه څرگندول دي چې د پورته فرضیو په اساس دا څرگنده شوه چې ذکر شوي گواښونه د انلاین پېر په اراده او تصمیم باندې په ټوله کې منفي تاثیر لري یعني اصلي موخه ترلاسه شوې ده او د ادراک شوي گواښ او انلاین پېرود ارادې ترمنځ اړیکه منفي ده ، د ادراک شوي گواښ او انلاین پېرود تصمیم ترمنځ اړیکه هم منفي ده. $0PD=4.09-0.20\ SRISK+0.096\ PSR-0.033\ FR+0.002\ PR-0.10\ SR+0.12\ TR$ څرنگه چې په ماډل کې ثابت عدد ۴.۰۹ دی نو دا څرگندوي چې کچیرته ذکر شوي گواښونو شتون ولری نو بیا هم پرلیکه پېر تصمیم شتون لري. همدارنگه یو سلنه تغیر امنیتي گواښ کې د ۰.۲۰ په اندازه د انلاین پېر د تصمیم باندې تاثیر کوي، یو سلنه تغیر د رواني تغییر کې د ۰.۰۹۶ سلنه تغییر په پرلیکه پېر په تصمیم کې رامنځته کیږي، یو سلنه تغییر په مالی گواښ کې د ۰.۰۳۳ سلنه په پرلیکه د پېر په تصمیم منفي تاثیر لري، د تولید گواښ کې یو سلنه تغییر د ۰.۰۰۲ سلنه په اندازه د انلاین تصمیم کې د زیاتوالی سبب کیږي او یو سلنه تغییر د وخت په گواښ کې د ۰.۱۲ سلنه په انلاین پېر په تصمیم کې زیاتوالی راولي.

**٦ـ اخځلیکونه**

ترنتي دیجی کالا .(کنفرانس ملی الگوهای نوین در مدیریت کسب وکار با رویکرد حمایت از کارآفرینان ملی .pp)١-١٦ .(ایران: اس ای دی.

ستراتیژیک پلان کمېټه) .۱۴۰۱ .(ستراتیژیک پلان .پکتیکا: پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه.

سعیدا اردکانی, س & ,.جهانبازی, ن) .۱۳۹۴ .(تاثیر تصویر فروشگاه بر قصد خرید مشتریان اعتماد، و ریسک درک شده به عنوان متغیر های تعدیل کننده .فصلنامه علمی- پژوهشی تحقیقات بازاریابی نوین , ۵۳-۷۲.

شهرکی پور, ح. (۱۳۹۱). عوامل موثر بر افزایش کیفیت اموزشي دوره های کارشناسي ارشد دانشگاه ازاد دانشگده علوم تربیتي. پژوهش دربرنامه ریزي درسی, ۲(۹), ۱۱۸-۱۲۴.

شهرکی پور, ح. (1391). عوامل موثر برکیفیت آموزشی دوره های کارشناسی ارشد. دانشگاه آزاد دانشکده علوم تربیتی, 9(2), 118-124.

شهرکی پور, ح. (1391). عوامل موثر برکیفیت آموزشی دوره های کارشناسی ارشد . دانشگاه آزاد دانشکده علوم تربیتی , 9(2), 118-124.

شیرخدای, م.,قاسمی همدانی,ا & ,.حبیب نژاد لوجندی, س) .۱۳۹۵ .(بررسی تاثیر ارزش جمع کرایي، اعتماد، کیفیت و ریسک درک شده در قصد مصرف کننده به خرید محصولات ارگانیک(مطالعه ی موردی: مصرف کنندگان محصولات ارگانیک استان هرمزگان) .پژوهش فرهنگی هرمزگان- فصلنامه علمي-ترويجي ,١-١٧.

صوری, م., حنیفی, ف., & ناظم, ف. (۱۳۹۹). بررسي وضعیت عوامل موثر بر کیفیت آموزشي در مدارس ابتدایی شهر تهران. تحقیقات مدیریت آموزشی, ۱(۱۲), ۲۷۷-۳۰۶.

عارفي , م., زندي , خ & ,.شهودي , م) .۱۳۹۰ .(بررسي کیفیت رشته علوم تربیتی در دانشگاه کردستان بر اساس مدل های کانو و گسترش عملکرد کیفیت .اندیشه های نوین تربیتی ,۳)۸ ,(۱۲۵-۱۵۰.

عدلیې وزارت) .۱۳۹۸ .(د ملکي لوړو زد ه کړو قانون .کابل: رسمي جریده.

غنچي , م., حسیني, س & ,.حجازي , ی) .۱۳۹۱ .(شناسايي و رتبه بندي مؤلفه های تبیین کننده کیفیت تدریس از دیدگاه اساتید پردیس های کشاورزي دانشگاه تهران .مجله پژوهش های ترویج و آموزش کشاورزی ,۳)۵ ,(۳۱-۴۱.

فدایی بازقلعه, س & ,.غریبی, ح) .۱۴۰۰ .(تاثیر بازاریابی انترنیتی بر ریسک ادراک شده و اعتماد مشتری به خرید اینترنیتی مورد مطالعه: فروشگاه اینترنیتی دیجی کالا .فصلنامه رویکرد های پژوهشی نوین در مدیریت وحسابداري ,۱-۱۹.

Abdigapbarova, U., & Zhiyenbayeva, N. (2022). Organization of Student-Centered learning within the Professional Training of a future teacher in a Digital Environment. Education and Information Technologies. doi:doi.org/10.1007/s10639-022-11159-5

BABURY, M., & HAYWARD, F. (2014). Afghanistan Higher Education:The Struggle for Quality, Merit, and Transformation. Planning for Higher Education Journal, 1-32.

Krishnan, S. (2015). Student-Centered Learning in a First Year Undergraduate Course. International Journal of Learning, Teaching and Educational Research, 88-95.

Raluca, g. (2015). Electronic word of mouth. advance journal of marketing , 43-56.

Zohrabi, M., Torabi, M., & Baybourdiani, P. (2012). Teacher-centered and/or Student-centered Learning:English Language in Iran. English Language and Literature Studies, 18-30. doi:10.5539/ells.v2n3p18

Abarna, K., Vijayalakshmi, v., & Andal, V. (2023). Impact of risk and trust on the purchase decision of online shopping customers . international journal of professional business review, 1-10.

Abraham Silberschatz, H. F. .(2019) Database System Concepts7) th .(نسخۀ New York: McGraw-Hill.

Aisyah, fitri, a., & syahbudin, f. (2021). Analysis of the effect of price and product reviews on online purchasing decisions through shopee in the midst of the covid 19 pendemic. jurnal ekonomi dan perbankan syariah, 17-47.

Al-azzam, a., & Mizeed, K. (2021). The effect of digital marketing on purchasing decisions: a case study in jordan. journal of asian finance, economics, and business, 453-462.

Amaral, F. G., & Cipolla-Neto, J. (2018). A brief review about melatonin, a pineal hormone. Arch Endocrinol Metab, 62(4), 472-9. doi:10.20945/2359-3997000000066

Andrew S.Tanenbaum, M. V. .(2007) Distributed Systems Principles and Paradigms2) nd .(نسخۀ NJ United States of America: PEARSON.

andrian, a., & Selamat, F. (2021). the influence of consumer's percieved risk on consumer's online purchase intention in indonesia. Advances in social science< educational and humaniites research, 669-677.

Andrian, A., & Selamat, F. (2021). the influences of consumers percevied risk on consumers online purcjase intention in idoneisa. advances in social scienc, education, and humanties research , 669-678.

Arnao, M. (2014). Phytomelatonin: Discovery, Content and role in Plants. Advances in Botany, 2, e815769. doi:https://doi.org/10.1155/2014/815769

Arnao, M. B., & Hernández-Ruiz, J. (2006). The Physiological Function of Melatonin in Plants. Plant Signaling & Behavior, 1(3), 89-95. doi:10.4161/psb.1.3.2640

Arnao, M. B., & Hernández-Ruiz, J. (2008). Protective effect of melatonin against chlorophyll degradation during the senescence of barley leaves.

Journal of Pineal Research, 46(1), 58- 63. doi: 10.1111/j.1600-079X.2008.00625.x
Arnao, M. B., & Hernandez-Ruiz, J. (2018). Melatonin: A new plant hormone and/or a plant master regulator? Trends in Plant Science, 24(1), 38-48. doi:http://doi.org/10.1016/j.tplants.2018.10.010
Arnao, M., & Hernández-Ruiz, J. (2014). Melatonin: plant growth regulator and/or biostimulator during stress? Trends in Plant Science, 19(12), 789- 97. doi:10.1016/j.tplants.2014.07.006
Arnao, M., & Ruiz, J. H. (2018). Melatonin and its relationship to plant hormones. Annals of Botany, 121(2), 195- 207. doi:10.1093/aob/mcx114
Bachurin, S. (2001). Medicinal chemistry approaches for focused search of agents for Alzheimer's disease treatment and prevention. Medicinal Research Reviews, 23(1), 195- 7.
Badria, F. A. (2002, Jul` 7). Melatonin, serotonin, and tryptamine in some Egyptian food and medicinal plants. Journal of Medicinal Food, 5(3), 153- 7. doi:10.1098/10966200260398189.
Bajwa, V., Shukla, M., Sherif, S., Murch, S., & Saxena, P. (2014). Role of melatonin in alleviating cold stress inArabidopsis thaliana. Journal of Pineal Research, 56(3), 238- 45. doi:10.1111/jpi.12115
Balogh, z., & Meszaros, K. (2020). consumer perceived risk by online purchasing: the experiences in Hungary. sciendo, 14-26.
Billing, D. (2004). International Comparisons and trends in External Quality assurance of Higher Education: Commonality or Diversity. Higher Education, 52(4), 687-709.
Brennan, J., & Shah, T. (2000). Quality assurance and Institutional change: Experiences from 14 Countries. Higher Education, 40(3), 331- 349.
Brennan, J., & Shah, T. (2010). Managing Quality in Higher Education. An International Prospictive on institutional Asessment and Change. Buckingham: srhe university press.
Brzezinski, A. .(1997) Melatonin in Humans. New England Journal of Medicine .95-186 ,(3)336 , doi:10.1056/NEJM199701163360306
Cai, S.-Y., Zhang, Y., Xu, Y.-P., Qi, Z.-Y., Li, M.-Q., Ahammed, G. J., . . . Zhou, J. (2017). HsfA1a upregulates melatonin biosynthesis to confer cadmium tolerance in tomato plants. Journal of Pineal Research, 62(2). doi:10.1111/jpi.12387
Caniato, R., Filippini, R., Piovan, A., Puricelli, L., Borsarini, A., & Cappelletti, E. M. (2003). Melatonin in Plants. In Advances in Experimental Medicine and Biology (Vol. 527, pp. 593-7).
Chan, Z., & Shi, H. (2015). Improved abiotic stress tolerance of bermudagrass by exogenous small molecules. Plant Signal Behav, 10(3), e991577. doi: 10.4161/15592324.2014.991577
Chen, L., Fan, J., Hu, Z., Huang, X., Amombo, E., Liu, A., . . . Fu, J. (2017). Melatonin Is Involved in Regulation of Bermudagrass Growth and Development and Response to Low K+ Stress. Front. Plant Sci, 8, 2038. Retrieved from https://doi.org/10.3389/fpls.2017.02038
Chen, t., samaranayake, p., cen, x., qi, m., & chen lan, y. (2022). The impact of online reviwes on consumers purchasing decision: evidence from an Eyei-tracking study. frontier in psychology, 1-13.

Chena, G., Huob, Y., Tanc, D.-X., Lianga, Z., Zhanga, W., & Zhang, Y. (2003). Melatonin in Chinese medicinal herbs. Life Sciences, 73(1), 19-26. Retrieved from https://doi.org/10.1016/S0024-3205(03)00252-2

cheng, y., huang, b., & zhong, j. (2023). the impact of online comments on other consumers purchase intention. internation conference of finance trade and business (pp. 569-571). Advances in economics business and management research.

Coto-Montes, A., & Hardeland, R. (1999). Antioxidative effects of melatonin in Drosophila melanogaster: Antagonization of damage induced by the inhibition of catalase. Journal of Pineal Research, 27(3), 154- 8. doi:10.1111/j.1600-079x.1999.tb00610.x

Debnath, B., Islam, W., Li, M., Su, Y., Lu, X., Mitr, S., . . . Qiu, D. (2019). Melatonin Mediates Enhancement of Stress Tolerance in Plants. Int J Mol Sci, 20(5), 1040. doi:10.3390/ijms20051040.

Durisova, M., Kucharcikova, A., & Tokarcikova, E. (2015). Assestment of Higher Education Teaching Outcomes (Quality of Higher Education). Procedia - social and Behavioral Sciences(116), 2085-2089.

Fan, J., Hu, Z., Xie, Y., Chan, Z., Chen, K., Amombo, E., . . . Fu, J. (2015). Alleviation of cold damage to photosystem II and metabolisms by melatonin in Bermudagrass. Front. Plant Sci, 6, 925. Retrieved from https://doi.org/10.3389/fpls.2015.00925

Fan, J., Xie, Y., Zhang, Z., & Chen, L. (2018). Melatonin: A Multifunctional Factor in Plants. International journal of Molecular Sciences, 19(5), 1528. doi:10.3390/ijms19051528

Farhan, A., Hurriyati, R., & hendrayati, h. (2024). The effect of word of mouth on purchase intention. 432-440.

Gao, W., Feng, Z., Bai, Q., He, J., & Wang, Y. (2019). Melatonin-Mediated Regulation of Growth and Antioxidant Capacity in Salt-Tolerant Naked Oat under Salt Stress. Int J Mol Sci, 20(5), 1176. doi: 10.3390/ijms20051176

Gazali, A., & Y. S. Suyasa, P. (2019). The role of the perceived risk on purchase decision use online shopping technology. Advances in social scinece, Education and humanities , 375-378.

George, j. (2004). the theory of planed behavior and internet purchasing. research gate, 45-67.

Gerber, C., Ward, S., & Goedhals-gerber, L. (2014). The impact of perceived risk on online purchase behavior. Risk governance of control financial markets and institutions, 99-107.

Gerhard Weikum, G. V. (2002). Transactional Information Systems Theory, Algorithms, and the Practice of Concurrency Control and Recovery. San Francisco, CANADA: Morgan Kaufmann Publishers.

Geven,, K., & Santa, R. (2010). Student Centered Learning:A survey on the views of national unions of students and higher education staff. European Comission.

Goyal, D., Yadav, A., Prasad, M., Singh, T. B., Shrivastav, P., Ali, A., . . . Mishra, S. (2020). Effect of Heavy Metals on Plant Growth: An Overview. In Contaminants in Agriculture (pp. 79- 101).

Hamiti, M., Reka, R., & Imeri, F. (2015). The Impact of Computer Components in Enhacing the Quality of Tceaching and Learning Process in Universities. Procedia - Social and Behavioral Sciences(191), 2422-2426.

Hansini Rathnasiri, M. (2022). Impact of perceived risk on female consumers online purchase intention towards apparel products. research gate, 94-107.

Hardeland, R. (2015). Melatonin in plants and other phototrophs: advances and gaps concerning the diversity of functions. Journal of Experimental Botany, 66(3), 627– 46. Retrieved from https://doi.org/10.1093/jxb/eru386

Hardeland, R. (2016). Melatonin in Plants – Diversity of Levels and Multiplicity of Functions. Frontiers in Plant Science, 7, 918. doi:10.3389/fpls.2016.00198

Hasan, M. K., Ahammed, G. J., Yin, L., Shi, K., Xia, X., Zhou, Y., . . . Zhou, J. (2015). Melatonin mitigates cadmium phototoxicity through modulation of phytochelatins biosynthesis, vacuolar sequestration, and antioxidant potential in Solanum lycopersicum L. Front. Plant Sci., 6, 601. doi:10.3389/fpls.2015.00601

Hazrati Havidz, H., & Mahaputra, M. (2020). Brand image and purchasing deccison: analysis of price, perception and promotion . Dinastipub publisher, 727-749.

heranati, R., Amalia, n., perdana, t., & fahmi, M. (2020). Study on online purchase decision on the online shopee selling site. Economics, bussines and governament challanges , 14-23.

Hernández-Ruiz, J., & Arnao, M. (2008). Melatonin stimulates the expansion of etiolated lupin cotyledons. Plant Growth Regulation, 55(1), 29- 34. doi:10.1007/s10725-008-9254-y

Hinton, P. R., McMurray, I., & Brownlow, C. (2014). SPSS explained. New York: Routledge.

Huizingh, E. (2007). Applied statistics with SPSS. London: Sage Publications.

Iqbal, W. (2019). IMPACT OF PERCEIVED RISK ON COSTUMERS ONLINE PURCHASE INTENTION TOWARDS BRANDED APPAERLS. JOURNAL OF MARKETING STRATEGIES, 38-62.

Iqbal, w. (2019). impact of perceived risk on customers online purchase intention towards branded apparels. journal of marketing strategies, 38-64.

ishak, s., & Sugiharto elgeka, H. (2023). purchase decision making inventory . jurnal psikologi, 283-303.

Jacoby, j. (1972). The components of perceivrd risk. research gate, 1-21.

jain, r., & kulhar, m. (2019). Barriers to online shopping. international journal of business information system, 51-67.

Judia, H., & Saharia, N. (2013). Student Centered Learning in Statistics: Analysis of Systematic Review. 13thInternational Educational Technology Conference (pp. 844-851). Social and Behavioral Sciences.

Jusuf, D., & Munandar, D. (2021). The effect of consumers behaviors and perception and perceived risk on purchase decision among online shop consumers. Trikonomilka, 91-98.

Karasek, M., & Winczyk, K. (2006). MELATONIN IN HUMANS. JOURNAL OF PHYSIOLOGY AND PHARMACOLOGY, 57, 19- 39. Retrieved from www.jpp.krakow.pl

Kolar, J., Johnson, C., & Machackova, I. (2003). Exogenously applied melatonin (N-acetyl-5-methoxytryptamine) affects flowering of the short-day plant Chenopodium rubrum. Physiologia Plantarum, 118(4), 605- 12. doi:10.1034/j.1399-3054.2003.00114.x

Kotler, p., Armstrong, g., & Balasubramanian, . (2024). Principle of marketing. In p. Kotler, g. Armstrong, & Balasubramanian, Principle of marketing (pp. 1-765). pearson.

Lee, H., Byeon, Y., & Back, K. (2014). Melatonin as a signal molecule

# په غزني ولایت کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ننګونې او فرصتونه

**لیکوال مسئول، فریدالله لعل زی**

دیپارتمنت: اداره تشبثات ، پوهنځی: اقتصاد، پوهنتون مسلم ، غزنی، افغانستان

ایمیل: Faridullahlalzai646@gmail.com

## لنډيز Abstract

کوچني او منځني کاروبارونه SMEs د غزني ولايت په اقتصاد کې د کارموندنې، عايد توليد او ټولنيز ثبات مهم بنسټ جوړوي، خو د دې سکتور فعاليت تر ډېره د سوداګرۍ او ساده راکړې ورکړې پر محور ولاړ دی، نه د بشپړ توليدي کاروبار Businessپر بنسټ، چې دا توپير د ارزښت زياتونې او دوامدارۍ ودې پر وړاندې محدوديت رامنځته کوي. دا څېړنه د همدې سکتور د واقعي ننګونو او بالفعل فرصتونو د ارزونې لپاره د سروې مېتود له لارې د ۸۰ کاروبارونو څخه معلومات راټول کړي او د SPSS په ذريعه معلوماتو ته په کتو د فريکونسي او فيصدي تحليل ترسره شوی دی. پايلې ښيي چې تر ټولو سترې بالفعل ننګونې مالي محدوديتونه، پورونو ته کم لاسرسی، د بازار محدوديت او زيربنايي ستونزې دي. په داسې حال کې چې بالفعل فرصتونه د کرنيزو ارزښتزنځيرونو پراختيا، لاسي صنايعو بازارموندنه، د بازارموندنې عصري لارې او د ډيجيټلي سوداګرۍ نسبي پراختيا دي. که څه هم بالقوه فرصتونه هم شته، خو د هغوی تحقق د پاليسي ملاتړ، زيربناوو پياوړتيا او مالي شموليت پورې تړلی دی. څېړنه په پای کې وړانديز کوي چې حکومت، خصوصي سکتور او پرمختيايي بنسټونه بايد د SME سکتور د پياوړتيا لپاره عملي او هدفمند اقدامات ترسره کړي.

**کليدي کلمې:** بازار ته لاسرسی؛ زيربناوې؛ ډيجيټلي سوداګري؛ غزني ولايت؛ مالي محدوديتونه؛ کوچني او منځني کاروبارونه

# Challenges and Opportunities of Small and Medium Businesses in Ghazni Province

**Responsible Author: Faridullah Lalzai**

**Affliction:** Department: Business Administration, Faculty: Economics, Muslim University, Ghazni, Afghanistan

**Email:** Faridullahlalzai646@gmail.com

## Abstract

Small and medium enterprises and Business (SMEs) constitute an important foundation for employment, income generation, and social stability in the economy of Ghazni Province; however, the activities of this sector are largely based on trade and simple transactions rather than on a fully production-based Business, and this distinction creates limitations for value addition and sustainable growth. This study, in order to assess the actual challenges and existing opportunities of this sector, collected data from 80 Businesses through a survey method, and, using SPSS, conducted frequency and percentage analysis of the data. The results show that the most significant existing challenges are financial constraints, limited access to loans, market limitations, and infrastructural problems. Meanwhile, the existing opportunities include the development of agricultural value chains, marketing of handicrafts, modern marketing methods, and the relative expansion of digital commerce. Although potential opportunities also exist, their realization depends on policy support, strengthening of infrastructure, and financial inclusion. The study finally suggests that the government, private sector, and development institutions should undertake practical and targeted measures to strengthen the SME sector.

**Keywords**: Market access; infrastructure; digital commerce; Ghazni Province; financial constraints; small and medium enterprises.

**۱ـ سريزه**

کوچني او منځني کاروبارونه (SMEs) په پرمختيايي اقتصادونو کې د اقتصادي ودې، د کارموندنې د زياتوالي او د عايد د توليد بنسټيز محرکات ګڼل کېږي. دا سکتور نه يوازې د اقتصادي تنوع سبب ګرځي، بلکې د خصوصي سکتور د پراختيا او سيمه‌ييزو اقتصادي فعاليتونو د پياوړتيا لپاره هم مهم رول لوبوي (Asian Development Bank [ADB], 2019 & Beck & Demirgüç-Kunt, 2006) سره له دې، SMEsعموماً له ګڼو جوړښتي محدوديتونو سره مخ وي، لکه مالي محدوديتونه، زيربنايي کمزورتياوې او بازار ته محدود لاسرسی، چې د هغوی د دوامدارې ودې پر بهير مستقيم اغېز کوي (World Bank, 2020).

په افغانستان کې، کوچني او منځني کاروبارونه د عايد د توليد يوه مهمه سرچينه جوړوي، خو د دې سکتور فعاليت تر ډېره د سوداګريزو او غيرتوليدي فعاليتونو پر محور ولاړ دی، چې دا حالت د ارزښت زياتونې او توليدي پراختيا ظرفيت محدودوي ( United Nations Development Programme [UNDP], 2021) په ځانګړې توګه، د مالي سرچينو محدود لاسرسی، د پورونو سخت شرايط او د غيررسمي اقتصاد پراخوالی د دې سکتور د ودې پر وړاندې مهم خنډونه ګڼل کېږي (Pashtoon, 2024) د غزني ولايت، د خپلو کرنيزو سرچينو، لاسي صنايعو او ځوان بشري ځواک له امله، د SME کتور د پراختيا لپاره د پام وړ ظرفيت لري. سره له دې، موجود شواهد ښيي چې د دې ولايت ډېری کاروبارونه د پرچون تجارت پر بنسټ فعاليت کوي، نه د توليدي او ارزښت زياتونکي فعاليتونو پر اساس، چې دا حالت د اقتصادي ودې کيفيت او دوام محدودوي. له بلې خوا، که څه هم مالي، زيربنايي او بازارموندنيزې ستونزې شتون لري، خو د کرنيزو ارزښت‌زنځيرونو پراختيا، لاسي صنايع او ډيجيټلي سوداګري د پام وړ بالفعل فرصتونه برابروي (World Bank, 2020؛ & Azimi, 2025) .

سره له دې چې په ملي او نړيواله کچه ګڼې څېړنې ترسره شوې دي، ډېری يې يا په عمومي کچه متمرکزې دي او يا هم د ځانګړو ډلو او سکتورونو محدود تحليل وړاندې کوي، او د غزني ولايت په کچه د SMEsد وضعيت يو جامع، تجربوي او تحليلي انځور لا هم نه دی وړاندې شوی. له همدې امله، لا هم دا پوښتنه پر ځای پاتې ده چې د دې ولايت د SME سکتور واقعي جوړښتي ځانګړتياوې څه دي، کومې ننګونې په عملي ډول اغېز لري، او کوم فرصتونه د پراختيا وړ دي.

د همدې علمي تشې د ډکولو په موخه، دا څېړنه هڅه کوي چې د غزني ولايت د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو وضعيت د جوړښتي ځانګړتياوو، اساسي ننګونو او بالفعل فرصتونو له نظره په يو منظم او تحليلي چوکاټ کې وڅېړي، ترڅو د دې سکتور په اړه يو روښانه، مستند او متوازن علمي انځور وړاندې شي.

سره له دې چې کوچني او منځني کاروبارونه (SMEs) د غزني ولايت د اقتصاد مهمه برخه جوړوي، شته وضعيت ښيي چې دا سکتور يو نامتوازن جوړښت لري، چې پکې د پرچون تجارت ونډه لوړه او

توليدي فعاليتونه محدود دي، او دا حالت د دوامدارۍ ودې او ارزښت‌افزايي پر بهير مستقيم اغېز کوي.
د دې سکتور د واقعي وضعيت درک يوازې د ننګونو په بيان نه شي کېدای، بلکې د جوړښتي ځانګړتياوو، موجودو محدوديتونو او شته فرصتونو يو منظم او ترکيبي تحليل ته اړتيا لري، څکه له يوې خوا مالي محدوديتونه، بازار ته محدود لاسرسی، زيربنايي ستونزې او د مديريتي مهارتونو کمښت د فعاليت پر بهير منفي اغېز لري، او له بلې خوا د کرنې سکتور، لاسي صنايع او ډيجيټلي سوداګري د پراختيا مهم بالفعل فرصتونه برابروي. سره له دې، لا هم دا روښانه نه ده چې دغه جوړښتي ځانګړتياوې څنګه له يادو ننګونو سره تړاو لري او په کومه کچه موجود فرصتونه د عملي پراختيا وړ دي، چې د همدې ناسم وضاحت له امله د دې سکتور د دقيق درک او د اغېزمنو پاليسيو د طرحې لپاره يو منظم تحليلي چوکاټ نه دی رامنځته شوی؛ نو څکه اړتيا ده چې دا سکتور په علمي او ميداني شواهدو ولاړ وڅېړل شي، ترڅو د هغه واقعي وضعيت په يو منسجم او همغږي چوکاټ کې په دقيقه توګه تشخيص او تحليل شي.
د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو (SMEs) اړوند پخوانۍ څېړنې ښيي چې دا سکتور په بېلابېلو جغرافيو کې له ورته فرصتونو او ننګونو سره مخ دی، خو د دغو مطالعاتو تمرکز، ځای او موندنې يو له بل څخه توپير لري. د نړيوالو مطالعاتو له مخې، په پرمختيايي هېوادونو کې SMEs تر ټولو لويه ستونزه مالي محدوديتونه او پورونو ته محدود لاسرسی دی، چې د پانګونې او پراختيا مخه نيسي (Beck & Demirgüç-Kunt, 2006؛ ADB, 2019). دغه څېړنې څرګندوي چې د مالي شموليت نشتوالی، د کوچنيو کاروبارونو د ودې يو بنسټيز خنډ دی.
په ملي کچه، د افغانستان اړوند څېړنې ښيي چې SMEs د مالي نظام د کمزورتيا، د پورونو سختو شرايطو او غيررسمي اقتصادي جوړښت له امله له جدي ستونزو سره مخ دي (UNDP, 2021). همدارنګه، (Pashtoon, 2024) په ځانګړي ډول د ښځينه کاروبارونو په اړه څرګندوي چې د مالي ملاتړ او مسلکي روزنې يوځای کول کولی شي د کاروبار د پرمختګ کچه لوړه کړي. دا موندنې په عمومي ډول د مالي او ظرفيتي محدوديتونو پر اهميت ټينګار کوي، خو د سيمې-محور تحليل کم دی.
د زيربناوو اړوند مطالعات، چې په پرمختيايي هېوادونو او افغانستان کې ترسره شوي، څرګندوي چې د برېښنا، سړکونو، ترانسپورټ او انټرنېټ کمزورتيا د SMEs د توليد، توزيع او بازارموندنې پر بهير مستقيم منفي اغېز لري (World Bank, 2020 & Makhdom et al., 2025) دغه څېړنې ښيي چې کمزورې زيربناوې د توليد لګښتونه لوړوي او بازار ته لاسرسی محدودوي، چې دا د کاروبارونو د سيالۍ وړتيا کموي.
د بازار ته د لاسرسي په برخه کې، څېړنې څرګندوي چې SMEs د بازارموندنې د عصري طريقو، مسلکي شبکو او سوداګريزو معلوماتو د کمښت له امله له ستونزو سره مخ دي (Esmat, 2025). دا محدوديتونه د محصولاتو د پلور، قيمت ټاکنې او صادراتو پر فرصتونو منفي اغېز لري، چې په پايله کې د کاروبارونو د ودې ظرفيت راکموي.

د بیروني چاپېریال اړوند مطالعات ښیي چې د SMEs د فعالیت او پرمختګ بهیر تر ډېره د هغو عواملو تر اغېز لاندې وي چې د کاروبار له کنټرول څخه بهر وي، لکه د بازار جوړښت، مالي سیستم ته لاسرسی، زیربنایي وضعیت او پالیسي چاپېریال .(ADB, 2019) دغه عوامل د کاروبارونو د فعالیت ساحه، د ودې فرصتونه او د سیالۍ وړتیا ټاکي.

همدارنګه، (Pashtoon, 2024) څرګندوي چې په هغو چاپېریالونو کې چې اقتصادي سیستمونه غیررسمي وي، د بازار محدودیتونه، د مالي ملاتړ کمښت او د بنسټیزو خدمتونو نشتوالی د کاروبارونو د پراختیا پر وړاندې مهم خنډونه جوړوي.

له بلې خوا، د فرصتونو اړوند څېړنې، چې په افغانستان او ورته اقتصادونو کې ترسره شوې، ښیي چې کرنیز ارزښت‌زنځیرونه، لاسي صنایع او ډیجیټلي سوداګري د SME سکتور لپاره مهم بالفعل فرصتونه بلل کېږي (World Bank , 2020). څرګندوي چې د کرنیزو محصولاتو پروسس کولی شي نوي بازارونه رامنځته کړي، په داسې حال کې چې (UNDP, 2021) د لاسي صنایعو د صادراتي ظرفیت یادونه کوي. همدارنګه، (Azimi , 2025) ښیي چې ډیجیټلي بازارموندنه او ای-کامرس کولی شي د SMEs لپاره د بازار پراختیا نوې لارې پرانیزي.

سره له دې، د پورته مطالعاتو عمومي ځانګړنه دا ده چې یا په نړیواله او ملي کچه متمرکز دي او یا هم د ځانګړو ډلو لکه: ښځینه کاروبارونو پر محدودو برخو تمرکز لري، خو د غزني ولایت په کچه د SMEs د ننګونو او فرصتونو جامع، تجربوي او سکتوري تحلیل لا هم نه دی وړاندې شوی. له همدې امله، دا څېړنه هڅه کوي چې د موجودو مطالعاتو د موندنو پر بنسټ، په غزني ولایت کې د SME سکتور ځانګړی وضعیت په روښانه او علمي ډول وڅېړي، ترڅو د دې سکتور د واقعي ننګونو او عملي فرصتونو ترمنځ اړیکه په مشخصه توګه تشخیص شي.

## ۲ـ مواد او مېتودونه

**د څېړنې طرحه(Research Design)** دا څېړنه د مخلوط مېتود (Mixed-Methods Approach) پر بنسټ ترسره شوې ده، چې پکې د کمي (Quantitative) او کیفي (Qualitative) طریقو څخه استفاده شوې ده.

د څېړنې موخه دا ده چې د غزني ولایت د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو (SMEs) ستونزې او فرصتونه په هراړخیز ډول وڅېړل شي. د څېړنې ماهیت تطبیقي (Applied Research) دی. د څېړنې وخت مقطعي (Cross-sectional) دی. د څېړنې ځای د افغانستان د غزني ولایت دی، او مواد پکې پوښتنلیکونه، مرکې او ثانوي اسناد شامل دي.

**د معلوماتو سرچینې(Data Sources)**

لومړني معلومات(Primary Data) لومړني معلومات د سروې پوښتنپاڼې له لارې راټول شوي دي.

پوښتنپاڼه:(Questionnaire) یوه وښتنپاڼه د SME مالکانو ته ورکړل شوې ترڅو د هغوی مالي ستونزې، بازار ته لاسرسی، زیربناوې، مدیریتي مهارتونه او د ودې فرصتونه وارزول شي.

محدودې مرکې (Semi-Structured Interviews) د پوښتنپاڼې د پایلو د لا ژور تحلیل لپاره له یو شمېر ګډونوالو سره محدودې مرکې ترسره شوې دي. دا مرکې د مخکې ټاکل شوو پوښتنو پر بنسټ وې، خو ګډونوالو ته د توضیح فرصت هم ورکړل شوی دی.

**دوهم لاس معلومات(Secondary Data)** دوهم لاس معلومات د نشر شوي اثارو مطالعاتو مېتود له لارې ترلاسه شوي دي، چې پکې د نړیوال بانک، UNDP، ADBاو علمي ژورنالونو راپورونه شامل دي.

د څېړنې ټولنه او بېلګه (Study Population and Sample) د څېړنې احصائیوي ټولنه د غزني ولایت هغه کوچني او منځني کاروبارونه دي چې په پرچون تجارت، کرنه او مالداري، خدماتي کاروبارونو او لاسي صنایع برخو کې فعالیت لري.

د بېلګه اخیستنې طریقه(Sampling Technique) په دې څېړنه کې د تصادفي بېلګه اخیستنې (Simple Random Sampling)طریقه کارول شوې ده.

د بېلګې اندازه د لاندې فورمول له مخې ټاکل شوې ده(2^(1 + N(e) / n = N :

چې پکې n = :د بېلګې اندازه N = د ټولنې اندازه e = د خطا اندازه

په مجموع کې د ۸۰ SME مالکانو څخه معلومات راټول شوي دي، چې دا د تحلیل لپاره مناسبه نمونه ګڼل کېږي.

**د معلوماتو تحلیل(Data Analysis)**

راټول شوي کمي معلومات د SPSSسافټویر له لارې تحلیل شوي دي. په تحلیل کې د تشریحي احصایې (Descriptive Statistics) طریقې کارول شوې دي، لکه:

- سلنې (Percentages)
- منځنۍ کچه (Mean)
- معیاري انحراف (Standard Deviation)
- جدولونه او ګرافونه

سربېره پر دې، د معلوماتو د ژور تحلیل او د متغیرونو ترمنځ د اړیکو د معلومولو لپاره د استنباطي احصایې (Inferential Statistics) له طریقو څخه هم استفاده شوې ده، لکه:

- د همبستګۍ تحلیل (Correlation Analysis)
- کای-سکویر ازموینه (Chi-square Test)

کیفي معلومات (مرکې) د موضوعي تحلیل (Thematic Analysis) او محتوایي تحلیل (Content Analysis)له لارې تحلیل شوي دي. په دې بهیر کې معلومات لومړی کوډ (Coding) شوي، وروسته

په اصلي موضوعاتو (Themes) او فرعي موضوعاتو (Sub-themes) کې تنظيم شوي دي، ترڅو د ګډونوالو نظريات او تجربې په ژوره توګه تفسير شي.

**د څېړنيزو وسايلو اعتبار او ثبات(Validity and Reliability)**

د دې لپاره چې د څېړنې موندنې علمي اعتبار ولري، د معلوماتو د راټولولو وسايل (پوښتنپاڼه او مرکې) د لاندې معيارونو له مخې ارزول شوي دي:

- محتوايي اعتبار:(Content Validity) پوښتنپاڼه د اړوندې ساحې د متخصصينو له خوا ارزول شوې، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ټول اړوند ابعاد پکې شامل دي .
- ظاهري اعتبار:(Face Validity) پوښتنې په ساده، واضح او د ګډونوالو د پوهې له سطحې سره سمې طرحه شوې دي .
- ساختماني اعتبار:(Construct Validity) پوښتنې د څېړنې له متغيرونو سره په منطقي ډول همغږې شوې دي .
- ثبات:(Reliability)

د پوښتنپاڼې داخلي ثبات د کرونباخ الفا (Cronbach's Alpha) له لارې اندازه شوی دی. د تحليل پايلې ښيي چې د الفا حقيقي ارزښت α (= 0.78) دی، چې دا د منلو وړ حد (α ≥ 0.70) څخه لوړ دی او د وسيلې مناسب ثبات څرګندوي. په عمومي ډول، که چېرې د کرونباخ الفا ارزښت له 0.70 څخه ټيټ وي، نو د وسيلې ثبات کمزوری ګڼل کېږي؛ که د 0.70 او 0.80 ترمنځ وي، د منلو وړ ثبات ښيي؛ او که له 0.80 څخه لوړ وي، نو د لوړ او قوي ثبات څرګندونه کوي.

- پايلټ مطالعه:(Pilot Testing) د اصلي سروې نه مخکې، پوښتنپاڼه په محدود شمېر (۱۰–۱۵ ګډونوالو) باندې ازمايل شوې، او د هغې پر بنسټ اړين اصلاحات پکې راوستل شوي دي .

**د اعتبار د لوړولو تخنيک(Triangulation)**

د څېړنې د موندنو د اعتبار د زياتوالي لپاره د درېګونې ارزونې (Methodological Triangulation) تخنيک کارول شوی، چې پکې د معلوماتو بېلابېلې سرچينې شاملې دي، لکه کمی معلومات، کيفي معلومات (مرکې) او ثانوي معلومات (نشر شوي مقالو). د دغو سرچينو يوځای کارول د پايلو د متقابل تاييد او د څېړنې د اعتبار د پياوړتيا سبب ګرځيدلی. دا کار د دې سبب شوی چې پايلې له بېلابېلو سرچينو څخه تاييد او پياوړې شي.

**اخلاقي اصول(Ethical Considerations)**

- په دې څېړنه کې د څېړنيزو اخلاقو لاندې اصول مراعات شوي دي:
- خبره شوې رضا:(Informed Consent) د ګډونوالو څخه د ګډون مخکې بشپړه رضا اخيستل شوې ده .

- محرميت:(Confidentiality)
  د ګډونوالو شخصي معلومات محرم ساتل شوي دي .
- نامعلوم هويت:(Anonymity) د ګډونوالو پېژندنه نه ده افشا شوې .

د معلوماتو مسؤلانه کارونه: ټول معلومات يوازې د علمي او څېړنيزو موخو لپاره کارول شوي دي .

**۳ـ موندني**

دا څېړنه د غزني ولايت د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو (SMEs) د ننګونو او فرصتونو د ارزونې په موخه ترسره شوې ده. معلومات د ۲۰۲۵ کال په جريان کې (مارچ-جون) پورې د ۸۰ کاروبارونو څخه راټول شوي، او د مالي محدوديتونو، بازار ته لاسرسي، زيربنايي ستونزو، مديريتي مهارتونو، د ودې فرصتونو او پاليسی ملاتړ تحليل پرې شوی دی.

۱-شکل، د کارکوونکو شمېر:




- ۷۵٪ کاروبارونه يوازې ۳–۵ کارکوونکي لري، او پاتې ۲۵٪ يوازې ۱–۲ کارکوونکي لري .
  د نړيوالو معيارونو مطابق، دا کاروبارونه ټول Micro Business دي (1–10 کارکوونکي)، نه
- Medium Business 50+ کارکوونکي.

نو پايله دا ده چې د څېړنې لاندې کاروبارونه په حقيقت کې د منځنۍ کچې (Medium) نه، بلکې د کوچنۍ کچې (Micro) دي .

۲-شکل، د کاروبار ډول:



- ۸۱.۲۵٪ پرچون تجارت لري، چې یوازې د توکو تبادله ده او تولیدي ارزښت نه زیاتوي .

دا ښيي چې د غزني ولایت اقتصاد تر ډېره تجارتي/سوداګریز فعالیتونو پر محور ولاړ دی، نه د تولیدي او ارزښت زیاتوني فعالیتونو پر اساس . په دې اساس، د SME سکتور د دوامدارې ودې لپاره، باید په تولیدي او ارزښت زیاتونکي فعالیتونو تمرکز وشي .

۳-شکل، د فعالیت موده:




- ۸۱.۲۵٪ کاروبارونه یوازې ۱–۳ کاله فعالیت لري، چې دا ښيي د ودې په لومړیو پړاوونو کې دي .
- دا هم د بازار د بې‌ثباتۍ، مالي محدودیتونو او زیربنایي ستونزو ښکارندویي کوي چې کاروبارونه په اوږدمهاله توګه نه پاتې کېږي.

پورته موندنو ترمنځ منطقي اړیکه شتون لري:

محدود بازار ته لاسرسی ⟵ د تقاضا کمښت ⟵ د بازارموندنې کمزوري ⟵ د قیمتونو ټيټوالی ⟵ د عاید او ودې محدودیت

نو، دا معلومات یوازې تشریحي نه دي، بلکې یو منظم تحلیلي چوکاټ وړاندې کوي چې ښيي د بازار اړوند ستونزې د SME سکتور د کمزورې ودې اساسي لاملونه دي. دغه پایلې د مرکو له کیفي معلوماتو سره هم همغږې دي، چې پکې ګډونوالو د بازارموندنې د کمزورتیا، د مشتریانو د کمښت او د سیمه‌ییزو بازارونو محدودیت ته اشاره کړې ده.

په ټوله کې، دا تحلیل څرګندوي چې د بازار ته لاسرسي ستونزې یوازې یو جلا فکتور نه دی، بلکې د نورو اقتصادي ستونزو (لکه عاید، سیالي او بقا) سره مستقیم او متقابل اړیکه لري، چې دا د SME سکتور د پالیسي او پراختیایي مداخلې لپاره یو مهم تمرکز جوړوي.

۱ـجدول بازار ته لاسرسی (Market Access)

| فکتورونه | 1سخت مخالف | 2مخالف | 3بې طرفه | 4موافق | 5سخت موافق |
|---|---|---|---|---|---|
| زما کاروبار د غزني څخه بهر بازارونو ته لاسرسی نه | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 50 (62.5%) |
| د محصولاتو د پلور لپاره مناسب بازارونه | 0 (0%) | 20 (25%) | 0 (0%) | 50 (62.5%) | 10 (12.5%) |
| د مشتریانو غوښتنه د اقتصادي وضعیت له امله کمه | 0 (0%) | 20 (25%) | 0 (0%) | 50 (62.5%) | 10 (12.5%) |
| زه د بازارموندنې عصري لارې نه کاروم | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 50 (62.5%) |
| د محصول قیمتونه د سیالۍ له امله ټیټ دي | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 50 (62.5%) |

د جدول (۱) معلومات ښيي چې:

- ۶۲.۵٪ گډونوالو په کلکه موافقه کړې چې د دوی کاروبار له غزني څخه بهر بازارونو ته لاسرسی نه لري، په داسې حال کې چې ۱۲.۵٪ موافق، ۱۲.۵٪ بې‌طرفه او ۱۲.۵٪ مخالف دي .
- د محصولاتو د پلور لپاره د مناسب بازار د شتون په اړه، ۶۲.۵٪ گډونوالو موافقه کړې او ۱۲.۵٪ په کلکه موافق دي، په داسې حال کې چې ۲۵٪ مخالف دي .
- د مشتریانو د غوښتنې په اړه، ۶۲.۵٪ موافق او ۱۲.۵٪ په کلکه موافق دي چې غوښتنه کمه شوې ده، او ۲۵٪ مخالف نظر لري .
- د بازارموندنې د عصري طریقو د کارونې په برخه کې، ۶۲.۵٪ گډونوالو په کلکه موافقه کړې چې دوی دا طریقې نه کاروي، ۱۲.۵٪ موافق، ۱۲.۵٪ بې‌طرفه او ۱۲.۵٪ مخالف دي .

د پورته موندنو ترمنځ یو منظم او منطقي تړاو موجود دی، چې د بازار اړوند ستونزې په یو علت-معلول چوکاټ کې تشریح کوي: محدود بازار ته لاسرسی ⟶ د مناسب بازار نشتوالی ⟶ د تقاضا کمښت ⟶ د بازارموندنې کمزوري ⟶ د قیمتونو فشار ⟶ د عاید او ودې محدودیت

نو څکه، دا معلومات یوازې تشریحي نه دي، بلکې یو واضح څېړنیز منطق تعقیبوي او د SMEسکتور د بازار اړوند ستونزو ترمنځ متقابل اړیکه څرګندوي. دغه موندنې د مرکو له کیفي معلوماتو سره هم همغږې دي، چې پکې ګډونوالو د بازار محدودیت، د مشتریانو کمښت او د بازارموندنې د عصري طریقو نشتوالی د خپلو کاروبارونو اساسي ستونزې بللې دي. په دې توګه، جدول (۱) د څېړنې له موضوع سره مستقیم تړاو لري او د SMEسکتور د کمزورۍ ودې د تحلیل لپاره یو بنسټیز تحلیلي چوکاټ برابروي.Bottom of Form

۲ -جدول: زیربناوې او چاپېریالي ستونزې(Infrastructure Issues)

| 5سخت موافق | 4موافق | 3بې طرفه | 2مخالف | 1سخت مخالف | فکتورونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 50 (62.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 0 (0%) | د برېښنا نشتوالی زما کاروبار اغېزمنوي |
| 15 (18.75%) | 15 (18.75%) | 30 (37.5%) | 20 (25%) | 0 (0%) | خراب سړکونه د توکو انتقال ستونزمن کوي |
| 10 (12.5%) | 30 (37.5%) | 30 (37.5%) | 10 (12.5%) | 0 (0%) | انټرنېټ او ټکنالوژۍ ته محدود لاسرسی لرم |
| 65 (81.25%) | 15 (18.75%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) | د امنیتي وضعیت بدلون پر کاروبار منفي اغېز لري |

۲ -جدول: زیربناوې او چاپېریالي ستونزې(Infrastructure Issues) : د زیربناوو او چاپېریالي ستونزو اړوند معلومات ښیي چې د برېښنا کمښت د کاروبارونو پر فعالیت مستقیم منفي اغېز لري، څکه چې 62.5% ګډونوالو په کلکه موافقه کړې چې د برېښنا نشتوالی د دوی کاروبار اغېزمنوي. همدارنګه، د خرابو سړکونو شتون د توکو انتقال ستونزمن کړی، که څه هم د ګډونوالو نظرونه پکې تر یوې کچې متفاوت دي.

سربېره پر دې، انټرنېټ او ټکنالوژۍ ته محدود لاسرسی د سوداګرۍ د عصري کېدو پر وړاندې یو مهم خنډ بلل کېږي، څکه 37.5% ګډونوال موافق او 12.5% په کلکه موافق دي. تر ټولو مهمه موندنه دا ده چې 81.25% ګډونوالو په کلکه تایید کړې چې د امنیتي وضعیت بدلون د کاروبار پر فعالیت منفي اغېز لري، چې دا د نورو فکتورونو په پرتله تر ټولو لوړه کچه ده.

۳ -جدول: مديريتي او مسلکي مهارتونه(Business Skills)

| فکتورونه | 1سخت مخالف | 2مخالف | 3بي طرفه | 4موافق | 5سخت موافق |
|---|---|---|---|---|---|
| زه د سوداګرۍ د مدیریت لپاره روزنې ته اړتیا لرم | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 50 (62.5%) |
| د کاروبار پلان جوړول زما لپاره ستونزمن دي | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 10 (12.5%) | 50 (62.5%) |
| زه د نوښت او پراختیا لپاره کافي تجربه نه لرم | 45 (56.25%) | 35 (43.75%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) |
| د ښځو او ځوانانو لپاره د کاروبار فرصتونه محدود دي | 0 (0%) | 15 (18.75%) | 10 (12.5%) | 15 (18.75%) | 40 (50%) |

۳ -جدول: مديريتي او مسلکي مهارتونه(Business Skills) : د مديريتي او مسلکي مهارتونو اړوند پايلې څرګندوي چې د SMEs ډېرى مالکين د سوداګرۍ د مديريت، پلان جوړونې او مسلکي روزنې اړتيا لري. په ځانګړې توګه:

- 62.5%ګډونوالو په کلکه موافقه کړې چې دوی د سوداګرۍ د مديريت لپاره روزنې ته اړتيا لري .
- د کاروبار پلان جوړول هم د ګډونوالو لپاره ستونزمن ګڼل شوی، چې 62.5% په کلکه موافق دي .

خو په نوښت او پراختيا کې د تجربې کمښت په اړه پايلې متفاوت دي: 56.25% ګډونوالو په کلکه مخالفت کړی چې دوی کافي تجربه نه لري، چې دا ښيي ځينې کاروبارونه ځانونه د نوښت او پرمختګ توانمند ګڼي. سربېره پر دې، د ښځو او ځوانانو لپاره د کاروباري فرصتونو محدوديت د ګډونوالو له نظره يوه مهمه ټولنيزه ستونزه ده، ځکه 50% په کلکه موافق دي چې فرصتونه محدود دي.

د نړيوالو څېړنو سره سم، د ADB (2019)راپور څرګندوي چې د SMEs بريالیتوب يوازې په مالي پانګه نه، بلکې په مديريتي ظرفيت، حسابدارۍ، او بازارموندنې مهارتونو پورې هم تړلی دی. په غزني کې د ښځو او ځوانانو لپاره د فرصتونو محدوديت د ټولنيزو او اقتصادي خنډونو يوه څرګنده نښه ده.

۴ -جدول: فرصتونه او پرمختگ (Opportunities & Growth)

| مطرح شوي پوښتنې | 1سخت مخالف | 2 مخالف | 3 بې‌طرفه | 4موافق | 5سخت موافق |
|---|---|---|---|---|---|
| غزني د کرنيزو کاروبارونو لپاره ښه فرصتونه لري | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 70 (87.5%) |
| لاسي صنايع ملي او نړيوال بازار ته د انتقال وړ دي؟ | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 60 (75%) | 20 (25%) |
| د ځوانانو نوښتګر کاروبارونه د اقتصاد لپاره ګټور دي | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 70 (87.5%) |
| که پورونه او روزنه زياته شي، زما کاروبار به پراخ شي | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 70 (87.5%) |
| د ډيجيټلي سوداګرۍ (آنلاين پلور) امکانات زياتېدای شي | 0 (0%) | 0 (0%) | 0 (0%) | 10 (12.5%) | 70 (87.5%) |

**۴ -جدول: فرصتونه او پرمختگ** : د فرصتونو او پرمختګ اړوند پايلې ډېرې مثبتې دي:

- ګډونوال په پراخه کچه باور لري چې غزني د کرنيزو کاروبارونو لپاره ښه فرصتونه لري (87.5% په کلکه موافق) .
- لاسي صنايع ملي او نړيوال بازار ته د انتقال وړ ګڼل شوي دي (75% موافق) .
- د ځوانانو نوښتګر کاروبارونه د اقتصاد لپاره ګټور بلل شوي (87.5% سخت موافق) .
- ډېرى ګډونوال ټينګار کوي چې که پورونه او روزنه زياته شي، نو د دوی کاروبار به پراخ شي (87.5% سخت موافق) .
- د ډيجيټلي سوداګرۍ امکانات هم د ودې وړ ګڼل شوي (87.5% سخت موافق) .

د څېړنې د نمونې (پوښتنپاڼې او مرکو) پر اساس، لاندې موندنې څرګندې شوې:
کرنيز ارزښت‌زنځيرونه: ګډونوال باور لري چې د کرنيزو توليداتو په ارزښت‌زنځيرونو کې پانګونه د SMEsد ودې لپاره مهم فرصت دی. دا پايله د نړيوالو څېړنو سره همغږي لري؛ لکه World Bank (2020)چې څرګندوي، کرنيز ارزښت‌زنځيرونه د SMEs د پراختيا لپاره حياتي فرصتونه برابروي .
دوديز محصولات او لاسي صنايع: ګډونوالو يادونه وکړه چې دوديز محصولات او لاسي صنايع کولی شي د عايد مهمه سرچينه شي، په ځانګړي ډول د صادراتو له لارې. دا د UNDP (2021) څېړنې سره همغږي لري چې ښيي دغه سکتور د عايد د تنوع او اقتصادي فرصتونو لپاره مهم دی .
ډيجيټلي سوداګري: ګډونوال باور لري چې د ډيجيټلي سوداګرۍ امکانات د SME سکتور لپاره وده رامنځته کولی شي، په ځانګړي ډول په بازارموندنه او محصولاتو ته لاسرسي کې. دا موندنه د

Azimi (2025) څېړنې سره همغږي لري، کومه چې څرګندوي، ډیجیټلي بازارموندنه کولی شي د SME سکتور لپاره نوې لارې پرانیزي او اقتصادي فرصتونه پراخ کړي .

عمومي تحلیل: د دې څېړنې میداني معلومات د نړیوالو څېړنو نتایجو سره په توافق کې دي، چې څرګندوي د SMEs ودې لپاره کرنیز ارزښت‌زنځیرونه، دودیز محصولات، لاسي صنایع او ډیجیټلي سوداګري مهم فرصتونه برابروي .

په ځانګړي ډول، دا ښیي چې د غزني ولایت SMEs اوسنی فعالیت تر ډېره د سوداګرۍ پر محور دی، خو د تولیدي او ارزښت زیاتونکو فرصتونو پراختیا د دوامدارې ودې لپاره حیاتي ده.

## ۴- مناقشه

د څېړنې پایلې څرګندوي چې SMEs د غزني ولایت په اقتصاد کې د کارموندنې، عاید لوړولو، او اقتصادي ودې لپاره مهم رول لري، خو د ګڼو محدودیتونو له امله پرمختګ یې محدود پاتې دی:

مالي محدودیتونه :د بانکي پورونو کم لاسرسی، د بازارونو محدودیت، او د عصري بازارموندنې د سیستم نشتوالی د SMEs د پراختیا تر ټولو ستر خنډونه دي. دا پایله د ADB (2019) او World Bank (2020) څېړنو سره همغږي لري، چې ښیي مالي ملاتړ او بازار ته لاسرسی د SMEs د بریالیتوب بنسټیز عناصر دي . همدارنګه، د OSCE Academy (2017) راپور ښیي چې په افغانستان کې امنیتي بې‌ثباتي د خصوصي سکتور پانګونه او فعالیت محدودوي. نړیوالې څېړنې ښیي چې که ښځو ته مالي ملاتړ او مسلکي روزنه ورکړل شي، نو SME سکتور کې د پام وړ پرمختګ رامنځته کېږي.(Pashtoon, 2024)

زیربنایي محدودیتونه :د برېښنا نشتوالی، خراب سړکونه، د انټرنېټ محدود لاسرسی، او امنیتي بې‌ثباتي د تولید، توزیع او بازارموندنې په وړاندې لوی خنډونه جوړوي. دلته یوه علمي تضاد څرګند دی: د برېښنا نشتوالی د برښنایي سوداګرۍ ودې ته خنډ دی، خو ګډونوال باور لري چې ډیجیټلي سوداګرۍ لا پراختیا مومي. دا ښیي چې د برښنا کمښت د ځینو کاروبارونو د فعالیت پر محدودیت اغېز لري، خو د موبایل انټرنېټ او بدیل انرژي سرچینې (لکه سولر) کولی شي د ډیجیټلي سوداګرۍ امکانات پراخه کړي .

ټولنیزې او مسلکي محدودیتونه :ځوانان او ښځې د سوداګرۍ په برخه کې د فرصتونو محدودیت سره مخ دي. ګډونوالو ټینګار کړی چې د روزنې، مسلکي مهارتونو او نوښتګر فعالیتونو ملاتړ اړین دی. دا پایله د Pashtoon (2024) او OSCE Academy (2017) څېړنو سره همغږي لري .

فرصتونه: سره له ننګونو، غزني د SMEs لپاره مهم فرصتونه لري. د کرنې سکتور، لاسي صنایع، ځوانانو نوښتګر کاروبارونه، او ډیجیټلي سوداګرۍ پراختیا د اقتصادي ودې قوي بنسټونه ګڼل کېږي. د کرنیزو تولیداتو پروسس او دودیزو صنایعو صادرات د نوي بازارونو پرانېستلو لپاره مهم فرصتونه وړاندې کوي (World Bank, 2020; UNDP, 2021).

## ۵- پایله اخیستنه

دا څېړنه د غزني ولایت د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو SMEs د واقعي وضعیت، ننګونو او فرصتونو د ارزونې لپاره ترسره شوې ده. د سروې، مرکې او ثانوي معلوماتو له لارې د ۸۰ کاروبارونو معلومات راټول

او د تشریحي احصایې او تحلیل په وسیله ارزول شوي دي. موندنې ښيي چې ډېرى SMEs په غزني کې د پرچون کاروبار پر محور فعالیت کوي (۸۱.۲۵٪)، په داسې حال کې چې تولیدي او ارزښت زیاتونې فعالیتونه محدود پاتې دي. همدارنګه، ډېرى کاروبارونه د Micro Business په کټګورۍ کې راځي (۱-۵ کارکوونکي) او یوازې لږ شمېر یې د Small یا Medium معیارونه پوره کوي. د څېړنې له مخې، مالي محدودیتونه او د پورونو محدود لاسرسی د ودې د پراختیا پر وړاندې مهم خنډونه دي، سربېره پر دې، د بازار محدود لاسرسی او د سوداګریزو اړیکو کمښت د عاید د زیاتوالي فرصتونه محدودوي. زیربنایي ستونزې، امنیتي بې‌ثباتي او د مدیریتي مهارتونو کمښت هم د دوامدارې ودې مخه نیسي. سره له دې، موجود فرصتونه لکه کرنیز ارزښت زنځیرونه، دودیز محصولات او لاسي صنایع، او همدارنګه ډیجیټلي سوداګري د SMEs د ودې لپاره مهم ظرفیتونه برابروي.

پایلې ښيي چې د غزني ولایت SMEs اوسنی وضعیت د دوامدارې ودې، تولیدي پراختیا او ارزښت زیاتونې له پلوه له محدودیتونو سره مخ دی، او اصلي ستونزې یې د مالي، بازار، زیربنا او مدیریتي برخو پورې تړاو لري. سره له دې، د یادو فرصتونو اغېزمنه ګټه اخیستنه، د مناسب ملاتړ، اغېزمنو پالیسۍ، روزنې او مالي شمولیت له لارې، کولی شي د اقتصادي ودې او د عاید زیاتوالي لپاره زمینه برابره کړي. همدارنګه، حکومت، پرمختیایي بنسټونه او خصوصي سکتور باید د SMEs د ودې لپاره متمرکز او هدفمند اقدامات ترسره کړي، په ځانګړي ډول د مالي ملاتړ میکانیزمونو پیاوړتیا، بازار ته د لاسرسي پراختیا، د زیربناوو ښه والی او د مدیریتي مهارتونو لوړول باید لومړیتوب وګرځي، څو SMEs وکولای شي د غزني ولایت اقتصادي تنوع، د عاید زیاتوالی او د کارموندنې پراختیا ته وده ورکړي.

### ٦ـ ماخذونه


Ahmadzai, M. (2025). Importance and challenges of small and medium businesses in Afghanistan. *Journal of Social Sciences, Kabul University*. https://doi.org/10.62810/jss.v6i1.85

Asian Development Bank. (2019). *Asian development outlook 2019: Strengthening small and medium-sized enterprises in Asia*. Asian Development Bank. https://doi.org/10.22617/FLS190389-3

Azimi, R. (2025). *Digitalization of women-led SMEs in Afghanistan with focus on e-commerce: Challenges and opportunities* [Unpublished master’s thesis]. Leipzig University.

Beck, T., & Demirgüç-Kunt, A. (2006). Small and medium-size enterprises: Access to finance as a growth constraint. *Journal of*

*Banking & Finance*, *30*(11), 2931–2943. https://doi.org/10.1016/j.jbankfin.2006.05.009

International Journal for Multidisciplinary Research. (2026). Barriers to SME finance in Afghanistan. *IJFMR Journal*, *8*(1), 1–12. https://www.ijfmr.com/papers/2026/1/65689.pdf

Jamali, A. J., Lalzai, F., & Jamali, N. J. (2023). Marketing constraints and price perspectives for onion in Khost Province, Afghanistan. *Journal for Research in Applied Sciences and Biotechnology*, *2*(4), 1–7.

Makhdom, M. A., Ramin, A., Intezar, A., & Adib, H. (2025). Identifying barriers to the development of SMEs in Afghanistan. *Nangarhar University Social Science Journal*, *4*(2), 45–60.

Muqamzai, R. (2022). Small and medium enterprises: Introduction, challenges, and current needs. *Ketabton Article Bank*. https://ketabton.com/articles/1046

OSCE Academy. (2017). *Challenges and opportunities of small and medium enterprises operations in Afghanistan*. OSCE Academy Research Paper. https://mt.osce-academy.kg/handle/123456789/77

Pashtoon, R. (2024). Access to microcredit and profit growth among women-run SMEs in Afghanistan. *Arghand Journal of Social Sciences*, *3*(1), 22–35.

United Nations Development Programme. (2021). *Afghanistan development and economic update: Private sector and SMEs*. UNDP.

World Bank. (2020). *Small and medium enterprises (SMEs) finance: Improving access to finance for SMEs*. World Bank Group. https://doi.org/10.1596/978-1-4648-1444-4

# The Role of Human Resource Management in Economic Development: A Literature Review

Hafizullah Hakimi

MBA, Assistant Professor at BBA Deportment, Muslim University, Ghazni, Afghanistan

E-mail: hafizullah.eh@gmail.com

## ABSTRACT

Economic development is profoundly shaped by multiple factors. Within this complex matrix, the pivotal role of human capital, especially through adept Human Resource Management (HRM), stands out. This study employs a narrative literature review and comparative thematic analysis, synthesizing historical perspectives and contemporary practices to examine the role of Human Resource Management in economic development. By scrutinizing various scholarly articles, historical records, and illustrative case studies, the inquiry maps the growth trajectory of HRM within the economic narrative. It emphasizes HR's pivotal function in bolstering productivity, igniting innovation, and ensuring persistent growth. The findings indicate that effective HRM practices explain up to 25% of organizational performance variance, investment in human capital drives sustainable economic growth, and HRM challenges differ between developed and developing economies, requiring adaptive strategies. The study employs comparative scrutiny to spotlight recurring patterns and discern differences, furnishing a comprehensive viewpoint for enterprises and legislative stakeholders. Moreover, the dynamic nature of HRM in shaping organizational culture, determining workforce morale, and influencing global business strategies is evaluated. In a rapidly changing economic landscape, where agility and adaptability are paramount, HR's role in talent acquisition, retention, and development is indispensable. The novelty of this paper lies in its integrative approach, combining historical evolution and contemporary challenges of HRM, and linking them to economic development within the framework of globalization and the Sustainable Development Goals. The research thus reiterates the indispensable nature of HRM in steering and sustaining economic prosperity.

**Keywords:** Human resource, HRM, Economic Development, Human Capital, Productivity, Comparative Analysis, Historical Evolution, Policy Implications.

## 1- INTRODUCTION

Economic development stands as a testament to the progress and prosperity of nations. Defined broadly as the enhancement of living standards and the reduction of poverty, its drivers are numerous and multi-dimensional. Within this intricate web, the role of human resources especially its professional management has emerged as both a catalyst and a cornerstone. The nexus between professional Human Resource Management (HRM) and economic development, although evident in practice, remains an area warranting comprehensive exploration in academia.

Human resources, often deemed the most valuable asset of an organization, play a pivotal role in driving productivity, innovation, and overall organizational success. Their management, training, retention, and growth can translate into tangible economic outcomes. Thus, a well-structured HRM system becomes paramount for nations aiming for consistent and sustainable economic progress.

In the realm of economics, the emphasis traditionally lay on factors such as capital, technology, and trade. However, with the shifting dynamics of global economies and the rise of knowledge-based industries, human capital has ascended to the forefront. Organizations and nations alike have realized that the path to sustained economic growth often runs through the corridors of effective human resource departments.

This research paper, rooted in extensive literature, embarks on a journey to understand the symbiotic relationship between HRM and economic development. It seeks to answer pressing questions: How has HRM evolved in its significance for economies? What evidences from history and contemporary practices highlight its role in economic advancement? And, what can businesses and policymakers infer from the amalgam of knowledge to steer future growth?

